داباسین سپیدې

لیکوال

سلیمان لایق

Ketabton.com

دافغانستان دعلومو اکاډمي

د پښتو ځېړنو بین المللي مرکز

۱۳۶۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه : که څېړونکې د لایق د دغو خپرو شویو آثارو او د هغوی د پښتوانی ځانګړی چاپ تر منځه څه توپیر وموممي ـ علت یې د لیکوال نوی کتنه او سمون دی .

خپرونکی

مهتمم:	نعمت الله اندړ
د چاپ شمیر :	۵۰۰۰
د چاپ ځای:	دولتی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لنډه یادونه

د پښتو څېړنو بین المللی مرکز د ستر انقلابي شاعر او لیکوال د دغې مجموعې په خپرولو سره د پښتو د ادب نړۍ ته یو نوی انقلابي سوغات وړاندې کوي .

تر اوسه مشهوره وه چې سلیمان لایق د شعر د ډگر اتل دی. رښتیا هم ده چې د چونغر ، یادونه او درمندونه، کېږدۍ؛ بادبان او نورو نه هېرېدونکو انقلابي منظومو آثارو په ایجاد سره سلېمان لایق زموږ په انقلابي ټولنه کې د شعر د آسمان ځلانده لمر ، د اجتماعي ریالېزم مؤسس او د دغه تاوده سنگر لومړی سرتېری دی . خو خبره یوازې د شعر په چاپیریال کې نه ده ، دغې سپېځلې ادبي مبارزې د ده د خواږه نثر په ډېرو ښکلو لړیو کې هم خپل قوت ښکاره کړی چې دلته یې د ادب مینانو ته وړاندې کوو .

د شلمې پېړۍ د سترو انقلابي غورځنگونو او اوړتونو سمندر ستر موجونه له ځانه سره راوړل چې د ادب نړۍ ته یې هم سرکشې څپې ورسېدې. د دغو سرکشو ځپو په غېږ کې د ادب یو انقلابي میتود، یعني د اجتماعي ریالېزم میتود هم منځ ته راغی چې د طبقاتي نړۍ د انتقادي ریالېزم د میتود ځای یې ونیو .

زموږ په فیودالي ټولنه کې د ظاهرشاهي او داودشاهي سانسورچیانو دغو سرکشو څپو ته د شگو بندونه واچول. دا بندونه تر دې اندازې وو چې د سلیمان لایق په نامه ښځې جائزو موضوعاتو هم د خپرېدلو اجازه نه لرله او ډېرې خپرونې به کله د سپنتا او کله د زرغون شرنوال، خاټول او په نورو مستعارو نومونو خپرېدلې.

د ثور انقلاب دغه د شگو بندونه مات کړل او دا دی د لایق د منثور ادب او لنډو داستانونو وړه مجموعه گرانو هېوادوالو ته وړاندې کوو .

دا مجموعه هم د اجتماعي ریالېزم د میتود یو په زړه پورې اثر دی چې د هر داستان په مرکز کې یې د ټولنې د استثمارگرو له نظره لوېدلی، ظاهرا وړوکی، خو په حقیقف کې ستر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوونکي انسان ځای لري. مرور شپون، د کارخانې جشن، خړکی ماشین؛ نوی گردان او داسې نورېې ښی بیلگې دی.

لایق یوازې انقلابي شاعر نه، بلکی د انقلابي نثر لیکوال هم دی. که د ده هر انقلابي شعر د هر انقلابي زلمي لیکوال لپاره د انقلابي درس حیثیت لری، همدغه شان دده هر انقلابي نثر د انقلاب مین لپاره مکتب دی.

تل دی وی دغه مدرسې او دغه مکتبونه

دوست شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسات

ستا او ښکې اوس بې وخته باران ته ورته دي. زه بيا ستاسې کبرديو ته نه درځم؛
زما لمن خوشې کړه، په ما پسې نوره مه گرزه، زارې مه راته کوه او مه راته ژاړه!
بيا به ستاسې د کلي نوم وانخلم او په دې لارو به بيا درنشم؛
شپې او ورځې به يو کړم. په بېړه به له غرو رغو څخه واوړم. او هيڅکله به بيا بېرته راونه گورم؛
داسې منډې به ووهم لکه عمر چې يې وهي او داسې ژر به له ستر گو ووزم لکه ځواني چې وزي؛ داسې ځاى ته به لاړ شم چې ستا سي کبرډی هلته نه وي دربدلې.
داسې لارې به پر يکړم چې ستاسې او ښان نشي پې تلاى او په داسې غروکې به ځاى ونيسم چې ستاسې د مېنو بادونه هلته لاره نلري؛
زړه به مجبور کړم چې تا هېره کړي او ستر گې به وتړم چې بيا هيڅکله زما ماشوم زړه ونه غولوي؛
له وفا نه به منکر شم او مينه به وشړم؛ حيلې ترانې به وسوځوم او له خلکو به گوښې شم؛
هالته لرى به د لوړو غرو د پا سه ټول عمر له سپېدو تر ماښامه وخاندم. وبه خاندم چې تا هېره کړم او پسې خاندم به چې ځان هم راڅخه هېر شي. تر هغو به وخاندم چې طبعيت په تا وخندوم او تر هغو به ليونتوب کوم چې تا هم د ځان په څېر ليونۍ کړم؛
اې اوښا نو وتښتئ، اې کبرديو وسوځئ او اې قهرجنو توفا نونو سر اوچت کړئ او زما د نيمگړې ځوانۍ او ناکامو هيلو کسات واخلئ.

۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپېلۍ

اې ځوانه شپونکيه ! خپله شپېلۍ وغږوه او ما د هغې په ناپايه څپو کې د دې ستومانه ژوند له غمونو څخه وباسه .

کله چې زه نه یم او زما په قبر باندې ځوځان او وحشي بوټي شنه شوي وي هره نغمه چې د شپېلۍ له ستونې راوزي خامخا به زما د هېر شويو دردونو بشپړه څېره پکې انځور شوې وي .

کله چې زما قلم او ژبه زما د رنګينو خيالونو او انديښنو له تعبيرولو څخه پاتې شي زه به د خپلو انديښنو د بيا ن لپاره خپل دوستا ن د فرخا ر غرونو ته راوبولم او هلته به د تاوراتاو درو په غېږ کې له ځوان شپونکي څخه وغواړم چې د لرګي شپېلۍ ورواخلي او د شپنو نغمې هغوی ته ورواوروی او هله چې د شپېلۍ زړه را ښکونکې څپې زما د نا سپړل شويو سندرو نغمې وغوړوي او له نا ويل شويو دردونو څخه پرده پورته کړي ، زه به هماغه وخت خپلې اوښکې پاکې کړم او دوی ته به ووايم چې دادی زما د ناکرار و انديښنو ترجمان .

هيڅ سا ز د شپېلۍ خوند او کيفيت نلري. نور سازونه مستي، خوشالي او وجد راولي ، مګر زموږ د شپنو د شپېلۍ نغمې يو دا سې اعجا ز لري چې حساس انسان لاس نيولی د بزګرانو جونګړو او د شپنو شپولو ته بيايي او هلته ناکام عسقونه او بې دوا رنځونه ورښيي.

کله چې زه په نيمو شپو کې د لارويو کاروانيانو نغمې د شپېلۍ په نارو کې اورم بې اختياره مې د خپل ستر اولس د تاريخ هغه ترخې پيښې تصورته راشي چې له وينو، چيغو او کړاوونو څخه ډکې دي .

شپېلۍ د پښتون ملت د زيارايستونکو د اوږدو بدمرغيو او چيغو تاريخ دی. څوک چې د دوی دشپېلۍ له دردوونکو نغمو سره نه وي ا شنا ګواکې د پښتنو خلکو له تاريخ سره نه دی ا شنا شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د پردیسو او ښبنو په تودو زړونو کې بې تعبیره دردونه وخوځېږي؛

کله چې د سترو ستومانه بزګرانو په ککرو کې د ناروزل شویو استعدادونو څرېکه سر راپورته کړي، او کله چې د خوار شپانه شړل شوې هیلې سرواخلي بیا نو شپېلۍ ته ورتښتي او خپل هر څه د هغې نغموته ورسپاري.

ډېر کلونه به تېر شي، ډېر بدلونونه به راشي، ډېر به وخاندي او ډېر به وژاړي، مګر داسې ورځ به هېڅکله رانشي چې د هندوکش وګړي شپېلۍ ونه غږوي او د هغې په سوځوونکو او غمجنو څپو کې د تېرو او هېرو نسلونو د ساړه او نامیندژوند خاطرې یادې نکړي.

وغږ.وه، وزغږ.وه!

اې ځوانه شپونکیه! خپله شپېلۍ وغږ.وه او ما د هغې په ناپایه نغمو کې د دې شرموونکې ژوند له غمونو څخه یوه شېبه وباسه!

ثور-۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې

زما د سلګيو کاروان مه بندوئ، پرې مې ږدئ چې خپل زاړه دردونه د اوښکو له څپو سره ولېږدوم .

نور د خندا ملګري دي او زه د ژړا. ژړا د وږيو سلګۍ ده او خندا د مړو غوغا . څومره نيکمرغ دي هغوی چې ژاړي او ژړلای شي .

هغه وخت چې انسان د ژوند له ستومانيو څخه اوکه[1] شي او هېڅ خواته لاره نلري ؛

هغه شپه چې مغرور او بې جلبه قدرتونه د مستحق په مرۍ پښه کېږدي او لوری ترې ورک کړي !

هغه ماښام چې د کلي هلکان ماشوم يتيم ووهي او مرور شي ؛

هغه سباوون چې پرديس مزدور په پردي ملک کې د لارې په ژۍ د ځنکدن سلګۍ وهي؛ هغه وخت يوائې د اوښکو څپې خوځېږي او د هغو نامېندۍ پای ته رسوي .

بارانونه دي چې سيلاوونه خوځوي او دريابونو دي چې د بهېر لاره ټاکي. پرېږدئ چې بارانونه واورېږي او تالندې خورې کاندي . پرېږدئ چې تندرونه راولوېږي او دا برجونه چې له خاورونه راپورته شويدي يو ځل بيا له خاوره سره برابر کاندي.

د اوښکو لاره مه بندوئ ؛

که ژړانه وای هيڅا به نه وخند لي .

کابل-۱۳۳۸

---

۱ ـ اوکه AUKA = پکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتڼ چي

د شپې په تور زړه کې سپين ستوري ځلېدل او د ستورو په نرۍ رڼا د لارې شاوخوا بوټي د باد کمزوري بهېرته ورو ، ورو خوځېدل او داسې ښکارېده لکه په يوه بشپړه ورا کې چې ټول خلک اتڼ وهي .

سورګل د همدې بوټو په منځ کې د دښت په نريو لارو روان و . دی په داسې ژورو انديښنو کې ډوب تللی و چې د ستورو ښايست، د دښت چوپيا او د ځوانۍ دروند خوب يې بيخي له ياده وتلي وو.

ده افسوس کاوه کاشکې دې واده ته نه وای راغلی او يا په اتڼ نه وای ورګډ شوی.

نه پوهېږم نن شپه څه راشوي وو چې نه ډول زما له پښې سره برابرېده او نه زما پښه له ډول سره.

زه بيا دا ګڼې څڼې ، دا نرۍ ونه او دا ښايسته ځواني څه کوم؛ ننداره چيانو به څومره راپورې خندلي وي!

اوه کاشکې د اتڼ ميدان خو کلا ته نږدې نه وای او پيغلو خو د ديوالونو له سره زما د ناوړه غورځو پرځو ننداره نه وای کړې.

ناکام اتڼ چي همداسې پخپلو ترخو انديښنو کې روان و ، د کلا په برجانو باندې د اتڼ د ميدان د لمبو انعکاس، د ډولونو آواز ، د آسونو ششنهار، د چلمانو لوګي او د کلا د پاسه د سرو سالوګانو کتار د ده ستر ګو ته وروسته، وړاندې کېدل.

هغه شپه تېره شوه او ډېرې نورې شپې پسې راغلې، ډېر ودونه او کوژدې تېرې شوې او څو څو ځلې ډولونه وغږېدل مګر سورګل بيا اتڼ ونه اچاوه او مات شوی زړه يې پيوند ونه شو.

د فنکار زړه هغه ښيښه ده چې يو ځل مات شي بيا پيوند نه مني او نه رغېږي .

ښرنه ـ ۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغرونو په تياره کې

دی د غرونو په تياره کې لوی شو . د کمرونو په اړخ کې یې ځو کاله شپېلۍ وغږوله. د سپوږمۍ په پلو شو کې یې د سين له ترانو څخه خوندور الهامونه واخيستل. له مينې او گرمۍ نه یې ډکې سندرې وويلې. لوړ خيالونه یې په سر کې را پيدا شول او ښايسته مرغلرې یې سره وپېيلې... خو افسوس چې د ده ټول رازونه، عشقونه، هيلې او اسرې د ده په زړه کې غوټه پاتې شول او له ده سره يو ځای خاورو ته لاړل.

يو ځل یې د ژمي په يوه توفاني او سړه شپه کې لارورکې پرديسان له مرگ څخه خلاص کړل او لارې ورو ښوده، په قبايلي جگړو کې ځو ځله په مورچه وخوت او دښمنان یې مات کړل.

د ښکار په وخت يو ماهر ښکاري، د جگړو په وخت يو زړور سپايي او د کار په وخت يو چسپانده بزگر او گرندی شپون و.

دی د ژوند تر پايه له تيارو څخه راونه ووت او روښانه نړۍ یې ونه ليدله.

د ده گړندۍ منډه، خوږ آواز او د ده د ذکاوت ستره برېښنا له نړۍ نه پټه پاتې شوه او چا یې اندازه ونه لگوله. ده ته هغه الفاظ او توري چا ونه ښودل چې د له هغوی نه يو ښايسته پل جوړ کړی وای او په دې پله باندې له خپلو تنگو غرونو څخه پراخې دنيا ته ورپورې وتی وای.

دده عشقونه، د ده ارمانونه او د ده سندرې له ده سره يو ځای خاورې شول. دادی تر نن پورې زما د خلکو ژوند.

۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمانې په ناپايه سين کې

د زمانې په ناپايه سين کې د څپو له ټکرونه لکه کوبۍ [۲] را پيدا شوم. پخپله کوچنۍ هنداره کې مې ناڅاپي د جهان څېره وليدله. د سين زوررو څپو پخپلو منګولو کې ومروړلم . د حرکت او سکون، د رڼا او تيارې لورى مې ولګاوه او خپل کمکوټی وجود مې د زمانې د سترې هستۍ په لمن کې وليد.

ما غوښتل پخوا تر دې چې د مرګ پياوړى سوک زما د نظر آينه ماته کړي څو خوږې سندرې وبولم. ما خپلې سندرې وبللې، مګر د زمانې د توفاني او ناپايه سين ابدی کوکو زما نغمې هسې پخپلو څپو کې محو کړې، لکه چې په يوه کوچنۍ بېړۍ کې د څڅوبې آواز د سمندر د غضب په کړيکو کې ورک شي.

ډېر به په دې لاررو راشي او خپلې سندرې به وبولي، مګر د زمانې د ابدي کړيکو چپاو به د هغوی سندرې هم زما د سندرو په څېر نابود کړي .

دا دی د کوچني انسان ابدي سرنوشت او د زمانې پياوړی او نه اوښتونکی بهير .

کابل ـ ۱۳۳۹

---

۲ ـ کوبۍ = حباب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپانه نغمه

اې لوړو غرونو ! ستاسې په لمنو کې زما د ځوانۍ ډېرې خاطرې پاتې دي ؛
لا تر اوسه پورې زما د مېږو د پلونو نخښې تر لویو پرښو لاندې باران نه دي ړنګې کړي.

لا تر اوسه هغه شلې پرځای ولاړ دي چې ما د غرونو څوکو ته نېږدې د واورو په منځ کې درولي دي ؛

لا تر اوسه زما د مېږو په شپوله کې رمې پناه‌پړي او د شپنو کټوی په لوګجنو رغلیو(۳) باندې ایشي ؛

لا تر اوسه زما د مېږو وري هر پسرلی هغو ورشوګانو ته رابهېږي چې ما به د دوی مندې هلته پوولې ؛

د دې غرونو هر کمره زما د سندرو او شپېلۍ آواز اورېدلی دی. ما د غره هر موړاو هرې څوکې ته د رمو د خاوندانو د بېرحمۍ او بېدردۍ داستانونه اورولي دي.

کله چې بزګرانو په خپلو درمندانو باندې شپې تېرولې، کله چې همځولو شپنو به سبا وختي له شپولو څخه خپلې رمې ایستلې، کله چې ستړو کاروانیانو به په سهمجنه او چوپه تروږمۍ کې لار وهله، کله چې پردیسو مزدورانو به د خانانو د برجونو د جګولو لپاره د سپېدو په مهال لاسونه بډ وهل، ما به په همدا سې وختونو کې پخپلې شپېلۍ ګوتې پورې کړې او دې ستړو او نامینده خلکو ته به مې دمه ورکوله.

زه د نږدې کلیو ټولو پېغلو پېژند لم او په ټولو شپنو ګران وم. خپلې شپېلۍ زه په ټولو خلکو کې مشهور کړم، مګر له زړښت او ناتوانۍ نه یې ونه ژغورلم. اوس چې رمې له هوارو سېمو څخه غرونو ته لېږدي زما له ستر ګو بې اختیاره اوښکې راتوی شي.

کاشکې یو ځل بیا زلمی شم او د جګو ورشوګانو له مینځه مخ په ځوږه په پراخو دښتو نظر وغوړوم.

اې جګه آسمانه ! یو ځل خپل زړه ما ته پرانیزه چې ستا په شنه ورشو کې د سپینو او تورو وریځو مستي وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هې زلميو شپنو ! ستاسو د ځوانۍ موده لکه بريښنا لنډه او لکه ليدلی خوب هيرېدونکې ده ، تاسی په دنيا کې پرديسان ياست . عمر په غم کې مه تېروئ ، وخاندئ ، وناڅئ او سندرې وبولئ !

له مرګ څخه مه ويرېږئ ، هلته چې د مرګ وپره سيوری خور کړي ښادي او هيله تښتي. مرګ د ژوند د مزل وروستی پړاو دی او داسې ليوه ته ورته دی چې هرې مېږې ته يو ځل دريږي.

کله چې زه مړ يم او زما په قبر وحشي ګلونه غوړېدلي وي له هر شپانه نه زما هيله داده چې کله زما له خاورو تېرېږي خپله شپېلۍ وغږوي او ستړي ژوند ته نوې دمه ورکاندي .

۱۳۳۹

۳ـ رغلی = نغری

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه

له ما نه غوښتل شویدي د ځان په باره کې یو څه ولیکم ، خو ما ته تر څه د ځان په باره کې لیکل گران ښکاري. دا ځکه چې زما په ژوند کې داسې رنگینۍ نشته چې هغه به د لوستونکو لپاره څه خوارېه ولري.

زما ژوند د یو عادي پښتانه ژوند دی چې ماضي یې له لوړې ، محرومیو او دردونو څخه ډکه ده او حال یې په زړو دوسیو او میزونو کې د نورو د خوشالولو او راضي ساتلو په کار کې تېرېږي. کله کله مې چاپېریال وتخنوي او یوه بریښنا مې تر ستر گو کړي ، زه دغه وخت قلم راواخلم او یو څو کرښې د خپل اولس د او ښتونکې تقدیر په کتاب ولیکم. دا وخت هغه بزگر ته ورته یم چې په وچه ځمکه کې د باران په هیله دانې کري او دا ډاډ ورسره نه وي چې د آسمان اوبه به د ده کروندې ورسېږي .

هغه وحشي گلان چې کله نا کله په دې کرونده کې گوتوته راشي پخوا تر دې چې د چا پیکي یا گریوان ته یې ورسوم را څخه وچ او مړاوي شي .

زما خصوصیت دا دی چې د سپیدو غوندې له تیارې نه د رڼا پخوا ځم، خو کله چې لمر راوخېږي زه به نه یم. زه له زمانې سره گرد چاپیر راگرزم او د هغې د گرزېدو موزیک اورم، زه د دې موزیک لپاره موزونې ترانې لیکم ، مگر د ځمکې زاړه قا بضا ن چې د مرگ پولې ته نږدې شویدي زما له ترانو سره ضدیت لري او هڅه کوي د دې نغمو او مستقبل تر منځ پوله واچوي. خو زه به تل د سپېدو په څېر د لمر د راختو ترانې تکرار کړم.

۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړندوکی یتیم

دا ببر سرې او پښې لوڅې ماشوم ولې ددې قبر د پاسه ژاړي؟ دا مړی د ده څه کېږي.
ولې دی په داسې چا ژاړي چې دده ځواب نه ورکوي او مهرباني نشي پې کولای!
دا ژوندي خلك ولې دده اوښکې نه پاکوي او سمه لار نه ورښيي؟
نه، نه، پرېږدئ چې خپل له دردو ډك راتلونکی سرنوشت ته وژاړي.
دی پوهېږي چې وروسته تر دې داسې څوك نلري چې دده په سر د زړه سوي او همدردۍ لاس راکاږي. داسې سترګې نشته چې ده ته د مینې او مهربانۍ په نظر وګوري او داسې سړی نه پیدا کېږي چې ده ته زوی او بچی ووايي. دی باید یتیمۍ ته تن کېږدي او لکه خود رویه بوټی د وحشي طبعیت هر راز ظلمونه او جفاګانې وګالي. دی باید وږی، تږی او بې تعلیمه لوی شي، د نورو تر سیورو لاندې ژوند وکړي او هیڅ ځانګړی مقام پیدا نکړي.
ګرانه له دې ځایه لرې شه! دا د مرګ او نیستۍ پړاو دی. دا د ورکې او هېرې خوا ته د مسایرو لار ده او د انسان د هستۍ او ژوند وروستی کور دی.
لرې شه! لرې شه! چې د دې زړې هدیرې سړه او غمجنه سېلۍ ستا په ماشومو او تاندو احساساتو بده اغیزه کوي.
راځه! راځه! د زړه سره چې د دې لوګجن ښار په تیارو کوڅو او غمجنو کوټو کې خپل دردونکې تقدیر ته لار ونیسو او بدل یې کړو.

کابل - ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا عجيب انسان

د کائناتو په زړه کې لړو بړ خوځېږي، هر شی پلټي او له هر شي سره علاقه ښيي، عمر يې ډېر لنډ دی، مګر هيلې يې پای نلري.
ډېر کوچنی دی، مګر ګمان کوي چې په ټوله نړۍ کې نه ځايېږي. دومره حرص لري چې د ګردې ځمکې په شتو نه مړېږي، مګر په پای کې د يوه ګز ځمکې بندي شي؛
يا دومره په ځان مين وي چې زرګونه وګړي د ځان تر ګټو جار کړي او يا داسې تر ځان تېر شي چې خپل سر هم د نورو لپاره قرباني کاندي،
په تپه تياره کې د نا معلوم هدف خواته روان دی او له مجهولاتو څخه پرده پورته کوي، خو لا تر اوسه داسې ځای ته نه دی رسېدلی چې ډاډ پيدا کړي. هر څومره چې په مخ ځي دده شکونه زياتېږي او کله چې له ډېرو منډو ستړی شي بيا نو د يوه مجهول تر مخ ودرېږي، په تشو او بې معنی خيالونو او تصويرونو ځان غولوي؛
کله چې پخپلو هڅو کې ماته وکړي ځان تر مياشي هم کوچنی ورته ښکاري او کوم وخت چې پرله پسې بريالی شي د خدايي دعوې هم کوي.
هر شی تسخيرولای شي، مګر د ځان په تسخيرولو کې ناکام دی؛
ټول پيژني او هر شی څېړي، مګر ځان نه پيژني. د پراخو کائناتو په ګېډه کې نامعلومې خواته ځغلي او تر اوسه لا منزل ته نه دی رسېدلی.
دا عجيب انسان !

۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نیمګړې ترانه

سبا به د نوي کال سپېدې خپله ځلانده او رڼه لمن زما د هېواد په غرو او رغو وغوړوي، مګر زه لا د پسرلي استقبال ته نه یم آماده شوی ؛

کلیوالې پیغلې به سبا د غرونو لمنو ته وخېژي او د سرو خاټولو ګلان به په څنګو کې وتړمبي ، ځوان شپانه به له ورغالیو څخه خپلې رمې وخوځوي او د پراخو دښتو په شنه ګریوان به یې وبهوي ؛

هغه لومړنۍ توتکۍ چې له تودو سېمو څخه راغلې ده د رنځور شاعر جونګړې ته به ننوزي او د پسرلي زیری به ورکاندي.

د پسرلي پسته او خوشبویه وږمه به د یتیم ماشوم په سپین چک او ضعیف وجود کې د منډو او لوبو هوس را وپاروي او په پښو ، لاسو کې به یې نوې دمه وخوځوي ،

د تورو وریځو د چت په نیلي کړکیو کې به چې له هسک څخه مخ په ځمکه را پرانستل کېږي ځای ځای په نیلي کوهیو کې د زاڼو کتارونه ښکاره شي او زلمي ښکاریان به له کلیو نه د سینونو او ځنګلونو لمنو ته راکاږي.

د ژرندو د ناوو کنګل به مات شي او د ژرند ګړي ماشومان به د ژرندې د ویالې په غاړه د ژیړو ګلانو ګېډۍ وتړي ؛

زرکان به د غرو له تودو ناوو څخه څوکو ته پورته شي او د کمرو د پاسه به د پسرلي په ویاړ سندرې وبولي ؛

سینونه به خړې او به راوړي او د څپو له شونډو به د مستو او ښانو په څېر ځګونه را پورته شي په دې شیبو کې به تاریخ خپله نوې پاڼه د زړورو مبارزانو او اولسونو د کارنامو لپاره را برسېره کړي ، مګر زما تحفه به د خلکو د ارمانونو د لمانځلو لپاره نه وي تیاره شوې او نا تمامه به وي .

زما دردونه به نا ویلی پاتې شي او زه به د پسرلي د پادشاه مخ ته تش لاس او ځوړند سر ولاړ یم ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نن کټ مټ هغه لامبوزن ته ورته یم چې په تپه تیاره کې د یاغي سین د څپو منگولو ته لوېدلی وي او د وتو لوری نه ورمعلومېږي .

که څه هم زه لا تر اوسه د څپو څپېړو او خپلو پرله پسې هلو ځلو نه یم ستومان کړی ، مگر دا ویره مې ورو ، ورو ډېروي چې زما نیمگړې ترانه به بشپړه نشي او زه به د پسرلي سلطان ته دخلکو د هیلو زرین مزی ورانديې نکړی شم.

اوه ، خلکو له ما سره مرسته وکړئ !

۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومتوب

کله چې د اوړي په توده غرمه کې له خپله کاره ستړی ستومانه کورته راګرزم ، د کوڅې ماشومان د لمر د سوځوونکو شغلو لاندې لوڅې پښې او بربنډ سر ښکته پورته په بل پسې منډې وهي. دلته د ميندو واويلا نه رارسېږي او څوک غوږ هم نه ورته نيسي .

په دوی کې د ډلې مشر او د اعتبار خاوند هغه څوک دی چې ډېر ځغلي او تر نورو د ګرمۍ او ستومانۍ زغملو زيات طاقت لري ، مګر بيا هم ملګری نومېږي او څوک يې خان يا ارباب نه بولي او هيڅ امتياز هم نه غواړي.

کله چې کوچنی وم او د ونو په څانګو کې ميوو ته به مې لاس نه رسېده، د لوييدو او لوړيدو سخته تنده به راپيدا شوه .

انسان ډېر لوييدای او لوړېدای شي ، خو کله چې لوی شو ، بيا نو د کوچنيتوب ارمان کوي خو کوچنی کيدی نشي.

رښتيا د لويېدو او جګېدو حرص څومره غولوونکې او ربړوونکې دی .

که ما کولی شوای هيڅکله به نه وم ستر شوی او تل به هماغسې کوچنی پاته شوی وم . آيا دا ښکلي ماشومان چې هر مازيګر د سين غاړې ته د شګو کورونه جوړوي ما به په خپله ډله کې ومني او زما د ورتګ له کبله به د خپلو لوبو ځای بدل نکړي ؟

آيا که دوی ما ومني مشران به په ما پورې و نه خاندي او ليونی به مې و نه بولي ؟

پر پرېږدئ ، پرېږدئ چې زه کوچنی شم ، تاسې چې د لويېدو هوس لرئ پر مخ لاړ شئ او لوی شئ .

کابل-۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ اوښکې

د ژمي شپې ورځې وې ، ځمکو او کروندو د واورو سپينه برستن اغوستې وه . سړه او تيزه سيلۍ چليدله . په سين کې د کرلونو سترې سترې جالې رابهيدې. د مارپيچ سين په غاړه د ناقلو بزگرانو دلوخوجونگړو ته دکلي د سباوون لوگيو غمجنه منظره ورکړې وه . خړې سړې هوا او د باد په شپو کې دسبايي د تنورونو لوگيو او له دې سره دوچې واورې د بخرکو نځا د ناقلو د ختو کورونو ته داسې منظره ورکړې وه لکه د هندوکش په توفاني هواکې چې لويې پرښې او کمرونه د گردلې په منگولو کې راچرمولړل شوي وي.

د شاداد د لوخو يو اخنۍ ځانگړې کپه د توفاني باد تريرغل لاندې داسې خوځېدله لکه چې سا اخلي. د باد له هرې غوټې سره به د کپې اندامونه وخوځيدل او په چت پورې راځوړند د مالگې او مرچو کدوان به يې چې د تناره همېشني لوگي تور کړي وو ، سره ووهل او يوه زړه بدوونکې موسيقي به يې خوره کړه . د باد او توفان د هيبت له زوره د کلي سپي د بوساړيو او خشاکو په سوريو ننوتي وو. ژمنيو چوغکو او کورنيو چرگو په بوټو او دلوخو په خځلو کې ځانونه پټ کړي وو.

زرغونه ابۍ په لوگجنه لوخي خونه کې ناجوړه پرته وه. وجود يې پرله پسې تبو او د نېستمنۍ.اوږده مصيبت ويلې کړی و . سترگې يې د سر په کاسه کې ننوتې وې ، د پوزې چمبريې لکه تبره تيغ ځان نری کړی او شونډويې پرېړ تورخرو کې نيولي وو. په سترگو کې يې د ژورې ويرې علامې راپيدا شوې وې .

دری واړه لوراني يې سرته ناستې وې. مشره لوريې د مور په برخه ليک پوهيدله، مړې اوښکې يې په غومبرو رابهيدلې .خو کوچنۍ لور يې ډېره ماشومه وه د مرگ او ژوند په حقيقت نه پوهيده . کله کله به يې په مصيبت ځپلې خونه کې آخوا د ښخوا و دانگل او کله به د ناروغې مور په مخ ورپريوته او مخ به يې پر مخ ور کېښود.

د هستو گنې کپه تر خولې دتنا ره له لوگي ډکه وه ، مگر توده نه وه .

د زرغونې پر مخ د سړو اوښکو نه تمايدونکی کاروان راروان و او د سوځوونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبې په لمبو کې یې د خپلو ماشومو لورانو د نامعلوم مستقبل په باره کې فکر کاوه .

« څوک به کالي ورمینځي ، له چا سره به اوسي ؟ او په چا به واده شي . . . » په فکر کې به سابندي ورپیدا شوه ، ستونی به یې وپړسېده او نرۍ او ښکې به یې په غمځپلو وینښتانو ورګډې شوې.

د مړینې او ګور د اندېښنو تصوراتو بیچاره ښځه د نامیندۍ او بېکسۍ د توفان په لړو او وریځو کې راچاپیره کړې وه او په دې سخت اضطراب کې د تېر ژوند تر خو خاطراتو د غمونو په منګولو کې مروړله.

د پیغلتوب وختونه ورپه یاد شول. د کډو او کوچیتوب وختونه یې ستر ګو ته ودریدل. د کام، تربرونو، کورنۍ، خویندو او وروڼو څیرې یې تر ستر ګو شوې. د او ښانو، وریو او میږو د رمو څوږیې واوریده. او سنۍ پردیسي او دخپل لرې وطن د غرونو ، رغونو او اوږدو لارو تصور یې وکه. د خاوند جفا ، وچه او څېږه وزه بیا په تېره د هغه او سنی نامردانه غیاب یې خاطر ته راغی. غوشته یې آواز پورته کړي او چیغې ووهي او د راغلی خطر مخه ونیسي ، خو نور وخت تر دې تېر شوی و . . .

غوښتل یې کښېني او خپله کوچنۍ لور په غېږ کې ونیسي ، خو و نه توانیدله ، په فریاد یې پیل وکړ ، آوازیې غلی شو او ژبه یې ونښته. ویې غوښتل خپلې لورانې وګورې او دا مصیبت ور ووېشي ، خو په ستر ګویې توره تیاره وغوړیده او هیڅ شی پکې ښکاره نه شو . په توره دړه باندې یې خپله کوچنۍ لور ولیدله، کاته یې چې له یو هسک پاڼ نه د خړو او بو خونړې ګرداب ته ورولویده ، چیغه یې وکړه ، مګر ژوند یو د هغې چیغه وانه وریده ، یوائې څو وروستیو او ښکو د هغې چیغې اوریدلې وې .

بالادوری ـ ۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلی شوی بلبل

ډېره موده کېږي چې دا سندرغاړی بلبل غلی شوی او مرور شويدی. دی په سختو کلونو او غمځپلي دوران کې زما د فريادونو ملګری و . کله به چې خاټول وغوړېدل او د پسرلی او بانو وريځو به د دښتو ترخو او ځوځانو ته وخندل ؛

کله به چې د کوچيانو کېږدۍ د غرو په لمنو کې پلنې شوې ؛

کله چې د مني په مهال د ايل بندونو څخه کوچيانو له حپلو کلهو او ماشومانو سره خپل بې انجامه سفر د تودو سېمو خواته بيا پيل کړ ؛

هماغه وخت به زما بلبل د ژوند د غمونو او غمجنو خلکو ترانې پيل کړې او تر هغه به چيغېده چې زما د ستر ګو په چينو کې د او ښکو تالاب وچ شي . ده هڅچېرې او هېڅکله يوائحې پرې نه ښووم .

کله چې د خپلې مور په مرګ وژړېدم ده هم راسره وژړل او کله چې د بدمرغو وګړو، لارورکوافرادو او ناورين شويو کسانو پر تور تقدير باتدې وځوريدم ده هم زما د سوي ګوګل په قفس کې وزرورپول او پخپلو سندرو کې يې د انسان غمونه وپالل .

کله چې د ژوند تيارو ماته د مرګ دروازې پرانيستلې ده ماته د ژوند او اميد سندرې بللې ؤ د برې او پرمختګ ډاډېې راکاوه .

کله چې زما د ستومانه ژوند توفاني بېړۍ د امن په ساحل لنګر واچاوه او ما پر خپلو غمونو دروازې وتړلی ، دی غلی شو او بيايې د سوز او اورونهډ کې ترانې ونه بللې.

انسان پر سترو غمونو باندې د بريدو لپاره نړۍ ته راغلی دی. هيڅوک نه شي کولای چې په مړه ګيډه او ډکو ستر ګو د هغو لطيفو او رنګينو مارغانو سندرې واورې چې يوائحې د مبارزې او غمونو د واټ لارويانو ته ويل شوی دی .

۱۳۴۱ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې نه مري

دى په يوه نمجنه جونګړه کې پروت و، زاړه پوزکي يې ړړې زخمي کړې وې، څوک سې پوښتنې ته نه ورتلل او له چا سره يې د ژوند سودا لا هم نه وه.

د ده ټوله هستي همدا جونګړه او د غزلزيو توربخن کتاب و، چې د نغري لوګيو تور او کرغېړن کړى و.

ده زوى، پلار، .ور او هيڅوک نه درلودل او د ټولو مينه به يې فقط په هماغه کتاب ماتوله.

ده د خپلې تيارې جونګړې له ګوټ څخه نړۍ ليدله او د هر چا د کوګ په حال خبريدى شو؛ ده ته د يتيمانو او کونډو دردونه او د اوږو او تندو سوى معلوم و، ده دوزخ او جنت دواړه پېيګدل او په دې راو ښه پوهېده، چېڅنګه د آسمان له وريځو او ستورو سره خبرې وکړي او په څه توګه د شپو په تياره او چوپتيا کې د مرور او محرومو انسانانو اګدېښنو ته لار پيدا کړي.

دى پر خاکو پوهېده او د هر چا د ژوند خوږه او ترخه ورمعلوم وو، مګر هغوى دې نه پيژانده او د ده په راز نه وو خبر.

ده د ډېرو بزګرانو، شپنو او لاېوزلو انسانانو په دردونو باندې ا.ښکې څڅولې وې او د ډېرو رېړونو په اورکې د نورو لپاره سوى و، مګر هغوى هيڅکله پوه نه شول چې دى له دوى سره ژاړي او يا د دوى د پاره سوځي.

هغه ورځ چې ده د جوګګړې له کوچنۍ کړکۍ څخه هلته لرې د آسمان په لويديځو څنډو کې د بهاندو سرو اوريځو د قافلو تماشه کوله بې باکه له ستر ګو څخه او ښکې راوبهيدې، هڅه يې وکړه چې خپلې ځړسکې وليکي، مګر ګوتې يې په قلم و نه ګرځيدې، غوښتل يې څه ووايې، خو هلته هيڅوک نه و چې د ده خبروته غوږ کېږدي.

دسباوون لمر نوى په کلي غوړيدلى و چې خلکو د جومات په ګوټ کې پټ پټ يو بل ته سره وويل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوار ګوټې مله شو ... هغه لیونی مړ شو ... هو ! په کرار شو ، خداې دې وبخښي. سودايي و ...

د ده له مرګه څو ورځې وروسته بیا په جومات کې د ده د ژوند خبرې او خاطرې یادې شوې، یو نابلد پردیس چې هلته ناست و سخت په غصه شو او په لوړ آواز یې نارې کړې :

اې خلکو ! تاسو په غلطه روان یاست ! هغه نه دی مړ او نه مړي او بیا یې د ده دا ترانه لوستله :

«زه هره ورځ ویلې کېږم؛

هر څو مره چې زما نغمې د خلکو په پرګنو کې پراخېږي، زه هغو مره د هغوی په زړونو او تصوراتو کې ژوند کوم؛

هغه وخت چې زه بېخې د خلکو له سترګو ووځ ؛

د خپلو نغمو سره به د کتاب په پاڼو کې ژوند کوم؛

و ه نه مړم ، زه نه مړم ، زه ابدي ژوند ته منزل کوم ؛

کوم وخت چې زما اشعار ستاسې دردونه وسپړي ؛

او هغه وخت چې زما ترانې په تاسې کې یو خوځوونکې تأثیر واچوي .

هلته باید تاسو پوه شئ چې زه ستاسو په حساساتو کې ژوندی ګرځم ؛

زه شاعر یم او نه مړم ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختر مبارکي[۴]

گرانې ماري !

نن د اختر ورځ ده او زه په اوږدو انديښنو کې ايران ناست يم. خوله مې د چوپيا پياوړو منګولو تړلې ده او دا امکان يې له ما اخيستى چې د اختر مبارکي در کړم .

کله چې ته زما کوټې ته راغلې او زه دې په اوږدو انديښنو کې ډوب وليدم داسې فکر درپيدا شو چې زه به بيا د چا د شوخو نظرونو غشيو ژوبل کړى يم او دا ځکه چې تا زما د مينې د سمندر سرکښې ځپې ليدلې او په دې پوهېږې چې زه شاعر يم .

زه ونه خوځيدم او نه پوهيږم چې څنګه د خپلو ناکرارو او ژوبلو انديښنو غمجن تصوير تاته وښيمۀ نو هماغسې ګونګ پاتې شوم او لا تر اوسه مې ستا د هغې ناميندۍ لپاره زړه سوځي.

ما وبخښه ! زه شاعر يم او کله کله د انديښنو په نيلي سپرېږم او له تاسو څخه تښتم. داسې وختونه ډېر راغلي چې زه ستاو په مينځ کې ناست يم، مګر حواس مې د وطن د لوړو غرونو د پاسه د وريځو هغه يرغلونه څاري چې لکه سرکش سيلاوونه مخ په ځوړه د درو په ناوو کې ځغلي او د بزګرانو په کليو، کورونو وردانګي. کله چې لړې پر ټولو سيمو وغوړېږي د بادونو او توفان کړيکې مې تر غوږ شي، پدې وخت کې مې نظر هغه بوډا بزګر ته ځير وي چې د تورو لړو او توفان په چپاوو کې د کلي لار ورکه کړي او د مرګ ژورو ګړنګونه ته ولوېږي، دى بيا هيڅکله خپل کور نه ويني او د هغو ماشومانو نغرى هيڅکله نه تودېږي چې خپل سر سيورى يې د تل لپاره بايللى دى .

ستا لپاره په دې خبرو پوهېدل ګران کار دى او دا ځکه چې تا د ژمې په څيلو کې يباې پښې له ګودر څخه او به نه دې راوړې او په کلي کې دې درويزه نه ده کړې. تا د خان په کرونده کې وږي نه دي ټول کړى او پردي بارونه دې نه دي چلولي. تا د هغه پلار په مرګ نه دې ژړلي چې په غرو کې تور مار چيچلى او يا خوني پړانګ څيرلى وى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا داسې وروړ نه درلود چې زوروروي يې سر او خوله ورمات کړي وي او بې انتقامه پاتې شوی وي. تا داسې خور نه لرله چې په زبردستۍ له کوره بیول شوې او واده شوی وي. نو ځکه د خوښیو په شیبو کې زما د غمجنې چوپیا په راز نشي پوهیدای او زما په باره کې تور شکونه درپیدا کېږي؛

که زه پخپله خوښه وای ما به اختر نه وو کړی او چا ته به مې د هغه مبارکي نه وه وبلې؛

همدا اوس چې ته د اختر غرمې ته پخای کوي زموږ د ګڼو اولسونو زیاتره کورونه د لوږې او نیستۍ په اور کېسوځي او زموږ څخه د جلاوالي احساس کوي. زه له دې جلاوالي څخه سخت شرمیږم او هیله لرم داسې زلزلې راوپاریږي چې زموږ او دوې تر مینځ پولې او تور دیوالونه ونړوي از موږ له دوی سره تر یوه بام لاندې په یوه رغولي کښېنوي.

پرو سږ کال په همدې ورځو کې یوې ماشومې نجلۍ زموږ په کوڅه کې زموږ د کوچنۍ وږی[5] کالیو ته ایران، ایران کتل او ما د هغې په سترګو کې د ناپایه نامیندیو او محرومیت تور تصویرونه له ورایه ولیدل .

سږ کال به بیا ملیونونه ماشومان زموږ په هېواد کې د بډایانو د زامنو کالیو ته په حسرت وګوري او ورته و به سوځي .

په ښارونو کې به د لوږو مانیو نه د پلاوونو او عطرونو وږمې په لویو واټونو کې بیا ډېر بې وزله لاروي وځوروي.

د سپینو او دنګو دیوالونو تر مینځ به ډېرې شتمنې او مستې پیغلې د خپلې عاسقانو په محفل کې ونځیږي او په همدغو شیبو کې ډېر مزدوران د لوږې او مرضونو په تبو کې وسوځي.

دادی زموږ اختر او دغه ده زموږ د مسلمانۍ واقعي څېره !

نه پوهیږم چې دا ځینې خلک ولې په دې درواغجنو خوښیو ځانونه غولوي او هغوی ته هر کلی وایي ؟

زه شرمیږم چې داسې اختر مبارک ویولم او د هغه زیری تاته درکړم.

راځه ګراني لکه څنګه چې ما ستا مینه له خپلې وینې سره اخشلې ده ته هم زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمانونه له خپلې وینې سره ګډ کړه او اجازه راکړه چې ددې بدمرغ اختر د ترخو شیبو د آسانولو لپاره هغه اور ستا په زړه کې ولګوم، کوم چې د هلکتوب له ورځویې تر اوسه پورې زما په ګوګل کې لمبې وهلې او زه یې ځورولی یم.

راځه د اختر د عبثو خوښیو کې د ګډون پر ځای هغه غمونه د وطن له محرومو خلکو سره وویشو چې د څو تنو داړه مارانو له خوا پر هغوی باندې بار شویدي.

راځه له ځانه ووزو او د بشري جهان د ناپایه سمندر له ځپو سره یو او ابدی شو.

راځه په ګډه د زمانې هغه سندرې خورې کړو چې په درو او کلیو کې د نیکمرغۍ زیرې خپروي او اولسونو ته د مبارزې او د بري ایمان ورکوي.

راځه هغو انساني سیلاوونه ته لار پرانیزو چې د ماڼیو د خاوندانو زړونه ریږدوی او د طبعیت د ایلولو تر پولې پورې د منډې میدان لري.

که ته د همداسې پړاوونو په لنډولو کې له ما سره ملګرې شي زه حاضر یم چې د دې سفر په هر ګام کې تاته مبارکي درکړم.

کابل ۱۳۴۵.۱۰.۲۱

۴ـ دغه څو ټوټه شاعر خپلې میرمنې ته لیکلې ده.

۵ـ وږمۍ د شاعر د لور نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنګال رقاصې ـ کماري چترا ته

په ما نن ستر غمونه راچاپېر شوي دي . د دې غمونو په ناپایه لړو کې د لارې لوری رانه ورک دی او ستا لمنې ته خپل مات لاسونه درغځوم .

زما زاری ومنه او پرېږده دا زما او چت سر چې هیڅ سر کش او زورور ته نه دی کوز شوی یو ځل ستا د هنر درشل ته ټیټ شي او ودې لمانځي .

ماته ونځېږه او پرېږده یوه شېبه خپل اوږده غمونه ستا د ناپایه او توفاني سمندر په څپو کې ورک کړم .

ونځېږه ! دلسې ونځېږه لکه د آمو سترې څپې چې زما د هېواد لوړو او بربنډو غرونوته نځېږي ؛

داسې ونځېږه لکه د بدخشان د منهو او مانز غوتې چې د پامیر د پسرلني وږمې څپو ته ناڅي ؛

داسې ونځېږه لکه د واورو ښکاې پاغوندې چې زموږ د ستر هندو کش په نیغو درو کې د ژمي هیبت ته نځېږي ؛

داسې ونځېږه لکه زما د هېواد د خاورې په ذره ذره کې چې د آزادۍ تلوسه ناڅي ؛

ونځېږه او زما ناپایه ستومانۍ له ما سره وویښه. مه پرېږده چې د بندي مرغه په څېر د نورو د خوښۍ لپاره په پولادي پنجرو کې زما وزر توی شي .

زما قفس ته د خپلو زنګونو شرنګې راورسوه او زما په پولادي زندان کې د انسان د لویۍ او کرامت انګازې خورې کړه .

زما د احساس توفانونه د خپل ښکاې او ابدي هنر په بستر کې وخوځوه او پرېږده چې په بې خودۍ او مستۍ د خپل پولادي قفس دروازې ماتې کړم او په ګډه د خلکو د آزادۍ ترانې درسره وبولم .

کلکته ـ ۱۹۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ خپلې سندرې وبولو!

له لرې نه د مارش آواز رارسېږي ، د موزیک د ترانې موجونه لکه سمندري څپې چې د غرونو پر لمنو وردانګي دساده نندارجیانو له سرو سینو سره سر وهي.

په دې ترانو کې د ځسنو وګړو او ځینو حوادثو ستاینه کېږي او سادګان لکه درمې ګډې بې ارادې سر ورته خوځوي. زما زړه هغه بېحرکته سوړ غر دی چې کلونه کلونه د دې احمقانه ستاینو پرله پسې بهېر ته ولاړ دی او هیڅکله له خپله ځایه نه دی بېځایه شوی؛

په دې ترانو کې د بزګرانو رېړونه، د شپنو هلې ځلې او د مزدورانو له ویاړه ډک ژوند نه ستایل کېږي؛

زما د بېخوبیو او ستومانیو، زما د لاس د تنها کو او پیاوړو متو په باب دا ترانې او مارشونه هیڅ مضمون نه لري؛

ما تر او سه پورې په هیڅ ملي سرود کې د خپل اولس آوازونه نه دی تورېدلی؛

دا مارشونه د غلو، داړه مارانو او تیارخورو د غرور د تندې د ماتولو لپاره تیار شویدي، دا انسان ته د آزادۍ لار نه ورښیي، بلکه غلامۍ او بندګۍ ته یې وربولي، دا په خلکو کې د حریت او آزادۍ روح وژني، دا د جګو سرونو ټیټول او پولادي ملاوو ماتول دي، دا د زورورو د استبداد افسون او د حاکمانو د خودخواهۍ جنون دی- ځکه ما ته دا مارشونه که څه هم زما په هېواد کې ترکیب شوي دي پردي ښکاري او نه یې اورم او د هغه مغرورو ترانو څخه کرکه لرم.

آخر زما وطن چېږې دی؟ زما کار څوک ستایي؟ او زما د زیار لپاره څوک ترانې لیکي؟

هغه مارش چېرې دی چې ما له خپل اولس او ستر هېواد سره ونښلوي؛

راشئ چې خپل مارشونه ولیکو؛ راشئ چې خپل زیارونه وستایو؛ راشئ چې داسې سرودونه او ترانې ولیکو چې په هغو کې د خپل ځلاند مستقبل لویه لار ووینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ چې خپلې ترانې وبولو او د هغو په بللو کې هغه ټول خلك راشریك کړو چې د آزادو ترانو له بللو څخه محروم شویدي او اوس د خپل تور سرنوشت په اوږده شپه کې د شپیدو د راختو سندرې بولي.

راځئ هغه سرودونه هست کاندو چې موږ له خپل لوی هېواد له خپلو خلکو او ټول بشریت سره یوځای کوي؛

راځئ د سولې، عدالت او ورورۍ سندرې وبولو او د خلکو د دښمنانو نه پخلا کیدونکو زړونو ته د خپل اولس د برم او برې زازله ورننه باسو.

راځئ سندرې وبولو !

کابل-۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند وروستی پيغام

شپه وه ... توره شپه وه

د بادون په غورهاو او د وريځو په منځو کې د آسمان ستورو د غم توره برستن اغوستې وه، دښتې او غرونه د شپې په ګيډه کې ورک شوي وو، سندرغاړي حشرات غلي شوي او مرغانو غاړې نه وهلې.

د کلي سپېځلې هوا، شين او ځليدونکې آسمان، ښايسته شپه او ښکلی چاپيريال ګرد سره د طبيعت د غضب لاس ته لويدلي وو.

ګړندی توفان راروان و او يوه دوزخي تياره يې پسې راخکوله. د هيچا او هيځ شي آواز نه پورته کيده.

شاعر په داسې يوه زهرجنه او ويرځپلې فضا کې د خپل ژوند د ترانو او دردونو کتاب پرنيستی او د يوې ژيړ بخونې ډيوې تر رپېدونکې رڼا لاندې يې د خپل ژوند وروستنی يادګار ليکه:

« اته کاله پخوا زه ستاسې ښايسته کلي ته راغلم، ما دلته د هستو. نې خيال نه درلود، ما يوازې دومره غوښتل چې ستاسې د ښايسته بانډې نه د يوه ښکلي شعر د ليکلو الهام واخلم. مګر ماته ناڅاپي پېښو په دې کلي کې دنا مسيرو هيلو او هوسونو دنيا جوړه کړه. د دې دنيا بنياد ستا مينې کېښوده او ما د همدې مينی لپاره په نا آشنا خلکو او نا بلده سيمه کې ځان د ناپايه غمونو منګولوته وسپاره.

ستا د پاره مې ستا کلي، ستا غرونه او سيمه وستايل او تاته مې خپلو ترانو کې نه هېرېدونکي او ابدي افتخارات درواړول. »

سيلۍ وررو وررو زور اخيست او تيلره شېبه په شېبه زياتېدله، غمجن قلم تر ژيړې رڼا لاندې د يوه ناميند شاعر د ژوند وروستنۍ او ربړې انديښنې داسې پسې ليکلې:

« ښايي هغه وخت چې زما هډوکي خاورې شوي وي، هغه وخت چې زما قبر خلکو څخه ورک او هېر وي، هغه وخت چې څو پسرلي، دوبي او ژمي په ماتېر شوي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د شعلا پتنګان او د ښکلا مینان به زما خواږه او ترخه اشعار ولولي. ښايي زما اشعار او ترانې د ډېرو ځېږو انسانانو عواطف نرم کړي، ډېرو وژړوي او ډېرو وخندوي، مګر د لوستونکو خوښي او خپګان به ماته هيڅ ګټه نلري، له ما سره آسمان خپل ظلمونه کړي وي، سرې او تودې به راباګدې تېروي، د پردیسۍ او خوارۍ سلګۍ به .ې وهلې وي او په بېکسۍ او ناپيژندګلوۍ کې به مړ يم.

رښتیا، آسمان دا بې عاطفې او بې شعوره موجود څومره ظالم او بې پروا دی. نن چې زه د خپل ژوند د ترانو وروستۍ کرښې لیکم ده د شپې په ستورو د حسد پرده غوړولې ده او سندرغاړو حشراتو ته يې ويلي دي چې غلي شئ او ما يوازې پرېږدئ.

تیاره شپه، وريځ آسمان او وحسي توفان زما د نږدې مرګ ساني غږوي او د ډیوې ژيره رپېدونکې رڼا زما ورستيو سلګيو ته هر کلي وايي.

راځئ، راځئ زما ناکامو هيلو چې پدې ورستيو ترخو شېبو کې خدای پاماني سره وکړو او تر ابده سره هېر کاندو.

اې زما دردمنو سترګو ! يو ځل، آخر يو ځل د وريځو زړه وڅيرئ او ما د آسمان د ستورو سره مخامخ کړئ چې د خپل جمال پرست جوق تنده پې ماتخ کړم.

ای توفاني بادونو ! خپله مخه د سهيل خواته واړوئ، ترغرونو، سيندونو او ځنګلو تېر شئ، زماد عمر وير ځپلې افسانې درسرهولېږدوئ او زما د وړ کتوب په ټاټوبي کې يې زما همځولو او دوړ کتوب ملګروته وسپارئ.»

د پرديس ترانه ليکونکی قلم په همدې ځای کې ودريد، توفان د جونګړې کړکۍ ماته کړه او دوه ډيوې يو ځای تپې شوي.

کابل-۱۳۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اباسین سپېدې

سپېدې نوې چودلې وې چې اباسین ویده شوي دردونه وپارول او د سباوون زړمې چې د سین له مستو ډپو راغبرګېدلې ناویلي رازونه وسپړل.

بزګر د خپلې څپړې په مینځ کې د مهاجرو مرغانو کړنګهار له خوبه راپاڅاوه، سترګې یې ومښلې، په ډډه شو او بیا لکه د بړبکیو لمبه انځاپې په خپل بستر کې ودریده.

سترګې یې پرانیستلې، د آسمان په ختیځه څنډه کې یې نظر د سپېدو په سپینه پټاړه ونښت، سره راتاو شو او یوه اوږده دمه یې واخیستله، سپېڅلې هوایي ویده قوتونه په مټو کې وخوځول، له څپر نه راووت، د اباسین کوړه کوږه او لیونۍ څپې یې تر سترګو شوې، پاس یې وکتل د نیلي آسمان لویي او درنښت سخت ولړزاوه، د لویدیځ په څنډو کې یې د ستورو په آزادو حدودو نظر ونښت او ناڅاپي یې ځان ته پام شو. سترګې یې واوښتې، ګنګ یې بدل شو، شونډې یې ورپېدې، لاس یې واچاوه او دخپل کمیس ګریوان یې تر لمنې پورې وشلاوه. غوښتل یې ځان د اباسین خونړیو څپو ته وسپاري او د سین په آزادو څپو کې د اسارت شرموونکې ټاپې له خپلې لمنې څخه لرې کاګدي، مګر یوه نامعلوم احساس یې په شونډو باندې د یوې ترخې مسکا څپه وځغلوله. سترګې یې د سر په کاسه کې راخرخېدې او شونډې یې په خوځېدو شوې:

زه په دې لویی او بې پولې نړۍ کې بندي شوی یم. زما سترګې یې ړندې کړې دي. زما په لاسو کې انګړۍ اچولې او زما په اوږویې درانده پیټې رابار کړیدي. زه د بل لپاره اوسم او د بل لپاره مرم.

لکه په شپې پسې شپېدې راځي او شپېدو پسې لمر راخېږي په بندګۍ او اسارت شپې هم آزادي راځي، مګر د انسان د اسارت شپه د طبعیت تر شپې ډېره اوږده ده.

اوس چې زما په مټو کې ویده قوتونه سر راپورته کوي ګوندې داتور ځګځیرونه به ماتېږي او دآزادۍ د لمر ختو وخت به رانږدې شوی وي.

راوخېښه، ای مقدسه لمره راوخېږه؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پړده چې زه د اسارت تو ځګځيرونه پخپلو پښو او لاسونو کې مات کړم.

پر پړده چې په دې آزاده نړۍ کې آزاد اوسم، آزاد ژوند وکړم او آزاد مړ شم.

۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژېړې پاڼې

هر كال همداوخت كله چې د ونو پاڼې ژېړې شي زما په روح كې د غلي شوى تور توفان ځپې يو ځل بيا سر رااوچت كړي او ما له ما څخه وباسي او لكه له زاكه وتلې بېړۍ هماغه ځاى ته مې بوزي، له كوم نه چې دې ځاى ته راغلى يم.

ډېر كلونه وړاندې زموږ د كلي په ختيځ ډاك كې د كوچيانو كډې ښكته شوې وې. د كلي د ماشومانو يارانې له كوچي ماشومانو سره نوى رنګ او بل كيفيت پيدا كړى و. هر سبايي به د لمر له تودوخې سره سم زموږ او كوچي ماسومانو ډلې په خوني خوړ كې سره يو ځاى كيدې، كله به تر غرمې هماغلته د خوړ په شګو او خاوروكې لوبيدو او كله به د كېږديو چاپيريال ته ننوتو د مېږو، وريو او جونګيانو په ځورولو او ترهولو به بوخت وو.

ماشومتوب او د هغه د طلايي شېبو تصورات، منډې رامنډې، پرله پسې جنګونه او ژر پخلا كېدل، د كوځې، خاورو او ختو شوق زما لپاره يوه ښكلې بې انجامه دنيا ده چې په رايادولو يې هيجاني كېږم او داسې راښكاري چې زه بيا ماشوم شوى يم.

هغه وخت زه لا د مينې او هجران په نعنى نه پوهېدم او ما لا د عشق شربت نه و ذښلى. يوائې يوه خوشالوونكې تودوخه راكې پيدا شوې وه. د نجونو مركې او ناسته به ښه رابانددې لګېده. ورو ورو مې د خپلو همځولو لوبې پرې ښودلې او د كېږديو له نجونو سره مې مينه زياته شوه ؤ د لوبو ملګري مې خوښ كړل او له «لښتې» سره له خوړ نه هغه خوا د وريو او سيرليو لوبغالو ته ورواوښتم. څو څو ځله مې «لښته» له كېږدۍ څخه كلي ته راوسته او په وار وار زه له هغې سره كېږدۍ ته لاړم.

موږ به په ګډه د دوى كېږدۍ ته نيږدى د شګو كورونه جوړول. مازيګرى به زه ترې راجلا كېدم او د خپلې كلي عمومي دروازې ته ته به راستون شوم. په وروستيو ورځو كې مازيګرنى بيلتون راته ګران شو . كلي ته په نفرت او كراهت بيرته راګرزيدم. زړه به مې غوښتل چې هماغلته د تورو كېږديو په ورغاليو كې له «لښتې» سره پاتې شم.

«لښتې» كرار كرار زما په زړهكې تاندې وغځولې او داسې پياوړې وه شوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په ټول وجود کې يې څانګې او ولې خپرې کړې.

يوه ورځ چې مور دواړه د کلي لورته رارowان وو ومې ليدل چې د «لښتې» ستر ګې له اوښکو ډکې شويدي، خپل زړه ته مې پام شولکه بندي مرغۍ په غور ځېدو او ټوپونو سر شو.

-ولې لښتې ! ؛ ولې راړې ! ؟

-ته يې نه وينې چې د ونو پاڼې ژيړې شوې دي ؟

-هو وينم يې ، څه شوي دي ؟

-زمونږ د کډو وخت رانږدې شوی دی .مونږ به له دې ځای نه ولاړ شو.

ما هيڅ ونه ويل او مونږ دواړه په ژړا شوو. ملر مونږ نه پوهېدو چې ولې ژاړو. ژيړو پاڼو زمونږ په خولو مهرونه ولګول. ساړه بادونه راوالوتل او مونږ يې سره جلا کړو.

دوه ورځې وروسته د کوزيانو کډې بار شوې. واشومان او زرلان يې په بارونو د پاسه وتړل او په يوه ستوې ليکه کې د پراخ بيابان پر نږۍ لاره د ختيځ لورته وکوچېدل. زه ورته ولاړوم، ژړل مې، هيچا زما پر مخ لاس تېر نکړ او راپام يې نه شو . د لوړې ځل لپاره ما د بېلتون ترخه او يوځوونکې مزه وازمويله.

لاتر اوسه چې په سر کې مې سپين ويښتان پيدا شوي دي د ونو ژيړو پاڼوته ريږدم او هر کال يو ځل ورته ژاړم.

کابل-۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرور شپون

د مازيګر ژېړ او غمجن لمر وړو وړو د هوارو دښتو لمنو ته راکوزېده، د کلي له شاو خوا ډاګونو څخه د مېږو او وزو رمې کلي ته راستيندلې، د پراخو دښتو د پاسه دوړې او بادونه روان وو، په خړه او خيرنه هوا کې د لمر ټيکلی لکه ژېړه دايره بريښېده.

«تور» د کلي وړاندې د جومات تر څنګ له ملا امام سره ولاړ و.

يوه زړه بړستن او شليدلی ليمڅی يې په شا پورې تړلي او يوه پيوندي بنيـ‌يې تخرګ ته اچولې وه، خړ سپي يې د لارې په مينځ کې پروت و، لويه خوله يې پرانيستې، ژبه يې راايستلې وه او ژر ژر ستمېده. ناڅاپي به په ملا باندې وربرګ‌ پو او ورته وبه غورېده، بيا به تور ورته په غصه شو او له ملا څخه به يې منې کړ.

زه نه پوهېدم چې تور به پخپله اوږده مرکه کې له ملا سره څه ويلي وو، مګر وروستۍ خبرې يې ډېرې درنې او پريکړونې وې.

تور وويل: «ملا صاحب! ما خپل هلکتوب او ځواني په همدې خلکو کې تېر کړل او ډېر کلونه مې د دوی رمې وپوولې.

هر ځل چې د کلي په رمو او ښانو غله لويدل زه لومړنی سړی وم چې په هغوی پسې ووتم. کله چې د دوی د رمو په ورشو کې يو خوني پړانګ پيدا شو زه وم چې پسې او ورځې مې يو کړې، ترڅو مې هغه ونه نيو خوب رانغی او سرمې ونه لګاوه.

بيا کله چې غلو د کلي په شاو خوا لارو داړې اچولې زه وم چې خپل سر مې په لاس کې ونيو او د غلو مشرمې کلي ته تړلی راووست.

زه وم چې بې بوټونه مې بوټي وکړل، له بې کور سره مې ختې وکړې او له يتيمانو، کونډو، رنځو سره مې رمې وپوولې.

بيا زه وم چې له وږيو سره مې خپله ډوډۍ نيمه کړه او تږبو ته مې په وچو ډاګو کې اوبه ورسولې، له مريضانو سره مې شپې سبا کړې او له ويرجنو سره مې وژړل. مګر کله چې وږی شوم، ناجوړ شوم، ناداره او بربنډ شوم له هيچا څخه مې ونه غوښتل او هيڅ لورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې لاس و نه غځاوه.

داسې وخت راغی چې زه ځانګړې ژوند ستومانه کړم او ومې غوښتل چې پدې خلکو او عزيزانو کې ځانته د ژوند امسا پيدا کړم. ټولې دروازې زما پر مخ وتړل شوی، هيڅ مور او پلار پيدا نشول چې ما زمنې او هيڅ پړونی پورته نشو چې ماته خپل سيوري لاندې پټ کړي.

همدا وخت و چې ما دا کلي او د هغه خلک وپيژندل.

افسوس! زه نه پوهېدم چې دوی د ميړو، رمو او ښانو کتارونو ته سر ټيټوي او د خلکو خدمتګار نه پيژني.

زه نه پوهېدم چې زما شجاعت، زما توره، زما وفا او زما اوږده خدمتونه ددې خلکو مينه نشي ګټلای. مګر اوس چې لا زما په متو کې د ځوانۍ مستي نه ده غلې شوې، تر او سه چې زما منګولې او مړوندونه زما لپاره خوځېدای شي او لا تر او سه چې زړور او پياوړې پلې لرم بايد له دې سيمې شخه ووزم او خپله ځوانۍ د خپل نږدې سپين ږيرتوب لپاره سترې کړم.

زه نه راستنېږم، ځم او خامخا ځم. داسې ځای ته ځم چې ددې ظالمانو د رمو ګردونه او د کلاګانو سيوري رابانې و نه لوېږي.

داسې ځای ته ځم چې هلته د ميړو او ښانو بيه تر زړورو او زړهسوانډو خدمتګارانو جله نه وي ...»

تور خپلې خبرې خلاصې کړې او د دتو په ځوځانو کې په بې لارې لوري روان شو.

لا تر او سه چې ډېر کلونه تېر شويدي د ماښام په تياره کې د تور دو دده شپې هغه منظره رايادېږي چېيو په بل پسې په وچ ډاګ کې مخ په وړاندې تلل او د ماښام غمجنې تيارې ورو ورو پخپلو پردو کې ورنغښتل.

کابل-۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهرمان څه وویل ؟

انځر له انګریزانو سره د آزادۍ په جنګ کې لګیدلی و . د تورو اسکټ د پاسه د وینو لښتي رابهېدل. مخ یې تر خولو لاندې لوند خیشت او ستر ګې یې لکه د ځېږي سکروټې تکې بریښېدلې. یوه ملګري خپل لنګوټی سوی و او د انځر د اوږې پرهار ته یې زړو کې برابرول. یوه بل ملګري د پټي د ایښودلو لپاره ل.څوله. قهرمان انځر شور او فریاد نه کاوه، مګر په پراخ تندي کې یې د درد او سوي په وجه ګونځې او ککښې پیدا شوې وې. تورې اوږدې څڼې په سپیره مخ باندې خورې ورې پرتې وې. خدازده د انځر په زړه کې څه وګرزېدل چې په سوې سایې له پردل څخه پوښتنه وکړه :

ـ پردله ! پوهېږې موږ د څه لپاره مر ګو ته غاړه ږدو او دا جګړې کوو ؟

هغه وویل :ـ ددې لپاره چې پرنګیان مړه کړو از غازیان شوو !

یوه بل ملګري وویل :ـ ددې لپاره چې توریالی خلک باید جګړه وکړي او چاته سر کښېنږدي. انځر د نفي سر وښوراوه، بیا په ډډه شو او ویې ویل :

ـ موږ ددې لپاره جګړه کوو، دا حقیقت ثابت کړو چې ستر یرغلګرو ملتونه په زور او جبر پر کوچنیو سوله غوښتونکو ملتونو باندې بری نشي موندلای او د خلکو وحدت په الوتکو او ټانکونو ګن ماتېږي.

قهرمان دا وویل سریې ولګاوه او مړ شو.

دوه کاله وروسته، یعنی هغه وخت چې د افغانستان په غرونو، رغو باندې د آزادۍ وږمه چلیدله، یو مشهور نقاش د آزادۍ په جګړه کې د یوه زخمي زلمي تصویر وکیښ او ترې لاندې یې ولیکل :

موږ ددې لپاره جګړه کوو، دا حقیقت ثابت کړو چې ستر برغلګرملتونه په زور او جبر پر کوچنیو سوله غوښتونکو ملتونو برې نشي موندلای او د خلکو وخدت په الوتکو او ټانکونو نه ماتېږي .

کابل ـ ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي قهرمان

د لویې لارې له اړخ سره د اوړي تاوده لمر ته لکه غر ناست و. د خام سړک له مخې د موټرونو دوړې پورته کېدې او لکه له غره نه د پسرلي وریځې او لړې ـ ترې راچاپېر شوې وې.

زه لا ډېر نه وم ورنېږدې شوی چې دی لکه د ځوځانو لمبه ګړندی په خپل ځای کې ودرید او ژور ژور یې راته وکتل. لوړه ونه، اوږده څنې، ارت تندی، ځېږې وروځې او توژې فتې سترګې یې آشنا راته ښکاره شوې، خو ومې نه پېژانده. د مورو ځپلی یې خاورو پ. ښاې وې او د پرېړو پوندو چاودنه یې له ورایه ښکارېده، د لستوڼو څنګلې یې سوری شوې او د کمیسه غاړه یې خیرو خوړلې وه. یو زوړ څادرېې په کینه اوږه پروت و او له شانه یې ښکته ځمکې ته ځوړند شوی و.

په خړ پرتاګه کې یې څو ځایه تور او شنه پیوندونه ل.یدلي او پایڅې یې تړانګې تړانګې په څپلیو راپرتې وې. ماته ځیر و او ځنګه چې ورنږدې شوم سلام یې راواچاوه. د سلام ځواب مې ورکړ. نوک مې وینو او پوښتنه مې ځینې وکړه:

ـ ماته خو آشنا ښکارېږې!

ـ نه، آشنا به دې نه یم، زه له ډېر لرې ځایه ښار ته راغلی یم.

غلی شوم او ترې زخوځېدم، دده په څسر خلك ډېر دي چې د ښار په کوڅو کې ګرزي او درویزه کوي، دی به هم دغسې یو شی وي، پرې یې ږده زه خپله لاره کوه.

څو ګامه لا وړاندې نه وم تللی چې کاته مې نابلد مساپر ما پسې رارهي دی، شکمن شوم چې څه مطلب به لري، مخ مې ورواړاوه، پوښتنه مې وکړه:

ـ زما سره خو به دې څه کار نه وي؟

ـ هو شته مې.

کاته مې چې څه ویل غواړي او ښایي سوال به کوي، خو شرمېږي او له خولې یې نه راباسي، نو مخ مې ورواړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ مه شرمېږه ! څه دې ويل ؟

ـ خرڅی نلرم ، وږی يم .

جيب ته مې لاس يوړو، د لسو روپيو کاغج مې راويست او ورت ومې نيو . دی په بريتو کې مسکی شو او د نفې سرېې وښوراوه، بيايې له غروره په ډکه لهجه وويل :

ـ ما تر اوسه پورې د ګدايي ډوډۍ نه ده خوړلې او اوس يې هم نخورم.

د نا آشنا مساپر خبرې لکه د برېښنا څپه زما په پلوکې وځغليدې، غوني مې ځيږه شول او ستر ګومې پړق وهل، د غرو انسان مې په دماغ کې دومره ستر شو چې د ټولو لويانو ځای يې زما په مغزوکې ډک کړ.

هر څه مې په نظرکې بل شان شول، خپل ځان مې تر پام کوچنی شو او سخت وشرميدم ـ له خپل عمل نه پيښمان شوی وم ؤ خو نه پوهېدم څه وکړم . پوښتنه مې ځنې وکړه :

ـ عزيزه ! نو ته څه غواړې ؟

ـ زه کار غواړم ، زما مځې از منګولې ډېرې پياوړې دي او کولای شي زما ګېډه مړه کړي .

ـ څنګه کار ؟

ـ داسې کار چې زه يې کولای شم ـ لکه کاريز وهل، پخڅهؤ لرګي ماتول او نور کارونه !

ـ افسوس چې دتسې کارونه ما ته معلوم نه دي .

ـ نو دا څنګه شي ؟ ما پرون هم ډوډۍ نه ده خوړلې ؛

زه چې د پرديس انساني لويوالي سخت لاندې کړی وم سمدستي مې بلنه ورکړه :

ـ ښه لاره داده چې له ما سره لاړ شي او تر څو کار پيدا کوې له ما سره پاتې شي !

ـ نه ، نه دا کار نه کوم .

ـ آخر ولې ؟

ـ زما مفته ډوډۍ تر ستوني نه تېرېږي، هسې نه چې دامې عادت شي .

دايې وويل او راڅخه روان شو ، زه هلته هک پک ودرېدم او تر هغه مې پسې کتل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو په تاوراتاو کې له نظره وووت . ډېرې خبرې چې باید ورسره کړې مې وای نا ویلې پاتې شوې. ډېر پښیمان وم چې زلې مې ښه پوه نکړ، خو د خپل خپګان په پای کې پوه شو پ وم چې ما د خپل هېواد یو حقیقي قهرمان ولید .

کابل- ۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېړیو مساپر

د زمان په ناپایه سمندر کې پر مخ ځي ، د ملر چینې ته د رسېدو په هیله د تاریخ د لرې او نامعلومو پړاوونو پر لور لامبو وهي . د پېړو او پېړیو یاغی ځپې یې پرله پسې پر مخ او تندي وهي ، خو دی مخ نه اړوي او د یاغي سمندر د څپو په غرو او غونډیو کې د توفانونو د قهر او غصې پر لیکهۀ د وحشي او بېرحم باد تر تازیانو لاندې په سره سینه د خپل سرنوشت ساحل ته ورښویېښي . د پراخو هلو ځلو او د اوږده سفر ستړیایې د لاسو او پښو په غړبو کې شنډوونکې دردونه او سوی پیدا کړی دی ، ستر ـ ګې یې د سمندر مالګینو او بو عیبجنې کړې او حساس غوږونه یې د توفان په چیغو او کوکو درانه شویدي . ورمېږیې درد کوي ، د ملا تیر یې څړیکې وهي او ستوماني یې د وجود په ټولو جراتو کې ننوتې ده .
په تورو لړو پوښل شوی آسمان لکه تور جلاد پاس په سر ورته ولاړ دی او د توفان له هر ټکر او هر هیبت سره خپله بریښنده توره ورته ځلوي .
یاغي سمندر د توفان په مستیو کې کله کله د خپلو ګردابونو خولې خلاصې کړيۀ د لامبوزن لاس او پښې سره وچرموړي او د خپلې خیټې ژور تل ته یې ښمیباسي ، خو دی بیا خپلې متې او منګولې د سمندر په لړمانه کې په ډېر زور و خوځوی او د ډوبوونکې ښتمار له ژامو څخه د ژوند د دوام په مقصد لکه د افسانو لال بېرته راووځی او د څپو په لاړورو کوونکې ځنګله کې دوباره د لمر چینې ته د رسېدو په هیله د رازیږېدونکې زمان د ساحل پر لوري ورښویېږي او پر مخ ځي او یوه ورځ به خامخا د لمر او رڼا چینې ته ورسېږي . هو ، خامخا به دا د زمانو د اوږدو او سختو لارو مساپر ، دغه زما وطن ، زما نه تسلیمیدونکې او قهرمان وطن د تاوده لمر غېږ ـ ې ته ورسېږي .
په وړاندې دتوفان او ځپو د ایاولو په لیکه !
په وړاندې ، د لمر د چینې پر لور !

کابل ـ ۱۳۵۷.۲.۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاريخ دريځ

نارينه ته يې وخندل ، پخپلو منارو ستر گويې د هغه ورېږ ستر گې ښکار کړې . پښې يې د شهوت جلال او جبر وت ولړزولې او د تاريخ له دريځ نه د ښايسته کوډ گرې پر لور ور کوږ شو. د دريځ کږه شوې دړه د گړنگونو پر خوا ورشيوه شوه او خپل ځښتن يې وښوياوه . هغه له دردوونکو لويدو وډار شو، هيبت نا که زيغه يې وايسته او را په شا شو، خپله موازنه يې بېرته سمه کړه. کوډ گرې ښاپېرې په لوخو اوږو باندې د خورو ځړو ځپې راخوشې کړې او د خطاوتي اتل پر اراده يې نوی يرغل ورووړ. د هغه ښه وا و ښته، دوه گامه ورنېږدې شو، له خلکو ځخه يې مخ وا و ښت او غېږ يې د وژونکو عطرو په ورږمه ډکه شوه. د تاريخ دريځ چې دی د وينو او اورو په واټ ورر سېدلی و ، پې را کوږ شو او د مبارزې د ځغلنده آسونو پښو ته راولويده. سپرو د ځغاستې کرښه تعقيب کړه او بل سپوريې د تاريخ پر دريځ ودراوه. غرونه او درو، ونو او سينونو هغه ټول کسان هېر کړل چې خپلو هوسونو د ځغاستې له کرښې نه وايستل او د ننگ د آسونو نه يې وغور ځول .

د تاريخ پر دريځ باندې يوا ځې هغه څوک ځان نيولای شي چې زړه او ځيگر د حرمان سوځوونکو لمبو ته ونيسي او د ميړانې د ترخو زهرو ښلو ته غاړه کېږدي، د زيارايستونکي انسان د تاريخي هوډ لپاره د خپلو غرايزو سر کش ښامار راتم کړي او ورسره د تاريخ د شخړو پر اوچت دريځ باندې ودرېږي.

د تن پروری او عياشۍ لاره او د بشريت لپاره قربانۍ لاره سره جلا دي. د خلکو د قدرت دړه او دريځ د محرومېو او نامراديو تخت دی؛

د خلکو د بريو تاج داغزيو خولظ ده، هيڅکله د قدرت ليوالو او د شهرت ليونيو ته نه په سر کېږي.

د تن پروری او قربانۍ واټونه سره جلا دي. هغه څوک چې زړه د بدمرغيو په سکروټو نه شي ايښولای او د تباهيو د لمبو بټۍ ته نه شي دريدلای د هغوی لاره په لمريځو کوځو او د ميړانې پر نيغو پرښو نه تېرېږي او سفريې د لمر ختو چينې ته نشی رسيدلاين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارویه !

لارویه ! ولې خپه یې او د څه لپاره غمجنې سندرې بولې ؟ ولې د لارې له اغزیو نه شکایت کوې او له کوهیو او ګړنګونو څخه ویرېږې ؟ ولې له ستومانۍ نه فریاد کوې او د لارې له سختۍ نه ګیله لرې ؟

څله هر مساپر ته د پښو تناکې ښیې او له هر لاروي نه مرسته غواړې ؟

څله د رهزنانو جفا نشې زغملای او ولې د مینې په اوږده لاره کې بې صبرې کوې ؟

پر بېږده چې تالندې خورې شي ؛ پر بېږده چې خونړي بارانونه واورېږي ؛ پر بېږده چې سیلاوونه په تیاروغرونو کې ستا مزل مشکل کاندي؛ پر بېږده چې شیطانان د لارې په پیچومزکې تاته دامونه او تلکونه کېږدي؛

دا ټول به دمینې په اوږده او ستومانوونکې مزل کې تاته د سختیو د ګاللو او د هدف د تعقیب زغم درکاندي. دا به تا وازمویي او پر غمونو به د بریدو چم دلروښیي.

ته باید په باد او باران کې پر کوهیو او ګړنګونو باندې د تېرېدو او د انسان په غمونو باندې د بریدو ترانه بشپړه کړې ؛

ته باید د زیارایستونکې انسان د نوې ژوند حماسه هست کاندې ؛

ته باید د ویرې پردې وڅیرې او د هیلو زرین مزې د ربړ ګالونکې انسان د سفر په لاره کې وغځوې ،

ای مقدسه لارویه ، پرمخ ځه ، پرمخ ځه او د زیارایستونکې انسان د نجات حماسه بشپړه کړه !

کابل- ۱۳۴۷.۱۰.۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لامبوزن

ټکنده غرمه وه چې لاروی د کونړ د سين غاړې ته ورسيده. خولې يې لکه لښتې په مخ راماتې وې. لين. يو او ملايې درد و کاوه او سخت ستومانه شوی و. د لوخو پښو تلې يې چې د لارې شگو او تېږو وهلې وې پولی شوې وې. شاوخوايې ستر گې وغړولې، هاته د يوې هوارې ډبرې په سر کښيناست، د شا پيټی يې په ډېره سختۍ له اوږو جلا کړ. خولۍ يې وايسته او د مخ خولې يې پې پاکې کړې. اوږد او سيای يې ويوست او په راغلې اوږدې او نړۍ لارې باندې يې نظر وځغلاوه. په بريتوکې مسکی شواو د هوارې ډېرې په مخ ستونې متاغ وغځېده. کاته يې هالته بر د واورينو غرونو له شا څخه يوې تورې وريځې لکه چغلگر بنيادم غوږ.وونه راپورته کړی وو، پاس، ډېر پاس د آسمان په نيلي ميدان کې د ريو ټپوسانو په يوه دايره کې اتڼ واهه. د سين موزيک او سړې سپلۍ د مساپر ستومانه پلې چاپې کړې او د خوب ليونيو ځپو ته يې وسپاره. چې ستر کې سې سره ورغلې خپله «سپانده» لوريې په خوب کې وليدله، سپانې په ژړا ژړا کې ورته وويل:

داداگله! زه ډېره وږې يم... له هغې ورځې چې ته تللی يې ماته چا د جوارو وږی نه دی راوړی...

لاروی ويښ شو او بې ارادې په ځای کې ودريد، ټول وجود يې رپيده او دوه څاڅکي اوښکې يې د ستر گو په ځيږ.مو کې غوټه شوې وې. ځان يې بيدار کړ، جامې يې وايستې او کوچنی ژی يې پوکړ. پيټی يې واخيست؛ د اوبو څنډې ته يې راښکود، په شونډو کې يې ورو څه وويل او ځان يې د سين په اوبو کې لاهو که.

کرار کرار د اوبو پياوړي روته وژسم شو او اوبو پخپله سبنه باندې تم که. کوچني ژي د درانده پيټی زغم نه درلود، لامبوزن يې ستومانه که، کښته کېږه او پورته کېږه، دلته دې ځپه پرمخ لگېږه او هلته دې لږ او به په خوله ننوزه. په دې جنگ او جگړه کې لامبوزن د سين له هواره ليکې نه ووت او د ياغي ټپو سيمې ته ورگډ شو. د اوبو يو سخت ټکان د ژی او پيټی د لمبوزن له منگولو څخه وشکول، سخته ويره ورو لوېده خو چې هر لورې ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل او به وي، لاندې او به ، پاس او به، ځمکه او به او آسمان او به. د نظر په هينداره باندې يې يوه ناپايه خړه دنيا راچاپير شوه. بېوزلې د خپل ستومانه او ترخه ژوند اوږده لاره لکه برېښنا په يوه ګړندۍ تېښتېدونکې شېبه کې تر ستر ګو تېره کړه او ورپسې يې د اوبو په تل کې يو مستانه اتڼ واچاوه او د بې نښانه اوبو وړيو د کاروان ليکه پسې وروخوځېده !

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه مینه

د پسرلي وږمې لکه زړه سوانده مور د ښتو د شنیلیو په څنو ورو ورو گوتې تېرولې. یوه سپینه وریځ د نیلي آسمان په سمندر کې د سپوږمۍ تر پلوشو لاندې لکه د بلورو بېړۍ څنځیري غرونو د پاسه د لویدیځ افق خواته بهیدله. د شرنې په شگلنو او پراخو ډاگو کې د کوچیانو تورې کېږدۍ پلنې شوې وې او د هغوی د بې شوره محیط کراري به کله کله د سپیو غپا ماتوله. په داسې یوه شپه کې هالته لرې د ښتو په ورستۍ څنډه کې د غرونو لمنې ته نږدې د خانانو د برجورې کلا تر مخ مست اتڼ روان و.

د څیړۍ د تیرانو د لمبو وړانگې د کلا په برجونو او دیوالونو داسې خوځېدې لکه د مینې سوځوونکې هوسونه چې د نوکاره عاشق په مغزو کې ټسپې وهي او پر هر شي ورځغلي. د خنداوو کتهار، د ډولونو شور او د اتڼ جوش د ټولو زړونه تاوده کړي وو.

مغرور زوم او دولتمند خسر بر سر په وریښمینو بالښتونو تکیه وهلې وه او داسې په خوشالتیا کې ورک وو چې خپلو ښوا که او سپکو خرکاتو ته یې پام نه رااوښت.

ډک چلمان ځکته، پورته ځغلیدل، د چاینکو او پیالو شرنگی خوریده، شمله دار وریښمین لنگوټې او زرین واسکټونه لاندې، باندې رااوښتل.

دټوپکو ډزواو د آسونو شنهکي دخانانو واده ته ترهر واده زیات ښایست او درنښت ورکړی و. خوښۍ په هرچا وزر خواره کړی وو، بیا په تېره پر زلمیانو چې پرله پسې نڅېدل ـ خو هلته پو داسې زړه هم و چې د غمونو وریځې ترې راتاو شوې وې او د خپل ناکام هوس د حسرت په لمبو کې سوځېده. دوو سترگو او ښکې تویولې او د دې او ښکو پټولو لپاره د شپې تیاره او د برجونو سیوري مناسب پرده داران وو. دې غم ځپلې زړه او ویرجنو سترگو د داسې یوه مزدور ناکام عشق تراژیدي غږ وله چې دولس کاله یې د خانانو په دروازه کې بې مزده خدمت کړی و. دده توره، دده خدمت، دده ښه ځوانۍ او روغ صورت گرد سره ددې مینې تر خامې تمې جار شوي وو. ده گمان کاوه چې د خانانو زړونه به هم دده د زړه په څیر وفادار، مهربان او له عاطفې ډک وي، مگر اوس له دولسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو وروسته پوه شویدی چې په خطا تللی و. هیڅکله د خانانو او مزدورانو اخلاق یو بل ته نه دي ورته. هغه سخاوت او میړانه چې د یوه مزدور په کړو کې په طبیعي توگه شته دي هیڅ خان یې نلري او نه یې لرلی شي. د مزدور او خان تر مینځ هیڅ وړ تړون نشته دی، یوازې د راکړې او ورکړې عمل دی چې دا دوه یې سره یوځای کړي دي. مزدور په دایمي توگه خان ته د خپلو خولو محصول ورکوي او خان تل تر تله د مزدور د عمل د برکاتو غلا کوي ـ همدا دائمی سخاوت او دائمي غلا ده چې دوی سره نږدې کړي دي.

د «پیرک» ټولې هیلې له خاورو سره برابرې شوی وې، لکه لیونی د برجونو سیورو کې ننوو ت او پټیده، مگر د غمونو له تیزو ستر گو څخه یې خلاصون نه وؤ او ښکې یې تویولې، خو زړه یې نه تشېده، تنې یې خلاصولې او دمه یې نه جوړېده.
انسان د هر څه نه تښتیدای شي، مگر د خپلو عواطفو او احساس څخه د تیښتې لوری نلري.
خلکو خپل اتڼ کاوه او ډولونو ته ځرخېدل، هیڅوک د پیرک د گوگل په لمبو نه و خبر، نو ځکه یې دا کوشش ونکړ چې دده له ډوب شوی زړه او ناکامو هیلو سره مرسته وکړي او څه نه څه د یوې شپې لپاره دده داوښکو ستړی شوی کاروان تم کاندي.
د خانانو درنه کلالکه سمندري بېړۍ د شپې په څپو کې ورو ورو د سهار ساحل ته نږدې کېدله، مگر څوک نه پوهېدل چې دا بېړۍ به د دوی یو دردمن او فداکار مزدور ډوب کړي.
سهار راورسیده او سپوږمۍ د تورو او لغرو غرونو شاته وښوییده، ډولونه غلي شول او اتڼ ودریده. د شپې دوروستۍ شیبې سړې سپلۍ د سپېده چاود زیری خور کړ، مشر خان کلا ته راستون شو او په پیرک یې نارې کړې، خو هغه ځواب ورنکړ.
میاشتې تېرې شوې او کلونه واوښتل، خو هیڅ څوک پوه نشو چې هغه وفادار مزدور څه شو او چیرې لاړ، یوازې د دښتو ځوځانو او وحشي بوټو د هغه ساندې اوریدلې وې چې یو وخت به یې د راتلونکو پیړیو ځوانان واوڅي او پې پوه شي.

کابل ـ ۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوره

د زواکي کلي ته مېر دې دپارک د خوړ په غاړه د کوچيانو يوه کوچني کلي اړولي وو. بې کوره او سر گردانه خلکو په بې ښتنه ځمکو باندې للمی کرل او د پسرلي شپې ورځې يې د باران په هيله دلته تېرولې.

هيڅوک نه پوهېدل چې باران او ځمکه به دې سر گردانو بې وطنه پوونده وته د خپل سخاوت له خزانو څخه څه راباسي که يه ؟

کله به چې د هوار لويديځ په پراخه سينه د غروب سور پړونی وغوړيده لمونځ گذارو ښځو به خپل سرونه سرتور کړل او خدای ته به يې د باران سوالونه کول. سخت کال راغلی و ، د ميږو پې وچې شوې او غواو به له لوږې رمباړې وهلې. خلکو به ويل چې د قحطی د آخرزمان علامه ده او قيامت رانږدې شويدی. د ژوند نه ټول نامينده شوي وو. هر چا به د آخرت دعا کوله. په کلي باندې ورځ تر ورځې د ويرې او نامیندی تياره غوړيدله او له دې تيارې سره هر څه بدليدل. يوازې د کلي د ماشومانو يارانه او هلې ځلې يو راز پاتې وې. بربنړ ماشومان به له لمر ختو تر لمر لويدو پورې د کېږديو خواته په لوبو بوخت وو او چيغې به يې وهلې.

يوه ورځ چې په آسمان کې تورې وريځې راپيدا شوې وې او سوړ باد چليده ماشومان تر يوې کېږدۍ لاندې راغونړ شوي وو، د منړو ځای خبرو او خنداونيو او مرکه پيپې توده شوه. يو ځل سور گل چې لکه د سين کړي ژونغوزي په سير سرتر پايه لوڅ لپړ و، د دلې مينځ ته ورټوب کړ.

ـ غلي شئ ؛ زه يوه پوښتنه کوم !

نر هلک او ښه ملگری و ټولو غوږ ورته و نيو. ده پوښتنه وکړه :

ـ دا زموږ باچا څه خوري ؟

هلکانو شور بگت جوړ کړ ؛ يو ويل نغن، بل ويل غوښه، دريم ويل شودې غوړي، چا ويل پوڅه او ځينو ويل شوروا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور گل له شور نه وروسته د نفۍ سر وښوراوه او ویې ویل :

دا ټولې خبرې درواغ دي.

گردو ماشومانو په یوه ,واز وویل :

ـ نو ته ووایه، ته ووایه !

سور گل چې د غرور احساس ورپیدا شوی و په جدي او قاطع لهجه یې وویل :

ـ بوره !

هلکانو په چوپیا کې یو بل ته سره وکتل او تورپیکۍ سمدستي پوښتنه وکړه :

بوره څه شی دی ؟

سور گل وویل

بوره سپینه خوږه شگه ده، په خوله کې ویلې کېږي او چې لمر ته و نیسې لکه بکره ډېره ځلېږي.

نه کلن پردل چې غټې تورې سترگې یې په اسکرلي مخ کې لکه سوی عقیق ځلیدلې د کنډېدۍ له برې خونه راټوب کړل، د سور گل مخ ته ودرید او په لوړ آواز او گړنیو خبروکې یې ورته وویل :

بوره ډېرا خوږه ده ـ تر گوړې هم خوږه ده ـ کانه !

سور گل د تایید او مننی سر وښوراوه.

شپږ کلنه سپانده سور گل ته ورنږدې شوه او په نیولي آوازیې پوښتنه وکړه :

تا بوره لیدلې ده ؟

هغه وویل :

هو ما لیدلې ده !

ـ دا بوره ونه لري که بوټی ؟

ټوله ناري کړې :

ونه ، ونه !

یوازې سپانده وویل :

بوټی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور گل و خندل :

نه ، نه ! دا ټول دروا غ دي . بوره لکه واوره له آسمانه رااوري.

ټولو دا خبره ومنله، خو په دوی کې د بورې د ليدلو او خوړلو هوس پيدا شو .

سور گل ملگروته وعده ورکړه: که زما مور بل وار ناروغه شوه او ابا کورته بوره راوړه ټول به خبر کړم چې زمونږ کېږدۍ ته راشي او ويې گوري .

ښرنه ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزکشي

د خان آباد د دورې د پاسه، هوايي اډې ته نږدې زرگونه ننداچيان راټول شوي وو. له لرې نه مې د بزکشۍ د آسونو چکۍ[٦] تر سترگو شوه، خو کله چې د کوم زړور چاپ انداز او پياوړې آس د منگولو او منډو بخت سره برابر شول، نو د آسونو چکۍ به ماته شوه او ليونی سيلاب به ترې راووت چې نه يې لوړه کته او نه يې ځوره، نه يې کنده او نه يې پاڼ، په هره شي ورته او په هره خوايي دانگل.

بزکشي لوبه نه ده، له مرگ سره تمرين کول دي او له هغه نه د ژوند د چم زده کوونه ده، يوائې زړور او مصمم زلميان دا لوبه کولی شي. کرار کرار ور دمخه کېدم، د للمو په کرونده گره کې په يوه آس برابر شوم چې د يوه دنگ او زلمی ازبک سرته ولاړ دی، هغه د خپل آس سيوري ته په شنه لنده ځمکه باندې اوږد غځېدلی و، داسې اوږد لکه دمه چې ځنې ختلی وی. د اوږدو موزو په پوندويې د ختې ټاپي ناست وو. د پومبې ازبکي شلوار او پې د پاسه يې پر بره د مالوچو گوپيچه[٧] اغوستې او يو سور دستمال يې په ملا کلک ترلی و.

په شوندويې تو خروکی ناست وو، مخ او غبرونه يې دوه، درې ځايه سگه شوي او وينې شوي وو. پهسرباندې يې يوه سره گيتاړه تړلی ا. ستونی ستاغ پروت و. آس يې ډېر ستومانه ښکارېده، غاړه يې ښکته خواته ځوړنده کړې او لنگريې د شا په کېڼه پښه باندې اچولی و. په اوربوز باندې يې د پسرلنيو مياشو او مچانو ورانه کېدهوم.ر خوار کي له ستړيا نه لکۍ نشو خوځولای. داسې ببېحرکته په يوه ټاکلي زاويه زلاړو چې لکه دی نه وي او مجسمه يې وي. ډېر ځله د داسې ظاهري او سړو چوپياو شاته لوی غمونه او ترخه واقعيتونه پراته وي.

زه له همداسې يوه سپاره سره مخامخ شوی وم، زه دې پوښتنې ايران کړی وم دې

٦ ـ چکۍ ـ انبوه

٧ ـ گوپيچه ـ پر بره لنډه چپن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ځوان څنګه زړه له لوبې پرې کړی او دلته لری بې له دې چې لوبې میدان ته ور و ګوري لکه مړی وچ کلک پروت دی. بز کش او دومره سوړ؟ ! په دې کې ورورسېدم. زما د پښو په آواز را په ډډه شو. سري خوبولې ستر ګېینې راواړولې. آس غوږونه څک کړل او غاړه یې جګه و نیوله. چاپ انداز ستړي مشي را کړل او په مسکایې راته وویل:

وطنداره نسوار لري؟

ـ هو شته دي.

بلاغوند مې له جیبه راویوست او سر مې پرانیسا، ده لاس راوغځاوه او په زخمي ګوتویې زما نظر وزغلېده:

اوه! دا ګوتې دې ولې زخمي شوېدي؟

دی ورو غوندې مسکی شو، نسوارېې واچول او بیایې سور دستمال د سر نه خلاص که او ویې ویل:

دغه سر مې ویني؛ درې ځایه مات شویدي؛ دا بز کسي نه ده؛ آدم کسي ده. پخوا به د بز کشۍ میدان د مردانو و، خو اوس د نامردانو دی.

ـ اوس څنګه دا میدان د نامردانو دی؟

دی را په ډډه شو، کیناست او د یوه ساړه او سیلي نه وروسته یې وویل:

دا بز کشي د یوه غټ ارباب د واده لپاره جوړه شویدي او ستر انعامونه لري. ډېرو سېمو بز کشان دلته راغونډ شویدي. زه په رستاق کې په دې بز کشظ خبر شوم. شوقي سړی وم او ډېرې میدانونه مې وهلې وو، نو سمدستي دا آس په تپوس پسې ووتم او دغه آس مې له یوه بای نه تر ډېرو زیارو وروسته په اوو زرو افغانیو باړه که، په اوو زرو افغانیو یوازې د همدې لوبې لپاره. خرڅ او سامنه یې هم په ما ده. که سټ او یا ژوبل شي نو تاوان به یې هم زه ګالم، داسې تاوان چې که راباندې واوښت زما نور او د قلبې دوه غوایې پکې تللې بوله. خو که چېرې په دې لوبه کې بری لاس ته راغلی وای ن یی به د باړی پیسې راپرې ایښې وای او دې وتلې آس به د یومن سرو زرو بیه پیدا کړې وه.

بز کش یوه لنډه دمه و نیوله او بیایې وویل:

ما دخپلو بچیانو د خوراک وړه او جوار خرڅ کړي او ددې آس په باړه کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور کېږیدي . .

ده نورې خبرې هم کولې، خو ما وارترې واخیست او ومې پوښتنه :

نو ولې له قورې [۸] نه راووتې ؟

قوره ! داخو قوره نده، کوره ده کنه، پخوا به آسونو د منډو دربې د زړورو او مېړنیو زلمیانو د شجاعت او مهارت آوازې خیرولې، خو آسونو د منډو لیکې د بایانو او اربابانو د سهوت لارې سېخوي . دې ستمنو سیطانانو او دې په پیسو خرڅ شویو چاپ اندازانو دا پاکه لوبه خیرنه کړیده. بایانو دول چاپ اندازان مزدوران کړي او ګرو نړیدي. پیسو نامتو چاپ اندازان او پیاوړي کسان ګرد یره د خیټورو بایانو د غرور د تسکین لپاره یره یو ځای کړیدي. په داسې قورو کې هغه څوک ورغومی ایستلای شي، چې د اربابانو د نظرباو او ګرو شوی چاپ انداز ورسپه ملګری دي. په داسې حال کې زما غوندې د څانګړو او غریبو سپرو بخت او قوت دوړه څه نه شي کولی، بیا په تېره چې د بای له آس او چاپ انداز سره د ملا چارې او تاویزونه او د خان ملا دمونه هم یو ځای شي.

زه له سهاره تر غرمې پورې په خوره کې وم، څلور ځله مې ورغومې واخیست او یو ځل مې په چلبر [۹] پورې هم وتاړه، خو د شلاقو بارانونه به راباندې اوریدا او تر څو به زین ته سمېدم د بایانو آسونه او پیرودل شوي چاپ اندازان به مې په اوږو راوختل . دولو د خپلو بایانو له ډلو سره مرسته کوله او زه یوازې وم .

په کلي کې دولې کروندې او بازارونو کې درست دکانونه د بایانو وو. دا یوه بزکشي پاتې وه، اوس دا هم د بایانو شوه.

دا احمق چاپ اندازان مې څو ځله یوه کړل چې دا ترتیب ستاسې په ګټه نه دی، رائځئ چې سره یو شو او د لوبې مخه وګرزوو، خو نه مې مني. بایانو داسې کوډې پې کړیدي چې ته به وایې ایمان یې ورسره ګرو دی.

ازبک زلمي وخندل او حپلې خبرې یې داسې اوږدې کړې :

---

۸ ـ قوره = د بزکشي میدان

۹ ـ چلبر = وړبن وابنی چې په زین پورې تړلی وی او یو څه ورپورې تړل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا به چېرې داسې احمقان لیدلي وي چې د یوه و چ شاباسي په خاطر د نورو لپاره د خپل سر په بیه شهرت او افتخار وګټي !

زموږ د خوشالتیا لاره ټولې دروازې بندې شویدي، زه به بیا ورغومې ته هیڅکله لاس ورنه وړم ، تر څو دا غولیدلي چاپ اندازان له دې غلامی نه راخلاص نشي.

له هماغه وخته تر اوسه پورې ډېر کلونه تېر شویدي، خو لوبه د بایانو په لاس کې ده او د دوی د ګټو لپاره کار کوي.

دهانه غوری ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاحشه

د نور خاوند د اوږده دهليز په پای کې کوچنۍ دروازه پرانيستله او ماته يې په لاس د ننوتو اشاره وکړه. يکلې کوچنۍ کوټې چې سرې نرۍ پردې يې په روښانه کړکيو راپروتې وې ماته خپله غېږ پرانيستله. برسر د خونې په الماری کې څو کوچنۍ مجسمې، بلوري لوښي، يوه زنګ لرونکې ګړۍ او څوداني پلاستيکي نانکې ايښې وې. د الماری د پاسه په غوړين رنګ بوه رسم شوی تابلو راځوړند وه.

زه سيخ بر سر تېر شوم او په تابلو کې د ويده شوی ماشوم په ننداره بوخت شوم، ببر يری هلك شليدلی پتلون يې په پښو کې و، د ښوديوې دلۍ د پاسه خوب وړی و. سرته يې نبږدې يوه غوا که پرته وه او په لوڅو پښو باندې يې د غټو مريو په څېر زخې له ورايه ښکاريدلې. ماته د يلهايانو په کور کې دا تصوير داسې ښکاريده لکه د هندو له کوره چې قرآن راووزي. ښايي دوی د خپلو عياسيو د زغملو لپاره مجبوريت لري کله کله د تنوع په غرض د ژوند ځپلو د ترخو خاطاتو ځينې تصويرونه راځوړند کاندي او هغو ته د غرور په نظر وګوري او ځينې وخت لا د ځان ښوونې په توګه د خپلو ميلمنو د مخه د هنردوستۍ او هنر پيژندنې لافې ووهي، دا ځکه چې ځان هنګمند شودل پخپله د دې مغرور احيواناتو يو لفظي فيشن دی. لکه څنګه چې دوی د مګچو او ترشۍ په استعمالولو خپله اشتها او ګيډه خوشلوي همداراز ځينې وختونه دوی د وږو او بربندو خلمو په تصويرونو، قصو او له هغوی سره په لفظي همدردۍ غواړي د خپلو اوړدو عياشيو زغم پيدا کاندي او خپل ګناه کار وجدان ته په دې توګه د للو سندرې وبولي.

دوی فکر کوي چې همدا تندي او ترشي به دوی له هغو بدهضميو څخه خلاص کاندي، کومې چې د دوی د چړچو يوه طبيعي نتيجه ده.

ما لا د رنګينې تابلو په باب د فکر اوږده پړاوونه وهل چې د کوټې په ښکته سر کې د ښيښو آواز زما پام واړاوه. د سالون په ښکته سر کې د ګردې ميز شاته يوه ښايسته ښځه ناسته وه. زما راتګ ددې په وزه کې لکه چې هيڅ اغيزه نه وه کړې. ما سلام وروا چاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر هغې اعتنا ونکړه او يوازې د سر په ډېره سپکه اشاره يې د سلام ځواب راکړ. دوه درې گامه ورنېږدې شوم او مخامخ ورته کښېنستم ، د سترگو په کړيو کې يې د درندې بېخوبۍ آثار ښکارېدل، د سپين کميس په گريوان يې تور او اوږده وېښتان خواره واره پراته وو، په څېره کې يې د ژورو غمونو کرښې ځغليدلې وې او د مخ ه کاسه کې يې لکه گلاب چې د اور لمبو ته نږدې شي د مثيبت او رنځ سره ټاپې پيدا شوي وو. په ذهن کې مې د پوښتنو توفان سر رااوچت کړ، پخپل کاذب غرور باندې مې پښه کېښوده او ومې پوښتله :

خور کۍ ته څوک يې ؟

ـ زه . . . زه ؟

يو خوږ مسکی يې په شونډو وځغليده، لاس يې گيلاس ته سووړ او د اور پيمانه يې په سر واړوله ـ زه ستاسو د چړچو يوه نانز که يم. زه يوه بدنامه ، دربدره او بيکسه ښځه يم .

په سترگو کې يې اوښکې ډنډ شوې ، ورويې په غومبورو رابهېدې او له مخ سره يې د تورو ځنډو په تارونو کې ورکې شوې. د چوکۍ نه را کږه شوه او خپل گيلاس يې ډک کړ. له يوې لنډې چوپياو نه وروسته لکه ليونۍ پخپله چوکۍ کې راتاو شوه او په ژړن آوازيې را ته وويل:

زه فاحسه يم، زه شرف او ناموس نلرم او د پيسو لپاره هر چېرې ځم او هر څه کوم .

ـ خدايه څومره ستړې او بې خوبه يم .

نورې خبرې ونکړې ، سموني يې وپړسېده او د اوښکو سيلاب يې په مخ اروان شو . داوار پيمانه يې په سر واړوله او د غمځپلو اوښکو څاڅکې يې په گيلاس کې وڅڅېدل ، گواکې د مصيبت او غم څاڅکې د مستۍ از بېخودۍ په زهرو ورگډ شول او د يوه محکوم انسان د ليونتوب او رسوايۍ تصويريې بشپړ که .

يوه شېبه وروسته يې بيا شوډې ورپېدې او په ناست آواچيې ززيل :

بې خودۍ او نيشې له واکه ايستلې يم. ماته اوس کوم داسې ستر او ناموس نه دی پاتې چې زه د هغه د خوندي کولو خيال وساتم. کومه ښځه چې يو ځل د هغو خرو پادې ته ورننوته چې طلايې او سارونه او ځنځيرونه ورلويدلي دي ، بيا به نو څه د خپل ننگ او شرف خيال ساتي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

... هغه څه چې ما یې خیال ساتلی وای اوس زما له لاسه وتلی شی . زه شرف نلرم، فاحشه یم، یوه بدنامه ښځه یم او تورې کتوې ته ورته یم چې د هر چا سپینه لمن راسره ونښلي خیری اخلي او تو ګېږي .

اوه ؛ څومره بې خوبه یم ! څلور شپې کېږي چې ما خوب نه دی کړی او لګیا یم کړی شپه د وطن د زامنو د خوشالولو لپاره له ماښامه تر سباوون پورې ناڅم، سندرې بولم او ترخې اوبه ویشم ...

نری ګوتې یې په تورو او اوږدو څڼو کې ننه ایستی او بیایې په خپل مخ باندې غوټه شوې او ښکې را پاکې کړې. له یوې ګګسۍ نه راپاڅېده او په بلې کرسۍ کې ولویده. په ښکلو سترګو کې یې د غمونو کرښې وځغلېدې او په ژړه غونې آوازیې له مانه پوښتنه وکړه: ته اولاد لري ؟

ـ هو !

خپل اولادونه درباندې ګران دي ؟

ـ دا خو طبیعي خبره ده او زه د ځان وظیفه بولم چې له هغوی سره مینه وکړم .

د اوښکو سیلاب یې په مخ را مات شو ، په زوره زوره یې وژړل او په سلګو کې یې دا خبرې له خولې راووتې :

اوه خدایه ! زما بدمرغې او بې وزلې یوسف به څومره راپسې ژړلي وي ...

خدایه ! که نارو غ شویوی ... زه به څه خاورې په سر بادوم . ما هغه په خوب کې پری ینبنی و ... دا څو ورځې کېږي چې بسا نه یم پې خبره.

وروسته له اوږدې ژړایې ما ته مخ راواړاوه :

مګر ته د اولاد په مینه نه پوخېږي ، ته پلاریې ، مور نه یې ؛ تا هیڅکله خپل ماشوم ته تی نه دی ورکړی او هغه هیڅکله ستا په سینه نه دی ویده شوی ،تا دهغه د خولو بوی نه دی احساس کړی ؛ ستا اوښکې د هغه له اوښکو سره نه دي ګډې شوي او تا پخپله څنګل باندې د هغه د خوب زړهوړوونکې خرکی نه دی اوریدلی ؛ یوازې میندې دا اوري او ددې سوځوونکې لذت احساس کولای شي. یوازې میندې د خپلو ماشومانو په غومبرو باندې د رڼو اوښکو د ضطراتو په مرغلرو کې خپله آخرینظ او پورتنۍ مینه لیدلای شي. کله چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم مرور شي، مخ ديوال ته واړوي او همالته په ناستو ويده شي، ته څه پوهېږې چې دا خال ميندو په زړه کې څه غلي شوي توفانونه راويښوي ! ته مور اه يې او دې دنيا ته لار نه لرې .

اوخ ؛ خدايه ؛ زما يوسف به څومره راپسې ژړلي وي . که ناجوره شوي وي زه به څه کوم ؟

کله چې راويښ شوی او زه ترې ورکه يم د همسايه ښځې به تسل کړی وي ؟
خدايه ؛ دا ته څنګه دومره بدبختۍ ګوري او زغمي يې ، دا زه دې د څه لپاره هستولم ؟ تا ته زما په څورولو کې څه ګټه ده ؟ مرګ دې راباندې وتاړه ؛ ښکلې دې کړم ، د خرو او ليوانو د خوشالولو چه دې راوښود او بيا دې د خپلو وحشي نازولو ته وسپارلم چې ستا د راکړي حمال انتقام راڅخه واخلي ؛

اوه ؛ احمقه احمده ! اوس خو خپل سر راپورته کړه او وګوره چې ستا وطني ورونړه ستا له بې بې سره څه کوي !

څومره سخت ژوند مې درسره تېر که ، په خطا لار کې مړ شوي !
ستا د وطن پرستۍ په مکافاتو کې ستا معشوقه ستا د وطني ليوانو خرابات ته راوتلې ده او ستا ماشوم يوسف د همسايګانو رحم او شفقت ته پاتې دی .
ستا بې بې راوتلې ده او ستا د وطن او غيرتي خلکو د ناموس او شرافت امتحان اخلي !
تا هر پړانګ او ليوه ته د وطن د زوی په سترګه وکتل او تر پايه په دې پوه نه شوې چې لړم هر چېرې لړم دی .

تا د وطن ګلونه او اغزي سره بېل نکړل او د وطن د ورځ او ليوه په توپير ونه پوهېدې، اوس به هيڅکله ستا د هغو غلطيو پټې ونشي ، کوم چې مورېږې برباد کړي او تباه کړي يو ؛

مګر هغه کونډې چې د ويتنام د آزادۍ په جګړو کې يې خپل ملګري له لاسه ورکړي دي، همداسې رسوا شوي او بربنډې شويدي ؟

مګر هغه ماشومان چې په کوبا کې له پلرونو پاتې شويدي لکه همدا زما يوسف د فاحشو په ناوليو لمنو کې لويېږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ، نه ، هيڅکله ؛ هيڅکله د زيارايستونکو د ټولنې کوندې او يتيمان د خانانو او سوداګرو د ټولنې د کوګډه او يتيمانو په څير يوازې او بې کسه نه دي .

بغلان ـ ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جومات مېرې

د ۱۳۳۵ کال د ژمي یوه سړه ورځ وه ، واورې ورېدلې او سخت باد روان و ، د باد په شپېو کې د واورو شپېر کې له درڅې [۱۰] څخه د ننه کوټې تهور ېدل او زموږ د تناره چارچاپېر غولی یې لندهاوه .

موږ په یوه شنه خاورینه کاسه کې توت او د غنمو نیني ګډ کړي وو او ګرد سره پرې بوخت وو . زما کشرۍ خور مروره شوې وه او د کوټې دوره خواته ناسته وه ، موږ ته یې شا کړې وه ، خو کله کله به یې مخ راواړاوه او را به ویې کتل ، خو چې موږ به ورته کتل ، نو دې به مخ بېرته واړاوه او ځان به یې مرور ونښود . معلومېده چې زموږ د ست انتظار لري او یوائې یوې کوچنۍ بلنې ته ګوري خو چې موږ به بلنه ور کړه دې به ځان ورټول کړ او سر به یې له دیوال سګه ونښلاوه .

میرې مې د پخوانیو کوچیانو د برکتونو او ښو زمانو قصې کولې . کله به د ګړندي باد د شپېو دروازه په ډېر زور وازه کړه او د واورو ځپه به یې په کوټه را ننه ایستله او زموږ د کوچنۍ او تورې کوټې چت به یې داسې ورېږداوه چې زموږ به ګومان کاوه اوس به کوټه راباندې راولوېږي .

لړې او وریځې په ځمکه پلنې شوې وې او وخت نه معلومېده . څو ځلې مې میرې راته وویل چې مازیګر دی ، جومات ته لاړ شه ، مګر ما ورته ویل لا وخت شته دی ـ او څنډه مې کاوه .

موږ لا د مهرباني مېرې قصونه غوږ ایښی و چې پلار مې له باندې نه راناري کړې : هلکه د لمانځه وخت دی .

له ځایه پاڅېدم او چټک مې خپل چکمن واغوست او راووتم . پلار مې د سرای له

---

۱۰ ـ درڅه : دریڅه روشاني انداز ، د کوټې په چت کې وړو کې ګرد سوری چې د رڼا د ننوتلو او لوګی د وتلو لپاره وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې سره راته ولاړ و . پوستین یې ټینګ پر ځان راتاو کړی و او په شنه اوږده لکړه یې تکیه وهلې وه . چې زه یې ولیدم ، نو وخوځید او د سرای له دروازې څخه ووت . زه ورپسې شوم از زمړ تور سپی هم له کدانې راودانګل او په نرې منډه کې په ما پسې راوخوزید . لار مې د زیات عمر له کبله زوړ شوی و . او کلوشې یې هم زړې وې او تلې یې زیات ښوی شوي وو . خوځابه غریبکوټی وښوییده او په ځمکه واوید ، خو ثواب او د خدای په لاره کې ده ته ددې تکلیف زغمل سخت کار نه و ، بلکې ده به خوند ترې اخیست او له هرې حادثې سره به یې وویل : «خدایه ته راضی شې ! »

خو زما او دده په جهان بینۍ کې یو څه فرق و ؛ ما ته با دده له هرلوېدو سره دده د اوږده عمر منډې او ستړې را په یاد شوې او دا مې سنجولای سو چې ده د ځوانۍ په شپو کې څومره سخت وظایف اجراء کړي او څنګه د خپلې معصومې عقېدې په سیوریکې دده د عمر طلایي ورځې د نورو تر هوسونو او جاه طلبیو قربان شوي دیاو دته له خپلو هڅو او قربانیو نه یوازې همدا یوه کلمه « شکر » او اوږد احتیاج وریاتې شوی دی . سخته غصه راغله او د تور انتقام لوګي مې ماغزه وخوځول ، زړه مې په ټوپو شو او ګامونه مې بې وانه ارت او چت شول ـ ګوره چې څه راوشول او ښه مې لاړه ، په ځمکه ولګېدم او کینه ځنګل مې ژوبله شوه ، د شاله خوا مې د نجونو یوه ټولي چې په او بو پسې ته راباندې وخندل ـ سخت خړ شوم . په بېړه پاڅېدم ، خو بیا ولوېدم او دا وار له منډه ووتم او ځان مې په ځغاستو د جومات بیالې ته ورساوه . زه چې له اودسه خلاصېدم ، ملا صاحب د مازیلګر آزان وکړ او په ما یې هم غږ وکړ چې راوچت شه جمه تېرېږي . بېړه مې وکړه او ځان مې جمې ته ورساوه ، په ملاصاحب پسې مې نیت وتاړه ـ موږ لا دوه رکاته نه وو خلاص کړی چې د جومات په دروازه کې خرپې شو او ورپسې د جمعه خان اکا غږ پورته شو :

سورګله ! ته تر سر شه ، علم ګل دې داسې راوګرځي . هلئ هلئ برکت پوسئ بر سر ته یې تېر کړئ .

له دې خبرو سره جوخت د ځګیروي آواز پورته شو . د ټولو لمونځ ګذارانو حضور خراب شوی و ، ځینو بزګرانو د لمانځه په وروستي صف کې اوږې راکږی کړې او د سترګو له کونجونو نه یې کسنې خواته وکتل . زه هم ګناه کار شوم او دا کار مې وکړ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو څه مې ونشو ليداى او يوازې دومره پوه شوم چې هلكانو يو شى نيولى او د جومات برې خواته يې راكاږي. گوره دا به څه وى ؟ بيا څه پېښه شوې ده ؟ ښايي د جلب يا د بېگار سپايان به راغلي وي او ملك كاكا به ټغرونه او توشكې ورته راوړې وي ، نو دا ځيگروي ولې ؟ ښايې علاقه دار راغلى وي !

پاتې لمونځ په همداسې وسوسو كې په ما باندې ډېر اوږد شو، خو آخر پاى ته ورسېد. په دعا باندې چندانې خلك پوه نه شول او چې دعا خلاصه شوه، ن ټول كليوال راپورته شول او ت□ رنځور مساپر راچاپير شول.

پيرواكا وويل: داغريبگوټې تېره شپه دلويې لارې سره د كلي سموار ته رسېدلى و او هماغلته پاتې و. خوارکې سخت رنځور دى ، د سماوار خاوند زه يې خبر كړم او ما هلكان له ځان سره بوتلل او دلته مې راووړ.

بزگرانو په ډېر غور د پيرو لالا خبروته غوږ ايښى و او په ځير ځيرېې رنځور پرديس ته كتل.

هر چا به د پرديس په باره كې يو څه ويل او خپله تبصره به يې كوله ـ يوازې زما پلار چوپ و ، خو په ستر گو كې يې دوه رڼې او ښكې ځلېدلې .

انځر وويل : خوار سپين ږيرى دى ، ښايي كوم زوى به يې چيرې نوكر وي او دى به د هغه پوښتنې ته ځي .

رنگين چې د كلي يو نومولى زلمى و ويې ويل :

ماته ښكاري كې دا سرږ د غريبۍ لپاره خان آباد ته روان دى او يوازې ژمى هلته تېروي.

يوه سپين ږيرې سړى وويل : نه داسې نه دهۀ له كاليو يې داسې ښكاري چې خر كار دى او د كتغن په خرو پسې راغلى او دابه يې هم انگيرلې وي چې له دې خوا به مالگه يې بار كړي. هرچا هر څه ويل، خو ده پخپله هيڅ نه ويل ـ له واكه تللى و او په ځان نه پوهېده ـ شونډويې تور خروكې نيولې وو او ستر.ې يې پټې وې، پرله پسې خريده او كله به يې په ځگيروي كې څو بې مفهومه كلمې له خولې راووتې، خو معنايې چا ته نه ورتله او مزږ نه پې پوهيدو، د غاړې رگونه يې جگ جگـ الوتل او له بدنه يې دبې تاو جگيده او له خيرنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاليو ځخه يې سوړ وږم پورته کېده .

يوه زړه او پيوندې خورجينه يې سرته پرته وه، يو شکېدلی کوڅوې په ځان و او په يوه تور وړين پړي يې کاک په ملا باندې تړلی و - ستر ګې سې د سر په کاسه کې ښکته تللې وې او د سر خولۍ يې د خيرو له کبله شورۍ شوې وه او د خمتايو زوړ لنکوټې يې پر سينه باندې ول ول راپروت و.

خدايدوست اکا د جومات ملا ته مخ راواړاوه ويې ويل :

د پرديس حال ښه نه دی، ښايي پور پرې کړي، بايد دده کالي او پيسې خوندي شي .
ملا او د کلي سپين ږيرو ته د خدايدوست اکا خبره پخه ښکاره شوه، د پرديس خورجينه يې وپلټله، بيا يې د هغه له ملا نه تور وړين پړی خلاص کړ، چکمن يې ځينې ويوست، د زړې بر کې د واسکټ استريې په غور و کوت، بيا يې د پرديس د کميس تنۍ پرانېستې، کاته يې چې يوه کځوړه يې د تاويز په شان تر کميس د لاندې په غاړه کې پرته ده. هغه يې ترې خلاصه او د ده کاليو سره کېښوده . د کځوړې په مينځ کې يو د لسو روپيو کاغذ او يو څه توري پيسې چې ګرد سره دوه نيمې روپۍ کېدې پرتې وې. د خورجين په يوه پله کې يې د وچې ډوډۍ څو ټوټې، يو څه وچ توت او په يوه غوټه کې لږ شين چای، يو د نسوارو کدو، يو څه زړې ټوټې، لږ خام تار او يوه ستن پيدا شول.
په بله پله کې د ماشومانو يو وشسکټ او د خوږو يوه غوټه پرته وه او همدا وه د پرديس ټوله هستي .

د جومات ملا مخ خلکو ته راواړاوه او ويې ويل :

تاسې شاهدان او سئ چې دا سپين ږيری نور څه نلري او همدا شيان دده ټوله هستي ده .

بزګرانو د ملا خبره تائيد کړه او دا شهادت يې ومانه.

د خدای په کور کې د يوه بدمرغي بنده په باره کې مرکه روانه وه خانګل وويل :

که چېرې مړ شي څه به کوو ؟

دخانګل پوښتنې ته هيچا ځواب ورنکړ، بيا د پخپله وويل :

که چېرې د شپې مړ شو، څو تکړه هلکان دې مړی واخلي او د کوز کاق په جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دې وا چوي او بايد دا راز پټ و ساتل شي او د کلي خبره د باندې و نه وزي. ځکه که مړی خښ کړو او حکومت خبر شي يا د مړی خپل خپلوان راشي او دعووی و کړي، خدای زده چې څه چارې به راو شي .

بل لمونځ گذار وويل :

هو ! دا کوټوالان موږ پېژنو، له دې خور جينې به خامخا د سرو زرو صندوقچه او له دې دولس نيم روپيو نه به ډېر څه جوړ کاگدي، قتل او پور خو يې لا په ځای پر ېږده ! .

خدايدوست اکا دلته بيا سر راپورته کړ، غاړې يې تازه کړې او ويې ويل :

ماته د خدای قهر د حاکم تر قهره سخت ښکاريږي ـ که دا پرديس او هردم شهيد بنيآدم له دې ځايه لژې کړو او بل چېرې يې واچوو خدای به راته په قهر شي ؛ تر ټولو غوره لاره داده چې ملک خبر کړو او دا سړی چې لاتر اوسه ژوندی دی ورو ښيو او مال يې د هغه تر نظر تېر کړو .

خانگل د خداي دوست خبره پريکړه او په تمسخر يې وويل :

خير نو د ملک غوا به انگه شي .

دا خبره سپين ږيرو نه د ځوانانو خولې ته ولويده او سره پې تاوده شول. خدازده څه پېښه شوه چې د خانگل او خدای دوست اکا زامن سره ولاړ شول او په جنگ او جگړه يې لاس پورې کړ، د خدای په کور کې د فتنې اور ولگېده او هلته به چې مقدس آيات لوستل کېدل ناوړو او شرمناک الفاظ د لمونځ گذارانو له خولې راووتل، په پانو ښځو باندې تومتونه وويل شول او په معصومو زلميانو گناوې وتړل شوې.

زه له جوماته لا ماښام خورته راغلی وم، يوه شپېه مې د کور له بامونو نه واوره و تو ږله او بيا راغلم، له خويندو سره د ماخوستن په ډوډۍ کيناستم. ادې مې د لاادي شوروا پخه کړې وه ـ ډېرا يې مزې زه او دا ځکه چې سره جوارې ډېر بې خونده او بد مزه وي. موږ لا ديترخانه نه وو پورته شوې چې پلار مې د ماخستن له لمانځه راغی. ټول يې مخې ته ودريدو. دې بر سر تېر شو او څنگه چې کيناست ماته وويل : هغه رنځور پرديس په جومات کې يوازې پاتې شو، هلکان د ماخستنی لپاره کورونو ته لاړل . ته ژر خپله ډوډۍ وخوره او ورشه چې هغه غريبگوټی چېرې بې کلمې او توبې مړ نه شي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ مې خلاصه کړه او سمدستي له کوګه ګاووتم. واوره تر زنګانه اوښتې وه. وريځې په آسمان کې خورې شوې وې او ځای ځای یو نیم ستوری لکه د یتیم اوښکې د آسمان د مخ په شنو چاودو کې ځلیده. ګړندی باد روان و او د کوځې شاوخوا د ونو په لښتو کې یې د غم سازونه غږول.

د کلي سپي غلي وو او د لارې په اوږدو کې هیڅ حرکت او ژوند نه محسوسېده. جومات ښاته نژدې شوی وم چې سخته ویره پیدا شوه. ګامونه مې او چت کړل او منډه مې پسې واخیسته. ناڅاپې مې پام شو، د منډو په مینځ کې مخامخ لیوه راته ولاړ دی، ژبون مې ووهل شو او لرزه مې په صورت راغله، غوښته مې چیغه وکړم، خو د جومات خادم پیرک راباندې ناري کړي:

څوک یې ولې ودرېدې؟

ما وویل: زه یم، خدای دې خوار که! نژدې دی زړه راکې چوولی و. ده وخندل، رانژدې شو او په غیر عادي توګه یې خپل څېره او پرېږ لاسونه د پوښتنې لپاره راوغځول او سترې مشي راسره وکړل، د سترګو سپین یې د تور مخ په کاسه کې ولړېښېدل او بیایې په سهم جن آواز راته وویل:

راغلم، ګومان مې کاوه چې هغه رنځور به په جومات کې یوازې وي. ما وویل:

هو خیر یوسي! ته خو یو زړه سواندی او ښه سړی یې، مګر په زړه کې پوهیدم چې پیرک د مساپر د پاره نه دی راغی، بلکې د خورجین او کوڅو له پاره راغلی دی او دا ځکه چې ده څو، څو واره له جومات نه د مساپره پېې او ځنې داسې نور معمولي کالي غلا کړي دي. نورې خبرې مې سره ونکړې او دواړه د جومات دروازې ته رانژدې شوو، ورمې خلاص کړ او ننوتم، د جومات فضا د تیلي ډیوې لوګي ډکه کړې وه او بد بوی پکې خور شوی و. مساپر د شولو د وښو دپاسه پروت و او هماغسې خربده، د سترګو توریې تښتیدلی وو، د ډیوې زیړه رڼایې په مخ باندې رپېدله او د خولو کوچنۍ دانې یې په مخ باندې ځلیدلې.

د مساپر د ژوند تاریخ د خیال په ورڅو کینولم او ورو وروېې د خوب څپوته وسپارلم ـ تللی وم او داسې تللی وم چې بیا د کلي د څړه ځوانانو په راتګ او پریوتو هم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر شوی .

يو پار شپه به پاتې وه چې له خوبه راويښ شوم، ډېوه ډېره تته لګېده څېره ګان شاو خوا په درانه خوب ويده وو، د پرديس خوله وازه پاتې شوې وه، د ستر ګو تورېې تښتيدلې او د سينې خر کي يې غلې شوي و . د باد آواز نه او ريدل کېده او طبعيت د درانده سکوت برستن په سر راښکودې وه، په جومات کې هر څه پخپل ځای وو، يوازې د مړه مساپر کو څو چاوړی و .

هغه شپه تېره شوه او په شپې پسې مياشتې او کلونه تېر شول، ډېر خلک په دې لار راغلل او لاړل، مګر هيڅ د هغه مساپر پوښتنه بيا ونکړه او هسڅوک پوه نه شول چې دی څوک و او چېرې ته ؟

۱۳۴۳ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارخانې جشن

د ښار په خلنوکی د خارخانې د پرانیستلو د جشن خبرې خورې وې .

هر چا به هر څه ویل او د جشن په باره کې به یې خپل اوریدلي نوروته اورول. ماشومانو به په ښونځیو کې، کارگرانو په فابریکو کې او ښځو به په کورونو کې د جشن په باره کې مرکې کولې .

علي مراد حمال بیا تر ټولو د جشن په مرکو مین و، څنگه به چې د جشن نوم واخیستل شو دده کوچنۍ سترگې به د پلن مخ په کاسه کې راڅرخیدې، د پیټي پورې به یې سپوږمې ورپیدې، پخپله کوسه ږیره به یې لاس راښکود او په مغرورانه انداز به یې وویل : «داجشن زمگړ دی او دا کارخانه ما درولې ده .»

ددې وینا سره سم به علي مراد د خپلو لاسونو ورغومې چې د اوښ د تلي په شان د کار له زوره کلک شوي او ښوی شوي وو انډیوالانوته وښودل او دا حرکت به یې په یوه فاتحانه خندا پای ته ورساوه .

کله کله به یې لا خپلې زړې څولې ته چې لکه د غنې جاله په تارونو کې رابنده وه اشاره وکړه او وبه یې ویل :

«ما همدا چکمن د همدې ارخانې په جزړولو کې زوړ کړیدی»

ځینې وخت به یې د خبرو په ترڅ کې ستونې وپړسېدې او د کوچنیو سترگو په تورو مریو کې بې یې د اوښکو کړی را پیدا شوې . داوخت به علي مراد ته د خپل زلمي زوی قنبر مرگ ورپه یادوی و . قنبر په همدې کارخانه کې تر واگون لاندې شو. علي مراد لا د اوښتي واگون تر درانه بار لاندې د قنبر زگیروي اورېدل او هغه ویني یې لا لیدلې چې د قنبر له خولې نه دده د خمتا په خړ واسکټ را بهېدلې .

ـ اوه ! څومره ښه زوی مې و ! څومره به یې زما خاطر ساته ، یوه ورځ چې دټ خپلې مزدورۍ پنځه روپې یې خرڅې کړې وې څومره ښکنځل مې ورته وکړل مگر دې بنده له حیا نه حتی خپل سر راپورته نکړ. ده زما تر مخ یوه ورځ له خپلې ښځې سره زړورې خبرې ونکړې او زما له شرمه یې یو ځل خپل ماشوم ته ناز ورنکړ. اوه ! زه څومره غریب او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسه یم، زما قسمت څومره خوار دی او دا زه څومره بدمرغ او نامطلوب انسان یم . آخر زه به دا پاتې عمر څنګه تېرومه او د خپلې بدمرغۍ داستانونه به چا ته وایم. دا کوچنی ماشوم به څوک لویوي او دا ځوانه نږور به په څه هیله صبرومه ؟ قنبره، قنبره زویه ! د خدای د پاره زه ډوبېږم .

دا خبرې به د علی مراد پې خاطر کې و ګرزېدې او ورپسې به د او ښکو سیلاب دده د نرۍ ږیرې له سپینو ویښتانو ته دده په شکېدلي ګریوان راخور شو، په زوره زوره به یې وژړل

او زړه به یې تش کړ، خو دده او ښکې به لکه د ثور باران کم دوامه وې او ژر به دده په زړه کې د ناامیندۍ د تورو وریځو له شانه د هیلو زرین لمر راوخوت، مسکی به شو او دا ساده جمله به یې له خولې راووته :

« که خدای کول په نږدې وخت کې به کارخانه چالانه شي .»

ده به په ډېر سادګۍ کې نورو مزدورانو ته دا زقری ورکاوه:

« که خدای کول زموږ او ستاسې ژوند به له دې کارخانې سره سم شي .»

ده دا مطلب د کارخانې د بهست ایښودلو په وخت له یو ستر مامور څخه اورېدلی و او کلک باور یې پې لاره. ده به داهمخ ویل چې دا کارخانه په حقیقت کې زموږ ده او ګټه به یې پخپله موږ ته راورسېږي.

همدا هیله وه چې په علي مراد یې سره له ټولو بدمرغیو د خپل زلمي زوی مرګ زغملی و .

د یکشنبې ورځ راورسېده، د جشا ورځ او د مزدورانو د نیکمرغۍ ورځ !

علي مراد د خپل ښایسته لمسي سترګې په رنجو کړي، خپله زنګـوهلې زړه بیاتي یې راواخیسته او د ښایسته ماشوم د سر ویښتان یې د وتي (١١) په څیژ ګرد و سکښتل.

د قنبر د واده د پسې ګل سیب دسمال یې راویوست او په سریې وروتاړه، بیایې په غیږ کې واخیست او د کارخانې په لور رهي شو.

---

١١ ـ وتې = ځوندی ، پوپک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ خدایه ! لکه چې راباندې ناوخته شوې ده، ګوره چې نقل یې لا نه وي ویشلي.

او چت او چت ته، خو د ځوانۍ تګـ یې نه وپاتې، هلک پې دروند شوی و او سا یې سوله. ماشوم په ټوله لارکې خندل او له خوشالۍ نه یې د خپل نیکه په غېږ کې ټوپونه وهل.

ځای تهخ رانږدې شول، د کارخانې د ننوتلو په لار دوه کتاره وسله وال ژاندارم او پولیس ولاړ وو. هالته لرې د کارخانې په مینځ کې د جشن سره او سنه بیرغونه رپېدل. د سړک په سینه باګدې د ګړنیو موټرونو پرله پسې بهیر راروان و. د دروازې په خوله کې نابلد وګړي دریدلي وو او د میلمنو ټکټونه یې کتل.

ـ « خدایه دا به څوک وي ؟» علي مراد دا سړي پخوا هیڅکله دلته نه و لیدلي. د هغو مزدورانو له جملې نه هیڅوک نه ښکاریدل چې دا کارختنه یې جوړه کړې وه. نجاران، خټګران، مستریان، حمالان، حتی ډریوران او کرین کاران هم نه لیدل مېدل. د فابریکې د دروازې له خولې نه دانګړیوه برخه څرګنده ښکارېدله هلته ټول د خولیو او دریشیو خاوندان راټول شوي وو، د جمیعت د خندې او شور آواز چې د لوړو لوډیسپیکرونو له آواز سره یو ځای شوی و تر عمومي سړکه پورې رارسېده، علي مراد دروازې ته نږدې شو، خو د دروازې ساتونکو د هغه مخه ونیوله، ده نانمونکې زارۍ شروع کړې او د دروازې نظم ته یې صدمه ورسوله، د جمتې خلکو د مراسمو نزاکت د یوه بې حیشته او بې ارزښته سړي له خوا خراب شو. د دروازې ساتونکو حوصله یې تنګه کړه، سپایانو ته اشاره وشوه، یو پریړ توربخن پولیس رامنډه کړه او علي مراد یې داسې څپېړه ورواهه چې لنګوټۍ یې یو ګز له سره لرې ګوزار شو، بل پولیس د شاله خوا وواهه او علي مراد خوارکی پړ مخې ولویده. ماشوم لمسی یې له غېږې په ځمکه ګوزار شو او سخته چیغه یې له خولې راووته.

د بېدفاع او نامیند مزدور ژبه ګونګه شوه او سترګې یې د اوښکو پردو پټې کړې.

هالته لرې د موټرو د پارک ساته شور ځوږ پورته شو، څو تنه مزدوران په منډو د سړک مخې ته راووتل او علي مراد یې له خپل لمسي سره د پولیسو له ډلې او د تشریفاتو له سیمې نه ویوست. نندارچیان له ونو او د سین د غاړې له جګـ دیوال نه چې د فابریکې د مراسمو د سیل لپاره پې ختلي وو راښکته شول او تر عاي مراد راوڅرخېدل.

نجف د مزدورانو کړۍ ماته کړه، وررننووت او په مغګوګانه اندازیې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

کينه، دلته کينه، احمقه بوډا! تمامه ورځ به دې ساده مزدوران غولول چې دا فابريکه د تاسې ده! اوس پوه وی چې دا فابريکه د چا ده؟ که نه يې پوه شوی يو ځل بيا ورشه چې پوره دې وپوهوي.

ټولو مزدورانو وخندل. علي مراد له غصې نه ډک سر راپورته کړ، کاته يې چې بدخولی او بې پروا نجف مخامخ ورته ولاړ دی. بې کميسه، برکي واسکټ او همغه پخوانی پيوندي پرتوګ يې اغوستي وو، د تور او سپينو پرتوګانو يې تر زنګنو پورې راځوړند او يو خيرن رنګه ټونکريې تر غاړې راتاو کړی و، لويه خوله، تنګې سترګې او غټه ببره ککرۍ، پولادې متې او بېباکه آمرانه وزه.

علي مراد وار د وار زړور او سرکش نجف وپيژاند او په ډک ستونې يې د لومړي ځل لپاره اعتراف وکړ:

تا رېښتيا ويل.

نجف د واسکټ له جيبه يو موټی خيرن توتان راوايستل او د علي مراد لمسي ته په لمن کې واچول، بيايې مخ علي مراد ته واړاوه او ويې ويل:

وعده راکوې چې بيا مزدوران نه غولوې!؟

ـ ډاډه دې کوم، اوس پوه شوی يم!

نجف وخندل او په داسې حال کې چې د علي مراد يتيم لمسی يې پخپل شټ باندې سپور کړ- ويې ويل:

فقط ته دومره ويلی شې چې نجف زما د لمسي خر دی او بس.

وروسته يې په ډاډه لهجه علي مراد ته دا خبره تکرار کړه:

دا کارګران هيڅکله مه غولوه، داسې لاړ وښيه چې دوی پخپله خپله دنيا جوړه کاندې.

علي مراد مزدورانو ته مخ وروااړوه:

راځی، راځی زامنو د کارخانې د خاوندانو د چړچو له سيمې رالرې شئ، هلته به ببرته راوګرځو چې دا کارخانه زموږ شي.

کابل ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه جواليان

ماسپښين ناوخته شوی و . په آسمان باندې د ژمي خړې وربځې پلنې شوې وې او د واورو وړې داني اوريدلې، يخ باد چليده او د واورو څپرکي يې له يوې خوا بلې خواته شړل. د منديي چارچلند سوړ و او زياتره دکانونه تړل شوي وو.

سهراب د يوه خلاص دکان خواته د دوو پښو په سرڅک ناست و . يوه زړه شړې يې تر ځان راتاو کړې وه او په شايي تر شړې لاندې د پرسړ پړي ولونه له ورايه ښکاريدل. د تور پټکي تلمبوزک يې وهلي و او د هغه له چاودنهيي يوازې دوه ستر گې ښکايدلې. ها خوا د سهراب مقابل لوري ته د يوه تړلي دکان تر مخ، يو بل زلمس جوالي د جوارو انهيوته تکيه وهلې وه، لاسونه يې تر تخرگو لاندې ننه ايستي وو او د پوزې ونې او به يې په بريتونو باندې رابهيدلې. يوه زړه او پمنه قره قلي خولۍ يې په سر وه او د سپخيدليو درزونو چاودنه يې له ورايه ښکاريدل. د برکې بالاپوش يې ډېر زوړ نه و خوزيات خيرن شوی او کرغيړن شوی و .

پيوندې کلوشې يې په پښو وې او د شړيدلي پرتوگ نه يې د زنگنو ستر گې راوتلې وې. پړی يې درلود خو په شاسې نه و تړلی او مخ ته يې په ځمکه باندې سنبی و .

سهراب هغه سرترپايه له نظره تېر که، مگر ويې نه پيژانده او نا بلد ورته ښکاره شو . سهراب په همدې منډېي کې څلور کاله جوالونه چلولي وو، مگر دا سړی يې هيڅکله نه و ليدلی. دی په اوږدو فکرونو کې لاړ:

گوره دا سړی به څوک وي ؟ .. دوه ورځې پخوا د ملا برات علاف څلور بورۍ وړه له همدې منډېي نه ورک شول،... خدازده چا به وړي وي، که دې سړي وړي وي ؟... نه، نه، د ده رنگـ غلوته نه دی ورته، دی هم زما غوندې يو هردم شهيد سړی دی ... موږ غريبان يو، خو غله نه يو، غله نور دي !...

کله چې سهراب د چرت له اوږدو پړاوونو څخه راوگرزيده اوريا زياته شوې وه او نور د کار د پيدا مېدو چانس کم و. له ځايه راولاړ شو، خپله شړۍ يې په اوږه راسمه کړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ نابلد جوالي ته و گغی. همدا چې ور نېږدې شو، غږيې و که :

ځنگه يې ياره ؟

مقابل سړي په داسې حال کې چې په بريتو کې يې د مسکا ځپې زخز ځيدې ځواب ور که:

جوړ دې يې آشناء !

ـ څه نوميږي ؟

ـ پردل،

ستا نوم څه دی ؟

ـ زما نوم سهراب

ـ د کوم ځای يې ؟

ـ د کرباغ يم .

ته د کوم ځای يې ؟

ـ زه ؟ نو څه تړته ووايم ! زه لا کوچنی وم چې زما مور او پلار په غوربند کې مړ شوي دي. زه هماغلته لوی شوم؛ خلکو ويل: پلار دې له کومې بلې خوانه دلته راغلی و. خدازده زما پلار به له کومې سيمې هلته غريبي پسې راغلی و، خو خلك وايې چې ښه سړی و .

سهراب وويل :

د پلار سړيتوب به دې څه پکار شي، دا وايه چې څه يې درته پرې ايښې دي ؟

ـ خدای دی وبخښي هيڅ نه دی ترې پاتې !

سهراب وخندل او ويې ويل ! نو څه ښه سړيتوب يې لاړه ؟

پخوا تر دې چې سهراب ددې وروستۍ پوښتنې ځواب ته انتظار وباسي، لکه يو ورك مطلب چې يې په ذهن کې سمدستي راپيدا شوی وي ژژ په تلواريې پردل ته وويل :

بالاپوش دې ښه بالاپوش دی، مگر دا بختوره خولۍ چا درکړيده ؟

ـ دا خو زموږ يوه همسايه راکړيده !

ـ ستا همسايه ؟ ته همسايه لري ؟

ـ نه ، نه يې لرم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ نو ځنګه دې وويل چې دا خولۍ زموږ همسايه راکړيده ؛ کوم همسايه دې ښود ؟

ـ د علاقه دار صاحب همسايه !

سهراب د پردل دې هبرې ته له خندا شين شو او ويې ويل :

ته څه بلا سړی يې، پردي همسايګان خپل بولې !

پردل لږ سور غوندې شو، په لوړ او جدي آوازيې وويل :

ولې علاقه دار خو زما بادار و.

سهراب دا ځل داسې مست و خندل چې د خندې له زوره يې له ستر ګو اوښکې راوبهيدې او له دې سره يې پردل ته وويل :

ولې داسې نه وايې چې خورهم د هغه و، همسايه هم د هغه و او زه هم د هغه وم.

پردل چې يو مخ ماتی، بې خولې او بې زړه سړی و او له بازاري کارګرانو او د بازار له چاپيريال سره ښه بلد نه و، د سهراب پرله پسې پوښتنو وارخطا کړ، نو ناڅاپي يې شونډې پرانيستې او په يوه کچه او بېخونده لهجه يې سهراب ته وويل :

ته پخپله ښه سړی يې ؟

ددې بې ارتباطه خبرې له اوريدو سره سم په سهراب باندې د خندې داسې لې.نې ځپه راغله چې کوکې يې له خولې ووتې او بلهوډې يې ونيول.

داځل يو دکاندار ته چې دوی ته نيږدې پخپل دکان کې ناست و د سهراب په لوړه خندا غصه ورغله، د دکان خولې ته يې ورودانګل او په ترخه غاړه يې سهراب ته وويل :

احمقه ځې او که درکته شم !

سهراب ځواب ورنکړ، خو خپلې غضبناکې ستر ګې يې ورواړولې او سميستي مخ په بازار وخوځيد. پردل هم راولاړ شو، کالي يې وڅنډل او په سهراب پسې رافی. سهراب مخامخ د منډيې د لويې دروازې په سماوار ننووت، بر سرتبر شو او د تخت د پاسه په پوزکې باندې اوږد وغځيده. پردل هم راغی او ده ته نيږدې، په يوه تياره ګوټ کې پټه خوله کيناست.

يو شيبه وروسته د سماوار شاګرد سهراب ته ويريده :

څه شی خورې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهراب په داسې حال کې چې ستر ګې يې لاکه د ښينښې مرۍ د تور لنګوټې دولونو لاندې بريښنيدلې، په درانه او کرار آواز ځواب ورکه: زه وروسته ډوډۍ خورم؛

شاګرد دا ځل پردل ته مخ واړاوه:

ته څه شی خورې؟

ـ زه يې نه خورم، ما هيڅ نه دي .ټلي!

ـ نو دلته د څه لپاره راغلی يې؟

سهراب په دې وخت کې را په ډډه شو، نسواريې تو کړل او د سماوار شاګرد ته يې وويل:

پرې يې ږده، پيسې نلري.

د سماوار شاګرد د سهراب دريمګړتوب ونه مانه، پردل ته پسې کلك شو او راولاړيې که. خو څنګه چې هغه لټيدو ته قابو شو، د بالاپوش لمنې ته يې د سهراب پولادي منګولې ورسيدې، دی يې په بيرته کيناوه او د سماوار شاګرد ته يې په ځيږه لهجه وويل:

ورشه ځناوره، يوه چاينکې ورته راوړه!

د همدې خبرو سره يې د لسو روپيو نوی کاغذ له ملا راويوست او وروايې چاوه.

ډوډۍ په چوپيا کې زخوړل شوه. ګوره چې زلميو جواليانو به يو د بل په باره چې څه فکر کړی وي او خدازده چې د مست سهراب د خنداو کاروان ولې دريدلی و، ولې پردل ته يې ځير ځير کتل او د هغه له قره قلی خولۍ نه يې نظر نه غړاوه. کله چې وروستۍ ګوله جګه شوه پردل وټوخيده او کچه شانې مسکايې په شونډو راغبرګه شوه. ښايې دی به له دې چوپيانه په تنګ شوی و او غوښته به يې چې دا د غم کمبله ټوله کړي. سهراب ورته وخندل او ويې ويل:

وايه څه دې په زړه کې ګرزي؟

ـ که ستا خوښه وي زه به يو ځل په کار پسې ووزم!

سهراب نو څه ونه ويل، خو په يوه مسکايې دده غوښتنه تائيد کړه.

پردل راولاړ شو، خپل پړی يې واخيست او ووت.

سهراب يوازې پاتې شو، سريې په زګنو ولګاوه او په چرت کې ډوب لاړ. خدازده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څه په باره کې یې فکر ناوه چې د جوالیانو شور بګت یې د فکر سلسله و شکوله او و چت له ځایه راولاړ شو. د سماوار کارکوونو او میلمنو ګرد د باندې خواته منډې کړې. سهراب چې څنګه راووت سترګې یې په پردل ولویدې. زړه فره فلي یې له سره لویدلې وه . د بر کې د کوټ جیبونه او ګریوان یه شکیدلي وو، د خمتا په کمیس یه د پوزې وینې رابهیدلې، په سترګو کې سې دوه غټې او ښکې غوټه شوې وې او ګرد چاپیره جوالیانو رانیولی و.

سهراب ته سخته غصه ورغله، د جوالیانو مینځ ته ورننووت او جیغې یې کړې :

لاس ونیسئ، لاس ونیسئ!

جوالیانو لاس ونیو او سهراب ته یې کوڅه ورکړه ـ ده د پردل خولۍ له ځمکې را وچته کړه او دی یې لاس نسولی د جوایانو له مینځه راویوست.

سهراب د منډیي ټولو جوالیانو پیژانده او په درنه سترګه یې ورته کتل. دوی پوه شول چې وهل شوی جوالي د سهراب خپلوان یا ملګری دی او هغه ډېر پې خپه شویدی. یو غنک رنګی پریړ جوالي چې نري بریتونه او کوسه بږیره یې درلوده او د منديي د جوالیانو مشر و د جوالیانو له مینځه راووت سهراب ته نبږدې راغی، په اوږه یې لاس ورکیښود او ویې ویل :

سهرابه! ته ګوره دا نادانه سړی د کرایو نرخ خرابوي. څو واره ما پخپله ورته وویل چې دا پیټی تر لاهورۍ دروازې پورې لس روپۍ کرایه لري ، پام کوه چې کمه یې نکړې، مګر دی حاضر شو چې په اووه روپۍ یو سی. دا جوالیان چې دی یې وهلی دی ملامت نه دي ، د دغو خوارانو خو ملاوې تر دې جوالونو لاندې ماتې شوي. ډوډۍ نلري، جامه نلري، ټاټوبی نلري او شپه ورځ همدا پیټي چلوي. که چیرې د پیټي نور هم پې درانه شي دا خواران به څه کوي!

سهراب په دقت دا خبرې واوریدې. په په وچولي کې یې د غضب غوټې ویلي شوې او فقط دومره یې وویل :

د نابلدانو بلدول په کار دي، وهل یې نه دي پکار. دی هم غریب دی او پیټي چاوي. بیا یې د پردل خولۍ ور په سر کړه ؤ د پوزې وینې یې د خپل لنګوټي په شمله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژپاکې کړې او له ځان سره یې مخ په بازار و خوځاوه.

دد کانونو او اپارمانونو د بخاریو لوګي لکه درنې وریځې بازارته راښکته شوي وو او هوایې لوګجنه کړې وه. سهراب پردل ته وویل:

شپه نیږدې شویده، ګامونه او چت اخله.

ـ چیرې به ځو؟

ـ زما ځای ته!

ـ ستا ځای چیرې دې؟

ـ ټول جوماتونه، د حمامونو ګلخنونه او په اوړی کې درست ګراژونه، د پلیو لارې، د دکانونو مخې، هر میدان او هره پوله!

سهراب پوښتنه وکړه:

ښه ستا ځای چیرې دی؟

پردل په داسې حال کې چې ژبه یې نښتله ویې ویلې:

زما ځای د علاقه دار صاحب کور.

له دې خبرې سهراب برېچ وهل او ډېرې وخندل، بیایې پردل ته وویل:

دا علاقه دار خوار څوک دی چې هر شی یې ته د ځان بولې؟

ـ دا خو زما د دولسو کلونه بادار دې کنه! مګر زه یې اوس شړلی یم. همدانن تمامه ورځ دا سودا را سره وه چې شپه به چیرې تېروم...

سهراب په همدې ځای د پردل خبرې پریکړې او پوښتنه یې ترې وکړه:

پس له دې به څه کار کوې؟

ـ همدا جوالي توب.

سهراب پښنه ونیوله او یو ځل بیا د پردل سر او اوربوز ته ځیر شو، ویې خندل او ویې ویل:

خولۍ دې جوالیانو ته نه ده ورته، ولې کلینري نه کوې؟

ـ څنګه ته کوم موټروان پیژنې چې ما کلینر کاندې؟

ـ ته څومره ساده او کم عقل سړی یې، که زه دومره معتبر وای ولې به مې پخپله دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيتي چلول ! !

پردل او سهراب په خبرو، خبرو کې له ښار ووتل او د واورو په يوه نري منځ کې يو پر بل پسې د کليو د جوماتونو خواته لاړل. د ماښام تياره زياته شوه او دوی يې پخپلو ځپو کې ورک کړل.

سهراب سبا وختي د ښار پر لور راغی. ږيره يې ببره شوې او سريې ډېر زيات ريسدلی و. په ستر گو کې سې د فجري خوشالتيا گنها ټپه شوې وه او ځای يې يوه داسې توفان ته پرې ينبی و چې د گونگ او بې تعبيره انتقام بر ېښناوې يې خوريدلې، قدمونه يې درانه شوي وو او په څير کې يې د لوی غم څپو کو کې وهلې. د دکان مخې ته ورسيد او بې له دې چې سلام واچوي د خپل لاس بوتل او پوړی د حکيم ذي مخې ته کيښودل :

داکتر صاحب دا ببرته واخله !

حکيم جي سهراب ته ځير شو، بيايې لاس دواته وروغځاوه او پوښتنه يې وکړه :

ځنگه ! دوا فايده ونکړه ؟

ـ نه هغه مړ شو ! داسې وويل او بې له دې چې د دوا پيسې وغواړي په تنگه کوڅه کې مخ په ښکته روان شو.

هلته يو بل سړی چې غوړه شليدلې کرتی او پتلون يې اغوستي وو خپل پولادي سوک په دړه وواهه او فرياد يې ويوست :

آه موږ څومره آسان مړو !

له دې خبرې سره جوخت په آسمان کې د پسرلي لومړنۍ برېښنا وځغليده او د تالندې هيبت د زاړه ښار ويده هډونه وريږدول او له خوبه يې پاڅول.

کابل ـ ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

خړکي ماشين

ګوره څو زره پيړۍ به په تېر هسکو غرونو تېر شوې وي؟ څه شپې ورځې، څه سخت ژمي، څه واورې، امرې او څه چپاوونه به يې ليدلې وي؟

څومره بېوزلي پرديسان به ددې جادوګرو غرونو په ګردلو او د واورو په لېږدونو کې بې لارې شوي او په شاوخوا پسچو کې مړه شوي وي.

څه قافلې، څه مهاجرين او څه اښکرې به د توفان په منګولو او د ژمي په هيبت کې نشت شوي وي. د دې سيمې د افسانوراويان، د دې غره د هرې درې، هرې څوکې او هرې لارې په باره کې يوه افسانه لژي.

د لرې سيمو خلکو دا روايات نه دي اوريدلي، ځکه د دې غرونو عجائباتو نه د آيرنتيا په سترګه .وري او د هر څه په باره کې پوښتنې کوي.

ګوره، دا دغره په وليو پاس حوض به چا جوړ کړی او شکولی وي، د څه د پاره، داولې؟

د سيمې سپين ږيری وايي چې دا حوض ديبانو جوړ کړی او ښاپيرۍ بخ پکې لمبيدلې.

نو ګوره چې ښاپيرۍ به څنګه په داسې سړو اوبو کې لمبيدای شوي!

سپين ږيري وايې: ماشين ناولی شی دی. له هغې ورځې چې د ماشين آواز د سالنګ په غرونو کې خپور شو، ښاپيرۍ له دې سيمو ځخه والوتې او «کوه قاف» ته ولاړې.

ته دا ماشين وګوره ـ ماشين! دا بې زړه او بې وينو ديب، دا د اوسپنې ځناور.

ورويې له ځان سره وخندل، پخپل زړه کې يې پټ وويل:

ته خو ګوره په دې پريړو غرويې څه وکړل! ولې يې ورمات کړل، پښې يې وروځپلې او مخامخ يې په زړه ورننووت.

ريښتيا دا خړکي ماشين څومره ښه ملګری دی، څومره منونکې او شرافت مند دی! له هر نژاد، هرې ژبې، هر مجهب او هر ملت سره يو راز کار کوي. دی د انسان ملګری دی، د انسان!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی رشوت نه غواړي، طمع نه لري، د چو کۍ لیونی نه دی، په القابو پسې نه ګرزي، فقط کار کوي ـ کار !

زما خږکیه ماشینه ! زړه مې غواړی چې یو ځل دا ستا په دوړو پټ ځنځیرونه، دا غوړې خیرنې متې او دا تور او لوګجن دروي[۱۲] سر تر پایه مچ کړم او خپلې ستر ګې پې وموښم. که دا ستا پولادي منګولې نه وای چا به دا د خاورو او ډبرو غونډۍ په بل مخ اړولی. که ستا تیره غاښونه او نیوې نه وای نو څنګه به د دی سر ټمبه او نامنومکې غره ګیډه سورۍ کېده او غریبګوټي انسان به لار پکې ایستله ؟

دی لا د خپل فکر په سلسله کې سر ګردان و چې لمر د غرونو شاته ته ننوت او د ختیځ د ماښام کمپله ورو ورو د جګو غرونو په آسمان کې پلنه شوه، سړه سیلۍ راوالوته، یخنی زور ونیو او دی د تیږې له اړخه یو جګـ غټې[۱۳] ته وخوت. پورته د درې په وروستۍ برخه کې ، دوو ماسینونو د تونل له خولې نه د اضافي خاورو او ډبرو وروستۍ کوټې ښکته مخ په ځوړه تویولې او دوړې یې ځپه ځپه مخ په ده راتلې. د کار د قواو افراد او کارګران کتار کتار او یو یو د افتنور[۱۴] پلو خپلې قرارګاه ته رار وان وو. دوی هغو ښکاریانو ته ورته وو چې په بدو شرایطو کې نابېره له خوني ځناور سره مخامخ شوي وي او له ډېرې سختې مبارزې وروسته پې بر شوي وي او بیا ستړی ستومانه د یو چوپ غرور تر هوا لاندې خپل کلي ته راستانه وي.

لاندې د درې له کوزو برخو څخه تور سړک په سینه باندې د کارموټرونه رابهیدل او لکه اوراورکې[۱۵] یو په بل پسې رار وان وو. په تیارو پیچونو کې لکه د څرغونو امیل او ښتل را او ښتل.

---

۱۲ ـ دروی = نله، د لرګی شپېلۍ، دلته دود کش او د لوګی وتلو نه مطلب دی

۱۳ ـ غټې = لوره ، هسکه

۱۴ ـ افتنور= د یوه ځای نوم دی

۱۵ ـ اوراورکې = هغه الوتونکې خزنده چې د شپې رڼا کوی او په دري ژبه یې (کرم شبتاب) بولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرونه ډېر درانه ښکاريدل. آسمان زښت ښايسته شوی و او لکه د مرغلرو ادنې ستوري ورباندې ځليدل. پردل وار په وار خپلو انديښنو د تېرو خاطراتو غيږې ته ورغوځاوه، د لوړو غرو په لمنو کې دسپيدو ننداري؛ هر سبايي د کار سيمو ته د موټرو، ماشينونو او خنديدونکو زلميانو لږد او شور؛ د رخصتۍ د ورځو ميلې او سندرې، له غرو او غونډيو سره جګړه؛ په ژمي او توفان باندې بری؛ له طبيعت سره مبارزه او له بشريت سره مينه

او ....

پردل نه پوهيده چې څه ور شويدي، ولې دننه په زړه کې ځوريږي؟ د څه لپاره غواړی چې تل ددی ساړه او ځيږه سالنګ په لمنو کې پاتې شي؟ ولې، ولې، ولې؟

ځوان پردل په خپلو افکارو غرق، لوی سړک ته راکوز شو، لار باالکل تيلره شوې وه او ده تمامه ورځ د غره په جګو لمنو کې تېره کړې وه. ده نن هغه ټولې سيمې له نظره وايستې چې ده د خپل يونيم کلن عسکري خدمت په موده کې هلته زور ازمويلی وه، خولې يې تويې کړې وې او له هر کمره او هرې تيږې سره يې بلد و. ده ته ددې سيمې هر بوټې او کانې لار شووله او له هر موټې خاورې نه يې د خپلو خلکو او وطن د مينې وږمه ورتله. هماغه شپه ده ډېر غوښتل چې د سالنګ او خپل ماسين په باره کې يوه حماسه وليکي او خپل سرکش روح په تسکين کړې، مګر ګوره څه پې شوي وو چې شعر يې نشوای بسکلای او کلمات ځنې تښتيدل.

شپه پخه شوه. د کارګرانو په کاغوشونو کې د سور او ځوږ جوش کينستی و. ځای ځای په کټونو باندې دوه، دوه، د ګې،درې، پنځه،پنځه انډيوالان سره ګوښي شوي وو، ټوکې ټکالې، آزادې مرکې او يا جدي بحثونه يې سره کول. په ځينو ګوښو کې ترخيصي افرادو سندرې بللې او په زوره، زوره يې خندلن دغه شپه د کارګرو او افرادو تر ټولو خوشالوونکې، بختوره او نيکمرغه شپه وه. په سالنګ کې ډېر ستر او دروند کار سرته رسيدلی و او د لومړی ځل لپاره د سالنګ هيبتناکې او خوني لارې د موټرو کاروانونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله غيږه خلاصوله. پردل په همدې شپه کې غلی او غمجن بې حرکته او وچ کلک پخپل شکيدلي کټ ناست و او سريې په زنګنو لګولی و، د خپل بستر د شړی شړيدلې څنډه چې هميشه به يې تر بستر لاندې پټوله نن يې او څه پرې يښې وه. ږيره يې د عادت په خلاف ببره شوې او د سر پر ويښتانو يې دورځې د دړو او خاورو آثار لا پاتې وو. د پخوانيو شپو مستۍ او خنداوې، ټوکې او ټکالې، شعرونه او سندرې ګرد سره ځنې هير شوي وو. پردل هغه پخوانی پردل نه و او يو مړ ژواندی غوندې شی ورڅخه جوړ شوی و. انځر لا د مخه د پردل په وزه پوه و، نو څنګه چې کاغوش ته راننووت، مخامخ وژغی ورنږدې شو، لاس يې په ولې ور کيښود او په کراره يې وپوښته:

دا ولې داسې خپه يې؟

پردل سر راپورته کړ، په ځير ځير يې انځر ته وکتل او بيايې په يوه ترخه مسکا کې ورته وويل:

د دې لپاره چې د سالنګ د لارې کار تمام شويدی.

ـ اوهو؛ ته نو د سالنګ په تماميدو خپه کيږې؟

ـ هو؛ او دا ځکه چې د کار تماميدل ما له خپل ماشين نه بيلوي!

انځر دې خبرې ته کټ کټ وخندل او ده تې يې مخ راواړاوه:

ما ته دې د يوه کزچي قصه را په ياده کړه. هغه به چې خپل اوښ ته وانبه ورواچول لکه ميخ ځای په ځای به ورته ناست و او بيا به چې چا پوښتنه ځنې وکړه هلکه! ولې خپل اوښ سرته لکه د غم څلی سوټ موټ ناست يې؟ کوچي به په ځواب کې ورته ويل: دا ځکه چې د خپل اوښ شخوند مې ښه ايسي او خوند راکوي. ته هم کټ مټ هماغه کوچي ته ورته يې، مګر ستا او د هغه تر مينځ دومره توپير شته دی چې هغه په يوه حيوان باندې چې ساپې لرله او د خپل خاوند تميزيې کولای شو مين و او ته په يوه ټوټه او سپنه چې نه سالري او نه حس، نه تاليدلی شی، نه پيژندلای!

پردل يوه شيبه غلی و وروسته يې سر راپورته کړ، ستر ګې يې ورپېدې د پوزې ځوکه يې سره شوه او ملګري ته يې په کلکه وويل:

هو، انځره ته ريښتيا وايې، ماشين حس نلري، مګر موږ خويې لرو. په نړۍ کې دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سپنو، ګڅو، ارګيو او نورو شيانو څخه جوړ شوي يادګارونه ولې لمانځل کېږي؟ حتی په ځينو هيوادو کې رسمي ميلمانه هغوی لمانځي او پښو ته يې ګلان ږدي .

دا ولې ؟ . . .

آيا دغه يادګارونه احساس لري ؟

آيا دغه درناوی له دغو بېځانه يادګارونو سره مرسته کوی شي ؟

ته بايد يوه شې چې بشر يوه تنده لري. دې تندې ته عاطفه وايي. د انسان عاطفه د ده سړيتوب اساسي جوهر دی. انسان همدې عاطفې انسان کړيدي. انسان پخپله مينه کې، پخپلو دوستيو کې او کله کله حتی پخپلو غمونو کې او ژړاو کې همدا عاطفه ښکاروي. وطنپرستي پخپله تر ټولو ستره او مقدسه عاطفه ده. که څه هم وطن دا عاطفه نشي حس کولای، مګر موږ خويې حس کوو او خپل ژوند پې ښکلی کولی شو .

په ما دا خپل ماشين ځکه ګران دی چې هغه زما لپاره اولس او وطن ته د خدمت کولو ډېر لوړ امکانات راکړل. هغه په يخنيو کې، په بادونو، اوريا و په تيږو او سختو لارو کې زما هڅې او زحمتونه کامياب کړل او زه يې د وطن د خدمتګارانو په صف کې ودرولم. په کوچي باندې خپل اوښ ځکه ګران و چې هغه به د کوچي کورنۍ او ماشومانو ته د ژوند شومه پيدا کوله، هغه ته يې د مشروع ګټې او د روا فعاليت امکان ورکړی و ، ليکن زما ماشين د يوه ستر ملت او زما د مورني هيواد د آبادولو په چارو کې له ما سره مرسته کړيده او ما ته يې د «ماشينکار» د ستر لقب افتخار رابخښلی دی.

زه رښتيا له دغه خړ کي ماسين سره مينه لرم. اوس چې زموږ خدمتونه د سالنګ په واټ کې سرته رسېږي ما ته تر هر څه دا سخته ښکاري چې له خپل ماشين نه بيل شم او خدای پاماني ورسره وکړم .

کله چې د پردل خبرې دې ځای ته ورسيدې انځر په مينځ کې وروردانګل او ويې ويل:

پردله ! ته خو لکه دې نورو غوندې بې سواده او ساده سړی نه يې، تاغوندې يوه يوه زلمي نه دا توقع نه کيږي چې د هيواد په يوه داسې ستره پروژه کې يې کار کړی او هغه يې کاميابه کړې وي، بيا ددې په ځای چې خوشاله وي او ځان جشن ته چمتو کړي، هغه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل ماشین پسې ژړې او د او سپنې په یوه بې ځانه مجموعې پسې دې خپه وي. په دې باب کې یو کلنګ، یو یوم، یو زنبیل او یو ماشین هیڅ توپیر نلري او نه ښایي یو عاقل انسان له هغوی سره داسې تعلق و نیسي، لکه له ژوندیو مخاقاتو او انسانانو سره یې چې نیسي ځنګه پر دله، داسې نه ده ؟

ـ نه، نه، زما لپاره هیڅکله داسې نه ده، که زما نظر چا منلی وای ما به دا خبره کې ماشین چې اوس یې غابښونه هم یخ شوي او زوړ شویدي، هالته بر د تونل د خولې څخه پورته په مخامخ پرښو باندې ایښی و او ترې لاندې به مې لیکلي وو :

« دا د هغو خلکو د پیړۍ د کار وسیله وه چې دا سخته لاره او سرکش غرونه یې هوار کړل او د انسان هیلې یې پې و منلې » .

ملګریه ! د او سپنو ماسینونه تر هغو انسانانو ډېر ښه او ارزښت من دی کوم چې د اولس د خلکو غوښې او وینې خوري او کله چې مړه شي، نو بیا د نورو لیوانو په سلهاو مودرونه د هغوی د ځنازې په موځر پسې ور روان وي .

زما عقیده داده چې باید یوازې د خدمتګارانو قدر و شي او دا هیڅ فرق نکوي چې دا خدمتګاران له او سپنې څخه جوړ شوي وي او که له غوښو او هډو کونه !

که دا ماشینونه چې سرو کال موږ پې سپاره یو او هر کار پې کوو له هغو انسانانو سره مقایسه شي چې هیڅ عملي کار د وطن لپاره نه کوي او تل د وطن د زامنو په اوږو سپاره وي او ددې مقایسې قضاوت تاته درکړی شي ستا حکم به څه وي ؟ ! دا کاریګر او خدمتګار بې سا ماشین به ښه بولې او که دا بل بېکاره او طفیلي ژوندې انسان؟ دا دحس او شعور غل خاوند او که دا بې حسه او بې شعوره معمار ؟

کوم یو ؟ وو ایه کنه !

انځره ! دې خبرو او تورو ماشینونه ته په سپکه سترګه مه ګوره، زه د دې ماشینونو په آواز کې ، د سرتګانو د چاودونو په آواز کې، د تیږو د ګغښتو او د غونډیو د نړیدو په آواز کې او په تېره بیا ستاسې د ساده نارګرانو په سندره، پولیو او شورماشور کې د خپل وطن آواز اوروم. زما د ماشین آواز زما د وطن حماسه ده او زه حق لرم چې ددې حماسې پر شاعر مین شم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ورځ زما نه يادېږي چې زه دې ماشين ته ختلی يم او دی دې نه وي چالان شوی. ده زما ټول همرونه او غوښتنې تر سره کړيدي. دی زما هغه خوږ ملګری دی چې زما ستر هيواد او لوی اولس ته يې د مستقبل لاره هواره کړيده او له همدې کبله زه پې مين شوی يم .

د پردل او انځر له دې بحث نه شل شپې وروسته د سالنګ په تاوراتاو دره کې يو ټولګی چې د خدمت دوره يې په سالنګ کې خلاصه شوې وه مخ په ښکته روان و او دا ترانه يې په ګډه بلله :

دغه پرښې ، دغه غـــرونه
دغه تـــړې ، دا خــوړونه
دا ژورې ستـــرې کندې
دا پيچـــومې ، دا مـوړونه
تا سيخ کړي، تا سم کړي
تا جګ کړي ، تا تم کړي

خدای پامان خړه ماشينه !
خدای پامان خړه ماشينه !

دغه غــــــرونه به آبـــاد شي
زموږ زړونه به پې ښـــاد شي
د وطن له ټــولو خـــولو به
يو ځای جګ به دغه غرياد شي
«آبـــاديږي پې ورســم شئ
وطنــــوالو ! ورته تــم شئ»

خدای پامان خړه ماشينه !
خدای پامان خړه ماشينه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې ستړي او ستومان یو
له سالنـــګ څخــه روان یو
ستاوفـــــــا به نکړو هېره
موږ سپېڅـــلي افغـــانان یو
ای د غـــــرونو پهـــــلوانه
ای د تیـــــــږو قهـــــرمانه
خدای پامان خړه ماشینه !
خدای پامان خړه ماشینه !

د سالنګ د پرانیستلو ورځ : کابل ـ ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیند سرود

پیړۍ، پیړۍ تېرې ضوې او دا مغرور سین د هندوکش په تاوراتاو دروکې لا خپله انقلابي حماسه بولي :

« تل به زما په ځپو کې د خوځېدو، منډو او یرغل قوت ژوندی وی، زه د سمندر د ځپو ټکرو او د لمر وړانگو زېږولی یم ؛

زه د زورورو او سترو توفانونه په زانگو کې روزل شوی یم ؛

ماته ته تالندې، برېښنا او یاغی بادونو للو ویلی ده ؛

ما د سمندر په تیارو تلو کې له نهنگانو او سترو کبانو سره لوبې کړیدي او د آزادو سیلیو تر بولۍ لاندې مې له ساحلي غرونو، کمرونو او ځنگلونو سره غېږې نیولي دي ؛

زه د استوا گرمیو او قطبي سخنسو ازمویلی یم ؛

ما د توفان په منگولو کې زړور ماهو گان بلدلي دي چې ځنگه د وحشي او فهرجنو دپو تر یرغل لاندې په سره سینه د خپلو هدفونو خواته خوځېږي ؛

ما د پرمختلونکې انسان د زړه قوت او د سترو برېښنا ازمویلی ده ؛ داسې انسان تر تربږمۍ او توفان ډېر پیاوړی او تر برېښنا او اندر خورا چټگ ټی . »

« زه د گړنیو وریځو په وزرونو باندې له هر هوارو سمندرونو نه د لوړ هندوکش څوکوته راوختم، دلته مې د وریځو مستۍ، د بادونو له توندۍ، د باز ته گړندیو او د سیلاب له هیبتناکو موزېدو نه نوې حماسه زده کړه ؛

زما ددې حماسې قهرمان هماغه زړور او پیاوړي انسان دي کوم چې واورو، بادونو او سیلابونو راچاپیر کړی، مگر سر نه ټیټوی او نه تسلیمېږي ؛

زه له همدې انسان نه الهام اخلم او په ناآزمویلو لارو، کمرونو او دروکې لاروهم او د بحر خواته خوځېږم ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه قدم په قدم خپله حماسه تکراروم ؛

بايد د سيندونو او غرونو حماسه يو شي ؛

بايد ټولې سندرې، ټول سرودونه او ګردې حماسې يو شي ؛

بايد ټول مقدس غضبونه، ټولې کوکې او فريادونه، ګردې ټپې او درست توفانونه سره يو شي او په ګډه د نوي، زړور انقلابي انسان د زغم، جرأت او پرمختللو حماسه بشپړه کړي ؛

زه د څپو، توفانونو، ځغاستو او ژوند استازی يم ؛

ځکه د آزاد انسان د خوځېدو، پرمختګ، يرغل او رزم حماسه بولم ؛

غر او هواره، سين او بحر، با او باران.... دا ټول د زيار ايستونکي انسان د سترې جګړې حماسه بولي .

د انسان هڅه او جګړه، د انسان تکل او يرغل، د انسان ژوند او هدف تر ټولو اوره حماسه او تر هرې سندرې ښکلې سندره ده .

او زه به تل دا سندره ژوندۍ او سپېڅلې وساتم ! »

پلخمری ـ ۱۳۴۸.٦.۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی گردان

د شيرميرگن [۱٦] د جومات په برنده کې مې کرۍ ورځ دعربي صرف گردانونه ياد ول: ضرب ، ضربا ، ضربوا . . .

ماغزه مې ستړي شوي وو او سر مې کلک خوږېده .

هالته پورته د جونغر [۱۷] د زمان ځيلې غره پر پستو ډډو باندې د رنگينو وريځو يو ښايسته کاروان راکوز شوی و . بې له دېنه چې باد د وريځو شملې و خوځوي د لړو رنگين کاروان ورو ، ورو په پرښو او پاڼونو باندې وزرغوړول او پر هوارو تم ځايونو باندې يې اکه مرمري پرجونه ځای پر ځای ټاټوبي کول .

د جومات د حجرو له شانه د ابو د ژرندې موزون او نه شلېدونکې غورمې چاپيريال ته خپله زړه همسشنۍ موسيقي او لرغونی تصنيغ تکراراوه .

د ستومانو ماغزو د کرارولو لپاره مخ په شنو کروندو ووتم. د او بو کوچنی لښتی په شگلنه او کريږنه ځمکه کې کوږ، ووږ کوزنيو کليو ته بهېده. د پليو نرۍ لاره د ځوځانو او وحشي بوټو تر مينځ له نري لښتي سره غبرگه ځوره شوې وه .

شاوخوا د بزگرو کلي او کورونه، جونگړې او څپرې او پر ديوالونو باندې د چاپکو کتارونه ، د کلي مخ ته د ايرو او کثافاتو ډېرلنونه او پې د پاسه د کورنيو چرلانوبنډار، د بوره پټيو، د وچو وښو پر ډنډرو خځلو کې څو ډنگر سر گردانه خوسکي، ځای ځای د هستو.نې جونگړو تهخ نېږدې د توتانو يوه، دوه ونې او ترې لاندې د کلي ماشومان د خاورو د لوبو بوخت وو. ورايسته په لويه لار کې سوځوونکې لمر ته پر تاوده پوټې باندې يو تور خر د ايتراحت لپاره اوږد غځيدلی ، داسې چې ته به وايې سا ترې ختلې ده. يو خړ خاځل

---

۱٦ ـ شيرميرگن = په دانه غوري کې يو کلی دی او سليمان لايق طالبې پکې کريده.

۱۷ـ چونغر = د پلخمری اولسوالۍ کې د غورې په سيمه راڅرخيدلی غر دی، سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو شعرونو لومړنی اثر د همدې غره په نوم نومولی دی .

سپی چې غړونه او لکۍ یې ترې پرې شوي وي، داسې قابو پر سینه باندې پروت دی چې مچ یې لا نه وي لیدلی بیایې خوله وراچولې وي .

د اشیاو، رنگونو او تصویرونو په دنیا کې وړاندې روان یم او خوځیږم، خو د ستر گو کامرې مې هماغلته پر هماغه یوه تصویر باندې فوکس شوي دي .

ضرب، ضربا، ضربوا . . .

زړې خونې، زاړه کلي، زړې لارې، زاړه لښتي، هر څه او هر څه لکه پخوا، کټ مټ لکه پخوا ؛ اوله دې گردو سره د شیرمیرگن د جومات دالان او حجرې او په زړو حجرو کې هماغه زاړه درسونه : ضرب، ضربا، ضربوا ـ یعني یوه تن ووهه، ټوو نتو ووهه، دریو یا زیاتو کسانو ووا هه !

هڅوک دا پوښتنه نه کوي چې څوک یې ووهه، چا ووهه چېرې ووهه او ولې یې ووهه او ددې وهلو او جگړې داستان ولې نه ختمېږي ؟!

پښې مې خوځېږي او پر نرۍ لاره مخ ښکته بهېږم . ماغزه مې د عربي گردان تر گذارونو لاندې میده میده دي او سخت درد کوي

ضرب، ضربا، ضربوا . . . مې د بدن ټول ذرات ډک کړي دي او یوه شېبه مې له خپل عقل او ذوق سره خوالې ته نه پرېږدي.

په دې ناپایه گردان کې زه د دایرې یوه نقطه یم. په دې گرځنده دایره کې زما په څیر ملیونونه نقطې یو د بل لاره تعقیبوي او ددې گردان نا تمامېدونکې رنځ او عذاب گالي.

دا دیارلسمه پیړۍ ده چې د شپې ستورې او د وږځې ښورې د دی ښایسته چونغر په لمنو کې زموږ له خولې نه همدا یو تکراي گردان اوري : ضرب، دربا، دربوا . . . !

دا گردان نه دی، گرداب دی ، گرداب ؛ له هماغه ځایه چې شروع کېږي، پر هغه ځای را گرځي او تکرارېږي.

داخو لږ وخت نه دی، پوره دیارلس سوه کاله دا گرداب پخپله دابره کې راخرخنږي او زموږ ماغزه، عقل او وجدان پر خپل ځان را چورلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عربي ګردان په جنګ، جګړه کې به مې ناخاپي نظر د ښايسته جونغر د پاسه، د وريځو پر لړونو پريووت. بندي او ليوال زړه به مې بې واکه د فخيل په قفس کې وزر وزر پول. شعر ته ورته رنګيني او سندريزي جملې او الفاظ به مې په ذهن کې راپيدا شول، په ماغزو باندې به مې د عربي ګردان تندر راپريووت، ناخاپي او بې ارادې به مې د ژبې تبۍ د هميشني عادت په ژرندهکې په خوځېدو شوه او د ضرب، ضربا، ضربوا ګردان به د راغلی الهام پر مخ ور وتاړه.

د عربي ګردان په تنرارولو کې روان يم او پسې ځم. پښې مې خوځېږي او شاو خوا ځوځانو، ګنګانو[۱۸] او نورو وحشي بوټو له چم نه تېرېږم مګر ستر ګې مې ترې خحوند نه اخلي. کربوړې، چرمشکۍ، ميږتانه، غوباړی او راز راو ژوندی ساري په بوټو او وچو وښو کې ښوري، مګر زه يې نه وينم. په ولاړو غنمو کې د باد شرنګی، د لښتې د اوبو زمزمه او د لارويو خر کارانو سندرې مې پر غوږونو باندې کيني. هيڅ شی نه اوروم، د ټولو پر ځای باندې هماغه يو ګردان اورم، هماغه وينم او تکراروم يې:

ضرب، ضرب، ضربوا.

د عربي صرف د ځورونکې ګردان په تکرار کې له خپل سرخوږي سره يو ځای د عزيزاکا د سبو کروندې ته راورسېدم.

عزيزاکا، هماغه پخواني مهربان بزګر په پولو کې کارکاوه او تر بېلچيو په خټو کې خښ و. زما د پښو ښکالو[۱۹] يې واورېده، راويې کتل، يوم يې د لښتې په پوله باندې ودراوه، لاس يې د وروځو د پاسه پر تندي باندې لمرته سپر کړ، ښه راته ځير شو او بيايې زما پر لور پښې راسپکې کړې او په منډه کې يې مخاطب کړم:

ودرېږه، آخندزاده ودرېږه؛ چې جواری سره وخورو!

۱۸ـ کونګه = د (مردغه، ترخه) په تول، يو سارانی وړوکی بوټی دی چې سپيدارته ورته پاڼې لری او د سوزولو لپاره په کارېږي. د پکتيا په دښتو کې زيات موندل کېږي

۱۹ـ ښکالو = يو کمزورې آواز چې د يو موجود سته والی علامه وي په دری ژبه کې (شرفه) ورته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه پخوانی عزيزا کا، خو تر پخوا ډېر زوړ شوی او يوه ستوی سوی، ملايې د رېږوونکې کار ، اوږده فقر او زړښت له امله لکه ليندۍ راکږه شوې. وزرونه يې لکه ګرمۍ وهلی چرګ ځوړنځ دوي او ګامونه يې ارت، مګريې واکه او بې موازنې، تر ملايې د سر تور لنګوټی تاو کړی او بريښنده خيرنه خولۍ پر سر ، په خولو کې خيشت پيشت پيشت راورسيد او سمدستي يې متې رانه چاپير کړې. د تروشو خولو او خپرو ډډوزې

ځينې پورته شوې او په دې توګه يې د دوستۍ او پلارولۍ مينه وپالله.

ناڅاپې مې له خولې ورته وويل :

په دې زهير ځان او په دې عمر ؛ لا ترکله ...؟

ده وويل :

هو ؛ نو څه وکړم ؟ دغه به له خدايه راته مقرر وي !

ما ويل ، زلې ؟ اوس هو بهرام، جليل او جميل مکړه زلميان او د کار يږي دي !

ځير ځير يې راته وکتل او د سترګو په ځيږمونې يې يوه نرۍ ويانده او غمجنه مسکا وروپيده.

ما ويل : ولې؟ ولې؟

عزيزاکا ځواب راکړ : بهرام په عسکرۍ کې مړ شو. جليل د خواجه الوان په لوونوکې لمر وواهه او د خدای په رضا لاړ. جميل خوارکی د پښو له خوږو شل شوی او د هغو نورو ځوانيمرګانو له ښځو او ماشومانو سره ماته را دغاړې دی ...!

سر مې چکر وواهه، نړۍ مې ه غاړه کې کړۍ شوه، د عربي ګردان ځړيکې مې لکه پولادي ځنځير په ماغزو کې وښوريدې :

ضرب، ضربا، ضربوا ...

د عزيزاکا له سترګو نه دوه رڼې اوښکې راوبهيدې. زه بې طاقته شوم غره ته مې مخ ورواړتوه. شاعر چونغر سپينو لړو ته تور رنګ ورکړی و او هغه يې له کمرونو او تبيو څخه هواته پورته کړی وې. توفاني باد د وريځو سره بيرغونه څوکوته خيژولي وو. آسمان لومړنۍ غصه پيل کړی وه او ځوانو سپلاوونوته يې د ځوړندو پټيو او کږو لښتو پر لوري د يرغل کرښه ورښووله. دتالندې جيغو او د برېښنا تازينو د ځمکې ټول ويده رګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوځول. یپاوړې باران، سرې سیلۍ او د لندې خاورو بوی زما ناکرارو او رنځورو ماغزو ته دمه ورکړه او زه یې د برېښنا او تندر په کړنګارکې د زاړه ګردان د تاریخ ځپلې دایژې له طلسم نه آزاد کړم .

له درانه خوبه راویښ شوم، تور ویښتان مې سپین شوي وو . پاڅېدم، څادر مې وڅاڼه .

جومات نوی شوی و، طالبان نور وو او د زاړه ګردان پر ځای یې دغه ګردان زده

کاوه: ډوډۍ ، کور ، کـــالي !

سوله ، آزادي ، سوکالي !

خلک ، ګوند ، انقلاب !

پاس په جونغر باندې د وریځو سور بیرغ کې د غروب سکروټو کې یې د غیلان [۲۰] د وینو رنګ اخیستی و د نیلي آسمان په زړه کې رپېده. په راڅوړندو ناوو او درو کې د سپینو وریځو پټارې د غره د کمیس تر لمنو پورې راغځېدلې وې .

زه د شعر پر ټال وختم او تر نوي ګردان لاندې مې دغه ټکی زیات کړل :

ښکلا، مینه، شعر، موسیقي او نیکمرغي !

کابل ۱۳۵۷.۲.۲۰

۲۰ـ غیلان = د خراسان د شعوبی نهضت یو قهرمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښيمان سرباز

د مني د مازيگر زيړ بخون لمر ورو، ورو د لويديځو غرو واورينو څوکو ته راکوزېده. د تورو وريځو يو ه ستره پاغونده د لويديځ له لوري ختيځ پلو ته د شينکي آسمان په دړه رابهېدله، ښکته په تنگه ژوره دره کې د پنجسير سين د څپو دهاتيانو پر ليکه کوږ ووږ روان و. ورلرې د کوهستان پر هوارو شنو کرونو کې شين خپله سينه پراخه کړې وه او د شنو باغونو دونو له څانگو او څېو څخه يې مچې اخيستلې. د اوړې موسمې يادونو د باغونو په زرغونه بحبره کې ځپې وهلې او د مستانه سين سيرودونو ته نڅيدل.

بابه خان د لوړيدونکي غاښې پر ډبرينه سينه د خپل مشکي آس تر جلب لاندې په ستما، ستما پورته خوځيده. د ښي لاس ماتو شويو هډو کويې څړيکې وهلې او توده تبه يې د ټول وجود په اندامونو کې خوره شوې وه. د کروندو او د سين د غاړې د وحشي ورږو بوی د مساله دارې شوروا او تودې ډوډۍ عطرو او له پيغلې سره د چغلبازيو تخيل پر زلمي سرباز باندې د پيچومې ختل آسانول. په بېخوبه پړ سيدلو ستر گو کې يې د ستومانوونکو ترخو پيښو بيلگې ښکاريدلې، رنگـ يې الوتی و او په بڼه کې يې د درد او کسات لمبو ځپې وهلې.

د آس پر ساغرير يې يوه زړه خورجينه چې ښه نه و مصبوط شوې اې خوا دې خوا زنگېدله. آس يې ستومانه شوی و، په ښي لاس نگوښيده او په متکی پر لار روان و.

بابه خان ته د پرنگې په جگړه کې خپل سرگذشت ورياد شو. ده ته په کابل کې د ۱۸۷۹ کال د نوامبر دا دسامبر بريالي يرغلونه ورياد شول:

«هغوی به اوس چيرې وي، په څه کار لگيا دي، محمد جانخان وردک، ملا مشک عالم او دا زموږ زمری ميربچه ...»

بابه خان د شيرپور پر عسکري کلا باندې د ۱۸۷۹ م کال په يرغلونو کې د کوهدامني ميربچه خان تر مشرتوب لاندې گډون کړی و. د هغه وخت تاوده او وياړلی خاطرات ورياد شول، په بريتو کې يې نرۍ مسکا وخوځيده او پخپله برخه يې شکر ويوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

. له غازي محمد جانخان سره د پيژند گلوۍ پښبنه ورياد شوه ، ستر گې يې له مينې او عاطفې ډکې شوې ، د ړړا ميل ورپيدا شو ، مگر ويې نه ژړل او له ځان سر يې وويل : ۲ د ميړنيو حق په اوښکو نه ادا کېږي، په وينو ادا کېږي » . مات لاس يې څرېکې ووهلې . د ۱۸۷۹ کال د نوامبر په مهال د کابل په ښار کې د انگريزانو په لاس د وطنپالونکو پانسي او اعدامونه ورياد شول، د کرکې او کسات توفان يې په مغزو کې راپورته شو، پر مخ باندې يې د خولو نيز راخوځېده او په رپېدونکو برېتويې ننووت. مات لاس يې د غاړې له پټارې نه بې ارادې د تورې په لور اوږد شو او بابه خان يې د درد له زوره لکه سوی سکور تک تور کړ، ځای پر ځای ودريده، ستر گې يې له درژه پټې کړې او پر کينړ لاس يې د ټپي لاس ځنگل راتم کړه .

يوه شېبه وروسته يې د اميدوارو ستر گو کونجونو ته د مسکا څپې ورسيدې تندی يې ورين شو، بې واکه يې کينړ لاس په برستو راتېر کړ او ستر گې يې مخامخ تر ټولو په لوړه څوکه خښې شوې :

.... د سيخيلو او جمالاغې جگړه هم ، گرمه جگړه وه ، ... کاک گوزارونه مو ور کړل. خو جنگ جنگ دی، تل او هميشه بری نه راوړی، مگر نه، نه ... که خيال گل مورچه نه وای خوشې کړې گور که کپتان به زما شاته نهور سيدلی او ما به په هغه باندې د تيښتې لار ترلې وه. هی هی چې هم زخمي شوم او هم ښکار له لاسه ووت ... تر زرو نامردانو يو مرد ښه دی ـ مړ به دې کړي، مگر وبه دې نه شرموي. گوره چې کله به بيا زما جنگي وزر روغ شي .

بابه خان ته خپله پيغله ورپه ياد شوه، د خولې څوابنتی [21] يې سره وغځيدل او د جنگ له ميدان نه دځوانۍ او مينې د ليونتوب ساراته ورننووت.

آه کور دې وران شه څومره ښايسته يې !

آيا هغه به باور کړي چې ما دومره ميړانې کړيدي ؟ تو که زما په ميړانه شکمنه شي څوک به زما صفايي کوي ؟ او که داتور شک په ما پيدا شي، زه به بيا له کوره جومات ته د

۲۱ ـ څوابنتی = وښکی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لښتي پر څنډه څنګه ځم چې د کلي پيغلې هر ماښام پې راپنډېږي .زه به د کلي نجونو ته يو نامرد او له دښمن نه راتښتيدلی سړی ثابت شم. زما نجل ته به په پيغلو کې څه غرور او عزت پاتې شي. د پلار او رميړ به مې له شرمه په ګور کې رامات شي. جومات او زموږ هديره به سپکه او پر ما به د ټول عالم ناورينونه را واوريږي.

بابه خان د کور او جګړې د ميدان تر مينځ لا په خوږو ترخو تصورانو کې د غره په جګه سينه الويزاند روان و چې په پورتنيو تړو کې د ټوپک د فير آواز جګ شو او د غرونو په شاو خوا لوړو کې يې غځونې وکړې. بابه خان لکه ترهېدلی غرځنی ځای په ځای ودريده او له آس سره يو ځای غوږونه څک کړل . سمدلاسه يې هغه تړې تر نظر تېرې کړې چې د غاښي سهيل لورته لکه کلا ګانې په مستقيم خط جګې شوې وې .

د ټوپک لوګی پيدا نه شو او هيڅوک يې ونه ليدل. بابه خان د لارې ژۍ ته را په شا شو. په يوه هواره ډبره کيناست او سترګې يې د غرونو له لوړ بام نه د کوهستان هوارې او شنې ناوې ته راواړولې . د شونډو په پترو کې يې د مسکا يوه تګخه څپه راغبرګه شوه. په زړهکېيې د رزم او عشق غبرګې بربښناوې وپړکېدې، د خندې څپو په غېږ کې راوينو او له ځايه يې راپاڅاوه. د آس جلب يې د زين په کړۍ کې وتاړه او بيرته مخ ښکته د شتل په استقامت کوهستان ته راځوړند شو .

« ... نه ، نه زه کورته نه ځم، د کليو لارې تړل شويدي ؛ زه واځې يوه لار لرم او هغه د جنګـ ميدان ته وتلې ده ؛

ماته له دې خاورې نه د مور پوی راځي او زه حق نلرم خپله زخمي مور د فرنګـ تالانګروته يواځې پر پرېدم ؛

دوه لاسونه د همدې لپاره دي که يو مات شي، بل د هغه پر ځای وخوځېږي ، که زموږ غلي شوو ژوند او تکل به غلي شي او زموږ پر ځالو به د اسارت بدمرغ سيوری خور شي.

ترڅو زموږ د پلرونو هډېرو دلته شته دي او په اورغلو کې پخوانۍ سکروټې نه دي ايرې شوي او د وطن زرين لمر زموږ رګونه او پلې ګرمولای شي د تورې وخت نه دې تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی ؛

موږ د مینې د تودو خې او د عدالت د رڼا ستایونکې یو ؛

زور او زبردستۍ ته نه تسلمېږو او د مېړانې مرگ د سپیتانې په ژوند نه بدلوو .

دا سینونه ولې شور کوي، دا د هندوکش د پاسه د وریځو څپې ولې پر کمرونو وړدانگې، دا د جگو درو واورې ولې رالېږدي او ددې وطن شجاع انسان ولې پرلویشته خاوره جنگېږي ؟

داځکه چې موږ او زموږ وطن د آزادۍ او ژوند د ساتلو لپاره هست شوی یو .

دا دی بېرته درو گرزیدم، ما و بخښه وطنه ! ؛

زه بیا هیڅکله له ژوندې زړه سره د سرنوشت له سرو لیکو څخه نه راوزم ؛

زه به د وطن د نجونو د غرور او مینې ډیوې ته د نامیندۍ او مرگ سیلۍ ورپرې نه ږدم ».

توره وریځ د کوهستان د غروب په ورستیو شغلو کې لکه د نوبهار د ارغلیو [(۲۲)] انگاره سره شوې وه او د شنې ناوې د هیلیو نورونه [(۲۳)] یې لکه د سرو زرو کټوري پخپلو رنگینو وینو ماړه کړي وو. ځانگړی سپور لکه د نیل زخمي نهنگ د لمر د شغلو له سمندر نه د تیارو د وتل ته ور ښکته کېده .

د سربازانو ژوند د کړاوونو او افتخاراتو پر لیکه تېرېږي !

---

۲۲ ـ اورغلی = اورتون، آتشکده ـ نغری

۲۳ ـ نور = د هیلیو د ښکار ډنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوڅو سرګردان

سر تور او سپېره سر، لوڅې او چاودې پښې، څيرې ګرېوان، له اوښکو ډکې سترګې او له سلګو پرسيدلی ستونی ايخوا؛ ديخوا سرګردان روان و. لمن يې له ورو، ورو هډوکو او شګو څخه ډکه کړې وه، کله به د سړک يو ژي ته کېناست او د لمنې شګې او هډوکي به يې ښکته پورته کول او کله به يې بېرته په لمن کې واچول او بې ارادې به بل لور ته روان شو. خو د کوچنيانو کومه ډله به يې وليد له ژړه غ.ني بڼه به يې مسکۍ شوه او په ډېر خوند به د هغې په لور وررهي شو. د لمنې هډوکي به يې وغورځول او سپېره ميره به ملګرو ته ورغی. دهلکانو په توده او ښايسته کاليو به يې ګوتې وهلې او بيا به يې په نيمه ژبه ورته وويل:

دا چا درته راوړي دي؟

کله به يې چې د کوم هلک سره د خوراک کوم شی وليد، نو دستې به يې پوښتنه ورڅخه وکړه چې څنګه خوند لري؟ چا درکړيدي؟ ماته يې ولې نه راکوي؟ بيا به يې وروسته وويل چې لږ خو ماته راکړه!

نو که به ملګرو سلا ورته ونکړه بيا به يې د چورولو ځار کاوه، چې وار به يې برابر شو لاس به يې واچاوه او منډه به يې واخيسته، هلکان به پسې شول او وروسته له څو منډو رامنډو به يې ونيو او په وهلو به يې ځتنونه پې ستړي کړل.

ژړاوې او نارې به پورته وې، خوله او پوزه به وينې شوې وو ملګري به تللي وو او دی خوار به ببر او سپيره سر پرځای پړ مخې پروت و.

خلک به دده د اړخ سره تېريدل، راتېريدل. چا به کوم وارې ورته وکتل او چا به بېخې التفاوت هم ورته کاوه. له ځانه سره به يې ترمازيګره وژړل او کله به په ژړا، ژړا کې غلی شو او خوب به پسې يووړ. او بې تودوخې لمر به د غرو تر شا کيناست. د ماښام تياره به د ښار په فضا ورو ورو راغوړيدله سړو سيليو به له خوبه ويښ کړ. را ولاړ به شو. سترګې به يې ومښلې او بيا به له خوبه ډک او ځوړند سر د خور خواته روان شو. له عمومي واټ څخه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

رابیل شو او د لوړ او ښایسته مانیو اړخ ته په د پلیو د لارې کیڼې خواته د دیوال تر اړخ روان و. کله به دغو ښو او غوړو زړه وړونکې وږمې د یوه بڼای د کور تر مینځ لکه میخ ځای پر ځای ودراوه، غټې او توږې ستر ګې به یې د بڼای په وره کې ښکته او پورته ورغړولې، خو ددې له ویرې چې د ماښام تیاره به زیاته شي ډېر ځند به یې نه کاوه، نو رهي به شو او په لار کې به د نان بای دکان ته راورسید. هلته به د ګرمو ډوډیو بوپ د دکان خولې ته راووست، اه هغه ځایه به هم په داسې حال کې چې تر ډېره ځایه به یې مخ شاته اړولی و ـ زړه نا زړه راتېر شو. لاسونه به یې تر تخرګو لاندې نیولي وو او له یخنۍ به لکه بڼکه رېږدیده. د پاخه ماښام په پخه تیاره کې به د هغې لویې دروازې مخ ته راورسید، ننه به ووت، د لوي او ښایسته عمارت تر مخ به لکه غل ورو ، ورو د پښو په ګوتو روان و، کله به سره له ټوله احتیاطه د کوربه هلکانو په لاس کښیووت، هلته به نو بیا هلکانو را ځملولی و، د ګریوان درز به یې تر لمنې پورې ځیرې شو او د خوار کي چیغو او نارو دنیا نیولې وه ز بختوره اګو[۲۴] به پې راخبر شوه، رامنډې به یې کړې او له هلکانو څخه به یې خلاص کړ، هلته به یې له اوړ کو ډ کې تورې ستر ګې د متجاوزو هلکانو په ستر ګو و ګنډلې، څو سلګۍ به یې ووهلې او ځان سره به ورو ، ورو وچونګېده، بیا نو بختورې اګو تر لاس نیولی د لوی سالون له مخې به سې تېر کړ او په یوه نرۍ لار به یې د نوکرانو سرای ته ننه یوست. هلته به د غواو له غوجلې څخه تېر شو او د تورې نمجنې کوټې دروازه به یې خلاصه کړه بیا به د کوټې بر سر ته تېر شو او د زاړه پوز کې په پیڅه به پریووت او رږل به یې.

څه وخت وروسته به بختوره اګو راغله او دوه وچې ډوډۍ به یې ورسره راوړې او په سره صندلۍ باندې به یې کېښودې، بیا به ولاړه او څه سکاره به یې راوړل، په کمکوټې منقل کې به یې واچول، د کوټې دروازه به یې پرانیستله او سکاره به یې تازه کړل. تور او خیرن چای جوش به یې په سکرو کېښود او چای به یې برابر کړ. د منقل سکاره به یې په صندلۍ کې واچول، بیا یې تور ستر ګې یتیم را چخلا کړ او تریخ چای به یې له ډوډۍ سره پې وخور.

۲۴ـ اګو = ابۍ ، ادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله به د کور به له آشپزنانې څخه د کباب او قورمې ورمه دهلك سپوږموته راغله، نو لاس به يې له ډوډۍ څخه ويووست او کباب به يې غوښت. مرور به شو، په ژړا او سلګيو به يې لاس پورې کړ او په ژړا، ژړاکې به پسې ويده شو. بختورې اګو به زوږ او شړيدلی ګنډ په ټندلۍ واچاوه او هلك به يې پکې ونغښت، بيا به يې لکه ليونۍ له ځان سره ورو، ورو خبرې کولې :

« لويه خدايه ، دا کوچنی، بې موره، بې پلاره هلك څنګه پوه کړم چې بايد په دې ټيټ او ويرجن ژوند قناعت وکړي،

دی هيڅکله نه شي پوهېدای چې بې پلاره او بې موره هلکان د قورمو او کبابو نو استحقاق نلريؤ دوی بايد لوڅ، بربنډ او په نيمه ګيډه ژوند وکړي. دوی د ښو کاليو، تودې بسترې او آسوده ژوند وړ نه دي، د دوی دنيا د لوږې او تندې دنيا ده، دوی بايد ه غمونو کې لوی شي او د نورو تر بار لاندې شپې او ورځې تېرې کړي او بيا د ژوند وروستۍ سلګۍ په کړاوونو او بدبختيو کې ووهي .»

بختورې اګو به دا څو خبرې پخپلو او ښکو ووينځلې او بيا به يې د تورو تيلو څراغ ټپ کړ او ويده به شوه .

د څراغ لوګي، د سکرو بخار او د نمجنې کوټې رطوبت به يو ډېر بد بوی او مهلك کيفيت پيدا کړ . همدا کوټه وه چې د تور سترګې يتيم مور يې له ارمانو سره يوځای ګورته ولېږله. اوس هم همدا کوټه ده چې بختوره اګو يې په راز راز رنځو اخته کړيده. بختوره اګو به څنګه چې سر مښنود، نو په ټوخلو به يې پيل وکړ کله به چې ټوخلې ډېره وارخطا کړه، نو نيمه شپه به راووتله او تر سپيده چاوده به په انګړ کې ګرزېدله .

شپې او ورځې روانې وې. بختورې اګو ناجوړې سخته شوه . د کور به له خدمت او چوپړ وهلو څخه ولويده او داسې په ځان اخته شوه چې هر څه يې هير شول. تور سترګې هلك ته ددې موقع پيدا شو چې د بادارانو کورته ورننوزي. هلك به په کور کې دې پلو، هغه پلو ګرزيده، منډه به يې وهلې. د کور د خلکو له وهلو او ډبولو څخه به يې سترګه نه کوله، کوچني هلکان اکثر شوخ وي، بيا په تېره يتيم هلك چې د روزنې او سمو عاداتونو له زده کولو څخه محروم پاته شوی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ د کور ښځو دوه، درې واري ښه په مزه وډباوه، مګر هلک لارې ته برابر نه شو او سم له ماښام سره يې يو ډېر ښايسته چيني لوښی مات کړ. د کور ميرمن سخته په غصه شوه، هلک يې له لاسه راونيو او د آسپزخانې خولې ته يې راوو ست، بيايې خپل يوه مزدور ته وسپاره او ورته ويې ويل:

دا هلک له چتې وتلی دی! دا يوه داسې ځای ته بوزه چې بيرته زموږ د کور لار پيدا نکړي، هلته يې خوشې کړه او پخپله بيرته راځه!

شپه تيره شوې وه، د بختورې اګو ژړاوې په تور ستر ګې يتيم پسې پای ته رسيدلې وې، د ژمي د سباوون ژېړ لمر د سپينو واورو په برستن غوړيدلی و. د

بختورې اګو باداران په تاوده سالون کې د سبا ناري په دسترخوان ناست وو، رايو خوږې او ښايسته سندرې خپرولې، کوچ، پيروې، هګۍ، کباب، شودې او مربا په دسترخوان ايښې وو، دخندا خبرو او مرکو په مينځ کې يو مزدور رانه ووت او ويی ويل:

د بختورې اګو حال ډېر بد دی. د ستر ګو توريه بېخي ورک شوي دي. خبرې نشي کولای او د نورو په خبره هم نه پوهيږي. ماته خو ښکاري چې خلاصه ده، نور نو خدای ښه پوهيږي.

هلته چا وويل:

له مرګه خو نشو خلاصولای، نو زموږ تکليف څه دی؟

د کاله ميرمن وويل:

چې مري، خو مري به، اجل به يې پوره شوی وي ته پخپله ....

د راډيو اعلانونه شروع شول او د کور د ميرمنې خبرې پرې کړې، راډيو وويل:

نن شپه د يوه کوچني هلک مړی چې عمر يې له پنځو تر شپږو کلونو پوې رسيږي د ښار د يوه عمومي سړک تر اړخ د پوليسو لاس ته ورغلی دی، خپلوان او مشران دې دريمې ناحيې څخه پوښتنه وکړي.

د کور خلکو يو بل ته سره زکتل، عواطف يې ونه پاريدل، ستر ګې يې لمدې نه شوې. زړونه يه ونه بريښيدل، مګر دومره يې وويل:

يخنی وژلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپي د مزدور له خولې چیغه راووته :
دا زړونه نه دي ډبرې دي، ډبرې دي، ډبرې .
د کور خاوندانو رنګونه والوتل او په مړو سترګوېې یو بل ته سره کتل .

۱۳۴۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
کسات	۱
شپېلۍ	۳
اوښکې	٦
اتڼ چې	۸
د غرونو په تياره کې	۱۰
د زمانې په ناپايه سين کې	۱۲
د شپانه نغمه	۱۴
زه	۱۷
ژړندو کې يتيم	۱۹
دا عجيب انسان	۲۱
زما نيمګړې ترانه	۲۳
ماشومتوب	۲٦
وروستۍ هوښکې	۲۸
غلی شوی بلبل	۳۲
هغه څوک چې نه مري	۳۴
اختر مبارکې	۳۷
د بنګال رقاصې ـ کمارې چتراته	۴۲
راشئ خپلې سندرې وبولو	۴۴
د ژوند وروستی پيغام	۴۷
د اباسين سپېدې	۵۱
ژيړې پاڼې	۵۴
مرور شپون	۵۸
قهرمان څه وويل؟	٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي قهرمان ٦۴

د پیړیو مساپر ٦٨

د تاریخ دریغ ٧٠

لارویه ! ٧٢

لامبوزن ٧۴

پټه مینه ٧٧

بوره ٨١

بزکشي ٨۵

فاحشه ٩١

د جومات مړی ٩٩

د کارخانې جشن ١١٠

دوه جوالیان ١١٧

خړ کی ماشین ١٢٩

د سین سرود ١۴١

نوی گردان ١۴۴

پښنیمان سرباز ١۵٢

د کوڅو سرگردان ١۵٩

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library